د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
تفسیر او حدیث د ماستري پروګرام

# دسورت الجمعة موضوعي تفسیر

( د ماستری دورې پایلیک )

محصل: محمد نقیب ( عابد )

لارښود استاد: دکتور نصر من الله ( [illegible] )

کال

د افغانستان اسلامی امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د علمی چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځۍ
د تفسیر اوحدیث دماستری پروګرام

# د سورة الجمعة موضوعی تفسیر

**(د ماسترۍ دورې پایلیک)**

**محصل : محمد نقیب"عابد"**
**لارښود استاد: دکتورنصرمن الله "مجاهد"**

**کال** 1402هـ ش

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د تفسیر و حدیث دیپارتمنټ

### د ماستری بورډ

# تــــصـــدیـــق نـــــامــــــه

ښاغلی **محمد نقیب** د **محمد جمیل** زوی د **SH-MST-s1400-775** :ID نمبر لرونکی، د تفسیر و حدیث د اوومي دوري محـصل د ماســتری مرحلـــی رساله چې عنوان یې: **د ســورة الجمعة موضوعی تفسیر**، د چهارشنبه ورځ په ۲۵ / ۱۱ /۱۴۰۲هـ ل نېټه یی په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزوني پر اساس د ۸۵ (نمرو په عدد) پنځه اتیا (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | استاد محمد نعیم جلیلی | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور محمد اسماعیل لبیب بلخی | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور نصرمن الله مجاهد | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماستری د بورډ آمر.......................... علمی مرستیال ..........................

## ډالۍ

- دسترګو یخوالی دزړه رڼا دقیامت ورځې شفاعت کوونکی، محمدرسول الله- صلی الله علیه وسلم- ته
- هغه چاته چې له ټولو څخه راته ګران دي، په ماشومتوب کې یې تربیه کړم او مشرتوب کې راته دعاګانې کوی، الله تعالی دې دهغوی عمرونه زیات کړی.
- د دنیا خوشحالی او ښایست خپلو ګرانو اولادونو ته
- خپل دعلم لارویانو او ملګرو او اسلام ته بلونکوته چې زمونږپه نشتوالی هم راته دعاکوی
- ټولوهغو کسانوته چې ماته یې خیر رسېدلی یایې ماسره مرسته کړې یایې لارښوونه کړی.

دغه جهد او کوښښ ورته ډالی کوم.

محمد نقیب"عابد"

## مننلیک

الله متعال فرمایلی: ﴿ وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ ﴾[1]

الحمد لله﴿ الذي أرسل رسوله بالهدى، ودين الحق ليظهره على الدين كله ولو كره المشركون﴾ والصلاة والسلام على خاتم الأنبياء والمرسلين، محمد بن عبد الله المبعوث رحمة للعالمين.

له هرڅه دمخه، لومړی له خپل سپېڅلي څښتن تعالی څخه مننه کوم چې ماته یې وروسته له انسانیت او داسلام دین منلو عزت اوشرافت راپه برخه کړ او توفیق یې راکړ ترڅو علمی ذکر کې د الله تبارک او تعالی پاک کلام د یوې برخې تفسیر او ترجمې د ( سورة الجمعة موضوعي تفسیر) په اړه یو څه ولیکم.

د یادولو وړ ده چې له خپل ګران مور او پلار څخه مننه وکړم چې په ماشومتوب کې یې زما په روزنه کې زیار ویستلی او د ژوند اسباب یې راته پوره کړل تر څو خپل تعلیم پای ته ورسوم.

د ګران او محترم لاربنود استاد نصرمن الله مجاهد څخه هم ډېر مننه کوم چې سره له ډېرو مصروفیتونو یې په ډېرې حوصله مندۍ ماته د دې موضوع دلیکلو په اړه با ارزښته مشورې راکړی او زما دا لیکنه یې په ځیرسره وکتله او د اشتباهاتو په اصلاح او سمولوکې یې راسره مرسته وکړه.

همدارنګه د سلام پوهنتون تدریسی او اداری غړو په ځانګړی توګه د ماستری بورد ګرانو استادانو او اداری کارکونکو څخه مننه کوم چې موږ ته یې د تعلیم زمینه برابره کړه او موږ یې د درس په ویلو هڅولو سره ونازولو.

همدارنګه د یادونې وړ ده چې د ماسترۍ بورد له اعضاؤو څخه ډېره مننه وکړم چې زما وړاندې شوې موضوع یې تائید او دلیکلو لپاره یې راته توصیه وکړه ترڅو خپله لیکنه د یادې شوې موضوع په اړه پیل او د لاربنونو په رڼا کې یې پای ته ورسوم، نو له الله تبارک او تعالی څخه یې د لیکلو توفیق غواړم.

[1]- سورة النمل/۱۹

# دبحث لنډيز

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وبعد:

دا ليکنه چې عنوان يې ***د سورة الجمعة موضوعی تفسير*** دی تمهيد سره پيل شوی چې په تمهيد کې د تفسير معنی، د موضوعی تفسير پيژندنه او د موضوعی تفسير کتبي بياني شويدي، د دې ليکنې څخه داسې ښکاره کيږي چې موضوعی تفسير که څه هم ځينو ورته نوی پيداشوی علم، يا په قرآن کې په نوي بڼې سره تفسير کول وايي خو د دې ډول تفسير بنسټ ډېر وختي ايښودل شوی وه، دا ډول تفسيرونه ډېر کټور دي ځکه د قرآن يوې برخې او موضوع په اړه ټول شته آيتونه، احاديث او معلومات را ټولول کيږي، د يادې شوې موضوع احکام، حکمتونه، ځانګړتياوې ، تاريخی پس منظر او پړاوونه يې ښکاره کيږي، نو په دې توګه لوستونکی کولای شی چې د څېړل شوې موضوع په اړه ګڼ شمېر معلومات او لاسته راوړنې ترلاسه کړي.

سورة الجمعة سورة الصف سره چې مخکې له جمعې څخه ذکر شوې اړيکه او مناسبت لري په دې توګه سورة الصف هم د الله تبارک او تعالی په تسبيح ويلو په ماضی الفاظو سره پيل شوي او سورة الجمعة د الله تبارک او تعالی په تسبيح ويلو په حال او مضارع الفاظو سره پيل شوی چې الله ته د تسبيح ويلو په دوام او استمرار باندې دلالت کوي، همدارنګ سورة الصف کې د اهل کتابو يادونه شوې وه چې د هغه وخت مسلمانان پرې غالبه شول او په سورة الجمعة کې هم د يهود او نصاراوو ذکر شوی چې د مسلمانان به ترې غوره او هغوی باندې په عمل کې غالبه کيږي، ځکه د هغوی مثال ورکړل شوی چې آسمانی کتاب باندې عمل نه کوی.

همدارنګه په دې ليکنه کې د سورة الجمعې د هر آيت مناسبت مخکيني سورة او د سورة الجمعې محور سره، لاسته راغلي احکام او حکمتونه يې بيان شوي، د رسول الله –صلى الله عليه وسلم- عظمت او د امی نبی امت غوره والی ښودل شوی ، په پای کې الله تبارک او تعالی خپلو بندګانو ته لارښوونه کړې چې روزی ورکونکی، ژوندی کونکی او مرګ ورکونکی يوازې الله تبارک او تعالی دی؛ نو د الله تعالی د احکامو اورېدلو په وخت ځانونه په نورو کارونو مه بوخت کوي او د الله تعالی د احکامو اورېدلو څخه وروسته خپلو کارونو پسې ورشی، ځکه څه چې د الله لخوا تاسو ته مقرره وی رسيږي نو الله مه هېروی.

کليدی ټکی: سورة الجمعة، تفسير، موضوعی ، سورة، آية ، يوم الجمعة، صلاة الجمعة.

## د موضوعاتو فهرست

مقدمه.......................................... ...................................... .........................................۱

تمهيد.............. ..................................... ..................................٦

لومړی مبحث

د موضوعی تفسیر پېژندنه

لومړی مطلب: د تفسیر پېژندنه...... ... ..................................................٦
دویم مطلب: دموضوعی پېژندنه....... ........ ..........................................٩
دریم مطلب: د موضوعی تفسیرپېژندنه.... ........................... ......................١٢
څلورم مطلب: د موضوعی تفسیر اهمیت او ډولونه یې ............... .....................١٦

دویم مبحث

دسورة الجمعة پېژندنه

لومړی مطلب: د سورة او آیت لغوی او اصطلاحی معنی ګانې..... ............................١٨
دویم مطلب: دسورة الجمعة نوم، وجه دتسمیه او د آیتونو تعداد یې.. ..........................٢١
دریم مطلب: د سورة الجمعة محل او زمانه د نزول یې......... ................................٢٤
څلورم مطلب: د سورة الجمعة د نزول سبب..... ............... ..............................٢٦
پنځم مطلب: د سورة الجمعة د محور اساسی او فرعی موضوعات......... ......................٢٨
أ- دسورة الجمعة اصلی او اساسی موضوعات.......... .........................................٣٠
ب-د سورة الجمعة فرعی موضوعات.......... ........................................................٣١

دریم مبحث

دسورة الجمعة مناسبت

لومړی مطلب: د مناسبت پېژندنه....... ........................... .........................٣٧
دویم مطلب: د سورة الجمعة نوم او موضوعاتو ترمنځ مناسبت... .............................٣٨
دریم مطلب: د سورة الجمعة پیل دسورة موضوعاتو سره مناسبت... ............................٣٩
څلورم مطلب: د سورة الجمعة پیل د سورة الصف خاتمې سره مناسبت.......... .................٤٠
پنځم مطلب: د سورة الجمعة او سورة الصف مضامینو ترمنځ مناسبت......... ....................٤٢
شپږم مطلب: د سورة الجمعة او سورة المنافقون ترمنځ مناسبت......... ...........................٤٨
لومړی اړخ: د سورة پیل....... ............... ....................................................٤٨
دویم اړخ: د سورة الجمعة خاتمه او سورة المنافقون پیل.... ....................................٤٩
دریم اړخ: د سورتونو ترمنځ مشترکه موضوع ګانې.......... ........................................٤٩

څلورم مبحث

د سورة الجمعة فضیلت، په اړه یې نورقرائتونه او ځانګړتیاوې یې

لومړی مطلب: د سورة الجمعة فضیلت........ ............ ...............۶۰
دویم مطلب: د سورة الجمعة په اړه نور قرائتونه.... ..................................۶۱
دریم مطلب: د سورة الجمعة ځانګړ تیاوې او اوصاف یې...... ..........................۶۲
لومړی برخه: د سورة الجمعة ځانګړ تیاوې.......... ..................................۶۲
دویمه برخه: د سورة الجمعة اوصاف....... ........ ....................................۶۶

لومړی مقطع

لومړی(۱) آیت، دکائناتو تسبیح ویل

لومړی: د آیت ترجمه.....................................................................۶۸
دویم:  د آیت مناسبت ماقبل او د سورة الجمعة محور او اساسی موضوع سره...........................۶۸
دریم : اجمالی تفسیر...... .......... ........................................... ..........۶۹
څلورم : د الفاظو څېړنه.... ............ ..................................................۷۰
پنځم: د مقطع مهم نکات.. ........... ........................................................۷۱
شپږم: د آیت څخه لاسته راغلی احکام او فواید.....................................۷۳

دویمه مقطع

د(۲-۴) آیت او د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- دبعثت حکمتونه

لومړی :- د آیتونو ترجمه............ .................................. ...................۷۴
دویم: دآیت مناسبت ماقبل او مابعد او د سورة محور سره...... ......................................۷۴
دریم : د آیتونو اجمالی تفسیر....... ........................... ............................۷۵
څلورم: د الفاظو څېړنه.............. ......................... ..................................۷۷
پنځم: د مقطع مهم نکات........... ............................. ..............................۸۶
شپږم: د آیتونو څخه لاسته راغلی احکام او فواید... ....... ............................۹۲

دریمه مقطع

د(۵ تر ۸) آیت، دبی عمله علماوو مذمت

لومړی : دآیتونو ژباړه.......... ......................................... ......................۹۵
دویم: د آیتونو مناسبت ماقبل او مابعد او د سورة محور سره.. ............ .............................۹۵
دریم: اجمالی تفسیر................. .. ...................................................................۹۶
څلورم: د الفاظو څېړنه........... .......... ..................... ..............................۱۰۱
پنځم: د مقطع مهم نکات.................. ................................ ............................۱۰۷

شپږم: د آیتونو اړوند احکام او فواید....... ....................................................... ۱۰۸

## څلورم مقطع
## د(۹ -۱۱) آیت، د جمعې لمونځ آداب او احکام

لومړی : د آیتونو ژباړه......... ........................... ............................................ ۱۱۲
دویم: د آیتونو مناسبت ماقبل او مابعد او د سورة محور سره.............. .............................................. ۱۱۲
دریم : د آیتونو اجمالی تفسیر........... ............................. ........................................................ ۱۱۵
څلورم: د الفاظو څېړنه................... ............................ ....................................................... ۱۱۵
پنځم: د مقطع مهم نکات.................... ............................ ................................................. ۱۲۰
شپږم: د مقطع اړوند احکام او فواید.............. ............................ ............................................ ۱۲۴
لومړی برخه: د جمعې ورځې احکام.......... ........................................................................... ۱۲۴
دویمه برخه: دجمعې ورځې پخوانی نوم، دکائناتو په تخلیق کې د جمعې ورځې عظمت، د جمعې ورځې ځانګړتیا او د رسول صلی الله علیه وسلم د امت فضیلت..... ................... ................................................ ۱۲۹
دریمه برخه: انسانه د غفلت له خوبه ویښ شه...... .......................................................... ۱۳۲
څلورمه برخه: جنت څخه د آدم علیه السلام را ښکته کېدو حکمت.... ............................... ۱۳۴
پایلی او لاسته راوړنې.............................................................................................................. ۱۳۵
د آیتونو لړ لیک ................ ......................................................................................................... ۱۳۸
د احادیثو لړ لیک...... ............... ..................................................................................... ۱۴۲
د اعلامو لړلیک........ ............ ............................... ................................................................ ۱۴۳
د مراجعو او مصادرو لړلیک. ........................... ................................ ........ ................................... ۱۴۴

## مقدمه

الحمد لله الذي أرسل رسوله بالهدى، ودين الحق ليظهره على الدين كله ولو كره الكافرون، ونزّل عليه القرآن شريعة محكمة، ليُخرج النّاس من الظلمات إلى النور، بإذن ربهم إلى صراط العزيز الحميد.

والصلاة والسلام على خاتم الأنبياء والمرسلين، محمد بن عبد الله المبعوث رحمة للعالمين، الهادي البشير، سيدالأولين والآخرين، وصّلى الله على آله وصحابته الأكرمين، الذين حملوا هذا الإسلام عاليًا، ونشروه في كل مكان، وصل اللّهم على من تبعهم، وسار على نهجهم بإحسان إلى يوم الدين؛ أما بعد:

په دې کې شک نشته چې د قرآن او تفسير علم پرتپولو علومو لوړ دئ ځکه چې دا د الهی کلام علم او تفسير دئ، ځکه د دې علم په واسطه د الله تبارک او تعالی د کلام معنا او مفهوم باندې پوهېږو،لکه څنګه چې الله متعال په خپل کلام قرآن عظيم الشأن کې د تفکر او تدبر امر کړئ، الله متعال فرمايي: ﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا﴾[1] نو هغه به غوره او مناسب وخت وي چې د قرآن په تدبر او تفکر کې يا د هغه په تفسير او ترجمه کې تېر شي او هغه به ډېر خوندور عمر وي چې د قرآن په علم کې مصرف شی، نو په دې ليکنه او څېړنه کې غواړو چې د سورة الجمعة موضوعی تفسير سر بېره ځينې مقدماتي معلومات د موضوعي تفسير په اړه هم وليکو، نو له الله څخه د دې موضوع ليکلو په اړه توفيق غواړم.

### دموضوع پېژندنه:

دابحث چې د سورة الجمعة تفسير په موضوعی بڼه دئ معاصرو علماؤو له مخکنی علماؤو څخه ډېره پاملرنه ورته کړې، که څه هم چې د دويمې پېړۍ څخه وروسته دې ډول ليکنو ته پاملرنه شوې وه ځکه چې د قرآن احکامو آيتونو ته يې پاملرنه کړې وه، او د قرآن يوه برخه چې يوائې د احکامو آيتونو ټولول او تفسيرول دي يو ډول موضوعی تفسير ګڼل کېږی چې په دوهمې هجري پېړۍ کې را ټول او تفسير شول ، خو سره له هغه په اوسني عصر کې لکه څرنګه چې علم ترقی موندلې علماء غواړي چې د قرآن ټولو موضوعاتو په اړه ليکنه وکړي چې د اکثريته موضوعاتو په اړه يې ليکنې کړي او خپلې څېړنې يې

---

[1]- سورة محمد/۲۴.

د قرآن آیتونو سره ارزښتناکه کړي، نو دا زما لیکنه هم یوه نوې څېړنه ده چې د قرآن یو سورت په اړه لیکل کېږي.

**د موضوع ستونزې:**

لیکنې لپاره که څومره مادي اسباب او وسایل برابر او مهیا وی خو بیا هم د دې لپاره چې لیکنه ګټوره او علمی اصولو سره سم ولیکل شی نو خپلې ستونزې لري، ځکه یو خوا لیکونکی غواړي چې خپله لیکنه شرعی او علمی د لیکنې اصولو او قواعدو سره برابره کړي او بل خواته غواړي چې لیکنه یې د لوستلو وړ وګرځي او لوستونکی پیدا کړي ترڅو لیکنه یې بې نتیجې نه وي، همدارنګه که دلیکنې عنوان څومره ساده ښکاره شي خو لیکونکی باید داسې یوه موضوع ځانته وټاکي چې پرې لیکنې شوې نه وي، نو زمونږ په ټولنه کې د دې لیکنې په اړه لاندې ستونزې شته چې د سوالو نو په توګه ترې یادونه کوو:

- د قرآن او سنتو په رڼاکې د سورة الجمعه په اړه موضوعي تفسیر چې د صحابه کرامو-رضی الله عنهم- او تابعینو –رحمهم الله- په دور کې کومه بیلګه ترې نه لرو لیکنه جوازلری او که نه؟
- د قرآن څخه مختلف او متعدد آیتونه را ټولول او یوې موضوع لپاره چې په سورة الجمعه کې ذکر شوی ترې استدلال کول دا ستونزه منځ ته راولي چې آیا دا ټول آیتونه په همدې یوې موضوع دلالت کوي او که دالله متعال مراد او مقصد ترې بل شی دي نو دې پوښتنې ته ځواب ورکول د لیکنې بله ستونزه ګڼل کېږي؟
- د قرآنی آیتونو مجمل متشابه او محکم آیتونو حکم د یوې موضوع په اړه را ټولول او له هغه آیتونو څخه په سورة الجمعة کې ذکر شوی حکم او د الله تبارک او تعالی مراد او مقصد بیانول د دې لیکنې بله ستونزه بلل کېږي، چې په دې لیکنه کې ورسره مخامخ کېږو؟

**د موضوع اهمیت:**

د دې موضوع اهمیت د قرآن کریم تفسیر او ترجمې اهمیت ته اړه لری، چې په لاندې ټکوکې روښانه کیږی:

1- لکه څنګه چې د قرآن کریم په تعریف کې ویل شوي چې انسان ته په تلاوت کولو یې اجر او پاداش ورکول کېږي، نو همدارنګه د سورة الجمعة موضوع تفسیر او ترجمه کول له اجر او پاداشه خالی نه ده چې دا اجر او پاداش د دې موضوع اهمیت ډېروي.

2- که څه هم د علم ډګر پراخ شوی او اکثریته موضوع ګانو باندې لیکنې شوي خو بیاهم په سورة الجمعة کې ذکر شوې موضوع په اړه ټول قرآني آیتونه راټولول دا په علمی ډګر کې یو نوښت او ابتکار دی چې یادې موضوع ته د اړتیا په صورت کې مونږ کولای شو چې ټول آیتونه په یو ځائ کې لاسته راوړو چې دا خبره د دې لیکنې پر اهمیت دلالت کوي.

3- په موضوعی تفسیر کې لکه څنګه چې په تعریف کې یې هم وویل شول چې د الله متعال هدف او مقصد د انسانی سعیې سره بیان کېږي، نو له دې وجهې چې په دې لیکنه کې دالله تبارک او تعالی مقصد او هدف د سورة الجمعة آیتونو په اړه بیانېږي دا موضوع د اهمیت خاوند ده.

4- لکه څنګه چې د جمعې لمونځ د مسلمانانو یو دینی شعائر او بې وزلو لپاره عمره بلل کېږي؛ نو د سورة الجمعه په اړه موضوعی تفسیر اهمیت لرونکی ګڼل کېږي.

**دموضوع د اختیارلاملونه:**

د دې موضوع داختیار لاملونه په لاندې کرښوکې ښکاره کېږی:

1- د دې موضوع د اختیارلامل یو دادی چې، د لوړو زده کړو وزارت له اصولو سره سم هر محصل باید تحصیلی دورې پای ته رسولو لپاره یوه موضوع انتخاب او مجلس ته یې وړاندې کړي نو ما د دې اصولو پوره کولو لپاره یاد شوی عنوان وړاندې کړ چې د بورد د غړو له خوا تائید اوما ته د لیکلو اجازه راکړل شوه چې اوس مې پرې لیکل پیل کړي دي.

2- د دې موضوع د انتخاب بل لامل دا دی چې، ځینې د جمعې لمانځه ته ځانګړې پاملرنه نه کوي ، حال داچې د جمعې ورځې او د جمعې لمانځه ځانګړي احکام شته چې ځینې ترې معلومات نه لري نو ومې غوښتل چې په دې موضوع لیکنه پیل کړم، ترڅو لوستونکی د قرآنی آیتونو په رڼاکې د جمعې ورځې ارزښت ، سورة الجمعة کې نغښتې موضوعات او فضایلو څخه خبرشی.

**موضوع په اړه مخکنۍ لیکنې:**

که تفاسیروته ځیر شو اکثره عمومي تفاسیر د قرآن ترتیب سره سم لیکل شوي دي، ځینې نور علماوو د قرآن مفردات ذکر کړي او ځینې یې بیا د احکام آیتونه را ټول کړي همدارنګه ځینې نورو بیا د قرآن موضوعی تفسیر په اړه لیکنې کړي ، خو په ځانګړي توګه یواځې د سورة الجمعة په اړه کوم تفسیر نه دی لیکل شوی چې مونږ به ان شاء الله پرې لیکنه وکړو، نو دیادونې وړه ده چې موضوعي تفسیر په اړه لاندې لیکنې شوي چې په لنډه توګه ترې یادونه کوو:

- **التفسیر الموضوعی المفهوم والمنهج،** الطبعة الاولی(۱۴۴۱هـ) ، چې د(مرکز المعارف للمناهج والمتون التعلیمیة)غړو په ګډه سره لیکلی.
- **سورة الجمعة دراسة تحلیلیة موضوعیة،** چې د عبدالله محمد یحی غیلان لخوا د ماستری دورې پایلیک په توګه لیکل شوی مختصر دی او د ذکر کړو احادیثو تخریج یې هم کړي نه دی.
- **التفسیر الموضوعی لسور القرآن،** الطبعة الاولی(۱۴۳۱هـ)، کلیة الدراسات العلیا والبحث العلمی، جامعة الشارقة – الامارات العربیة المتحدة، د تفسیر علومو استادانو یوه ډلې لیکنه.
- **التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون و التغابن**(رسالة مقدمة لنیل درجة الماجستیر)، العام (۱۴۳۳هـ ـ۲۰۱۲م)، جامعة ام القری- المملکة العربیة السعودیة د عبدالله محمد احمد رشاد.

او داسې نور لیکنې شته چې د بحث په جریان کې ان شاء الله ترې یادونه کیږی، نو ویلی شو چې درې لومړني کتابونه لکه څنګه چې له نوم څخه یې ښکاري په عامه توګه د قرآن تفسیر او ترجمه یې کړې، دوهمه موضوع که څه هم ځما لیکنو ته ورته والی لری خو د آیتونو څخه لاسته راغلی احکام او فواید یې ذکر کړي نه دي، په دریم کې چې د قرآن سورتونو موضوعی تفسیر دی لاسته راغلی احکام یې ذکر کړي نه دي او په څلورم تفسیر کې د قرآن درې یاد شوي سورتونو ترمنځ یې اړیکه او د موضوعاتو مشترکات بیان کړي، چې زمونږ موضوع دې ټولو سره توپیر لري او یاد شوي نیمګړتیاوې به پوره کړي.

**د موضوع دلیکلوتګلاره:**

دا بحث لکه څنګه چې له عنوان څخه یې ښکاري دموضوعی تفسیر په بڼه یوه تحقیقی( تحلیلی ،وصفی او استقرائی ) لیکنه ده؛ په دې توګه چې د قرآن څخه یو سورت انتخاب شوی، د هغه په اړه اسباب نزول، د نازلېدو موخې او ځاي يې ، همدارنګه د سورة مضامین چې آیتونو کې ترې یادونه شوې ذکر کېږي او همدارنګه په یاد شوي سورة کې چې کوم فقهی احکام شته څرګنده او دلایلو سره له مختلفو تفاسیرو څخه اخیستل او تفسیر یې لیکل شوی او ترجمه یې له القرآن الکریم و تفسیر و ترجمة معانیه الی للغة البشتو چې عربستان کې لیکل ا وچاپ شوی اخیستل کېږي، مآخذ په لومړي ځل په کامله توګه لیکل شوي بیا مختصر ورته اشاره شوې، له لیکلو ورسته نتیجه، توصیې، د آیتونو، احادیثو او مآخذو فهرست په ترتیب سره لیکل شوی.

**د موضوع خطه:**

دا موضوع په لومړي قدم کې په دوه برخو ویشل کېږی چې لومړی برخه یې د موضوعی تفسیر پېژندنه، د سورت معرفی، دسورة جمعې سبب نزول، وجه تسمیه او فضیلت یې دی؛ او دویمه برخه یې چې په څلورو مقاطعو تقسیم شوې د سورة جمعې آیتونه په څلورو برخو کې ویشل او لیکل شوې، په پای کې ان شاء الله پایلې او لاسته راوړنې، توصیې او فهرستونه به ذکر شي.

## دسورة الجمعة موضوعی تفسیر

### لومړي برخه: مقدماتی او ضروری موضوعات

لکه څنګه چې د موضوع له عنوان څخه ښکاري دا موضوع سربېره له دې چې د سورة الجمعة آیتونه پکښې تفسیر او ترجمه کېږي ځینې مقدماتی معلوماتو او تعریفونوته هم اړتیا لري نو په دې لیکنه کښې محکې له دې چې د سورة الجمعة آیتونو په اړه په څلورو مقاطعو کښې څېړل او تحقیق پیل کړو، د تفسیر پېژندنه او د موضوعی تفسیر په اړه ځینې معلومات چې ځما د موضوع سره تړاو لری لیکم، همدارنګه د یاد شوي سورة تفسیر او ترجمې په اړه اړینې خبرې او علمی لاسته راوړنې په لاندې مباحثو کښې لیکل کېږی.

### لومړی مبحث

### د موضوعی تفسیر پېژندنه

دا مبحث به په څلورو مطالبو وویشو چې په لومړي مطلب کې د تفسیر لغوی او اصطلاحی معنې څېړو، په دویم مطلب کې موضوع څېړو، په دریم مطلب کې د موضوعی تفسیر په اړه معلومات راټولوو او په څلورم مطلب کې به د موضوعی تفسیر اهمیت تر څېړنې لاندې ونیسو.

**لومړی مطلب : د تفسیر پژندنه**

**أ- تفسیر په لغت کې**

تفسیر د تفعیل په وزن سره له فسر څخه مشتق دی چې د ښکاره کول، بیلول، وضاحت، د پټې موضوع ښکاره کول او د معقولې معنې ظاهرولو په معنې راځي[1].

تفسیر د الله متعال په وینا کې یو ځل په قرآن عظیم الشأن کې راغلی، لکه څنګه چې فرمایي: ﴿وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴾[2]

---

[1] - الاصفهانی ؛ الحسین بن محمد الراغب، **المفردات في غريب القرآن** ، ص۶۳۶تحقیق : محمد سید کیلانی، بیروت دار المعرفة.

[2]-سورة الفرقان/۳۳.

ژباړه: او(په دې کې دا مصلحت هم دي) چې کله هغوی تاته کومه بې سابقې خبره( یا حیرانونکې پوښتنه) راوړي، د هغې سم ځواب مونږ په خپل وخت تا ته درکړ او په ډېر ښه ډول سره مو خبره روښانه کړه.

یعني خبره مو بیانه او حقیقت مو کشف او روښانه کړ.[1]

دلغت کتابونو له مراجعې څخه وروسته دې نتیجې ته رسېږو چې «فسر» د پېچلو عباراتو کشف او د معنا ګانو او الفاظو توضیح کول دي، نو تفسیر د تفعیل په وزن د مبالغې معنا لرلو سره د الفاظو معنا ښکاره کول او د پټو حقایقو کشفول دي.[2]

په بل ځای کې داسې پېژندل شوی: **مبالغة الفسر وهو الكشف والإظهار فيراد به كشف لا شبهة فيه وهوالقطع بالمراد ولهذا يحرم التفسير بالرأي.**

ژباړه: په تفسیر او ښکاره کولو کې مبالغه کول ، چې مراد ترې د هغه شي ښکاره کول دي چې شبهه پکې نه وي او په قطعي توګه بیان شي نو له همدې کبله تفسیر بالرای جواز نه لري.[3]

## ب- تفسیرپه اصطلاح

که هغه تعریفونو ته چې علماوو خپل کتابونو کې تفسیر لپاره کړي وکتل شي داسې ښکاری چې د تفسیر لغوی او اصطلاحی معنا ترمنځ کوم خاص توپیر نشته او دواړو معنی ګانو ترمنځ نږدېوالی شته، د ټولو تعریفونو مضمون او هدف د توضیح، بیانول، اظهاروروسته له خفا څخه او کشف باندې څرخېږی، چې مونږ به له ډېرو تعریفونو څخه په یو څو اکتفا کوو:

- "**والتفسير كشف المراد عن اللفظ المشكل**[4]" یعنی د مشکل لفظ څخه د مراد معنې را ښکاره کول دي ،چې دا د مطلق تفسیرتعریف ښکاري.[5]

---

[1] - احمدالسيد الكومى، و محمد احمد يوسف القاسم، **التفسيرالموضوعى للقرآن الكريم**، ص۶،الطبعة الاولى(۱۴۰۲هـ ق ـ۱۹۸۲م)، القاهرة.

[2] - ابن منظور؛ الإمام محمد بن مكرم بن على بن أحمد الأنصارى بن محمد بن منظور، (ت:711هـ)، **لسان العرب**، ج۷، ص۲۱، الطبعة الثالثة(1993م)، مؤسسة التاريخ العربى، دارإحياء التراث العربى.

[3] ـ نكري ؛القاضي عبد رب النبي بن عبد رب الرسول الأحمد ، دستور العلماء أو جامع العلوم في اصطلاحات الفنون ،ج۱،ص۲۲۴،تحقيق : عرب عباراته الفارسية: حسن هاني فحص، الطبعة : الأولى (1421 هـ - 2000 م)، الناشر : دار الكتب العلمية - بيروت - لبنان

[4] ـ لسان العرب، مادة (فسر)،ج۵،ص۵۵.

[5] - **التفسير الموضوعى للقرآن الكريم،ص۵.**

- د قرآنی آیتونو معنا ګانو بیان ، د مقاصدو او دلالتونو کشف او ښکاره کول دي[1]،
- **"توضیح معنی الآیة وشأنها و قصتها والسبب الذی نزلت فیه بلفظ یدل علیه دلالته ظاهرة"**[2]

ژباړه: د آیت معنی او کیفیت یې واضحه کول ، قصه او سبب النزول یې داسې لفظ سره بیانول چې په ظاهره توګه پرې دلالت وکړي.

- دیوه لفظ څخه متبادره او څرګنده معنی اراده کول دتفسیر په نامه یادیږی[3] .

د تفسیر اصطلاحی معنا ګانو باندې د اختلاف علتونه په دوه لاندې توجیهاتو کې خلاصه کیږي:

لومړي توجیه : ځینې په دې نظر دي چې تفسیر د هغه علومو او معارفو مجموعه ده چې اصلی محور یې قرآن عظیم الشأن دی، پرته له دې چې د دې علومو او وسایلو ترمنځ کوم توپیر ومنی، لکه د لغت کتابونه، صرف او نحو، علوم القرآن، یا دا چې قرآن سره کومه بله اړیکه ولری لکه د قرائت او تجوید علم.

نو پورتنی توجیه ته په کتو سره تفسیر داسې تعریف شوی« تفسیر داسې یو علم دی چې د قرآن الفاظو او دمدلولاتو ویلو کیفیت ، مفرد او ترکیبی احکام او د ترکیب په حالت کې کومې معناوې لری او د دې کلماتو ترکیب څخه بحث کوی»[4]

همدارنګه ویل شوی چې: « داسی یوعلم دی چې دا آسمانی کتاب چې د الله تبارک او تعالی لوی ذات لخوا خپل آستول شوی پیغمبر محمد-صلی الله علیه وسلم- باندې نازل شوی پوهه یې مونږ ته را

---

[1] ـ المناوی؛ محمد عبدالرؤوف (ت:۱۰۳۱هـ)،**التوقیف علی مهمات التعاریف**، ص۱۹۲، الطبعة الاولی(۱۴۱۰هـ)، الناشر:دارالفکر المعاصر، ودارالفکر، بیروت-دمشق.

[2] ـ الجرجانی، التعریفات، ص۸۷.

[3] ـ الدمشقی؛ ابی حفص عمر بن علی ابن عادل الدمشقی الحنبلی، **اللباب فی علوم الکتاب** ، ج۱،ص۲۴ ، تحقیق: عادل أحمد عبدالموجود، وعلی محمد معوض، الطبعة الاولی(۱۴۱۶هـ ـ۱۹۹۸م)، الناشر: دارالکتب العلمیة- بیروت.- السیوطی، جلال الدین عبدالرحمن السیوطی(ت: ۹۱۱هـ) ، **الاتقان فی علوم القرآن** ،ج۲،ص۱۷۳، تحقیق: سعید المندوب، الطبعة الاولی، دارالفکر- لبنان. البغوی(ت:۵۱۶هـ)، **تفسیر اللبغوی**، ،ج۱،ص۷،تحقیق: خالد عبدالرحمن العک، الناشر: دارالمعرفة- بیروت.

[4] ـ الأندلسی؛ أبوحیان محمد بن یوسف، تفسیر **البحرالمحیط**، ج۱، ص۱۲۱، تحقیق: الشیخ عادل أحمد عبدالموجود، الشیخ علی محمد معوض، شارک فی التحقیق: زکریا عبدالمجید النوقی، أحمد النجولی الجمل، الطبعة الاولی(۱۴۲۲هـ ـ۲۰۰۱م)، دارالکتب العلمیة، بیروت- لبنان.

پېژني، معناګانې يې بيانوي، حکم او احکام يې استخراجوی، له علم لغت، نحو، صرف، بيان، اصول فقه، قرائت، څخه مرسته او ګټه اخلی، د اسباب نزول ناسخ او منسوخ علم پېژندلو ته اړتيا لري[1]»

دويمه توجيه: تفسيرته دنهايي مقصد له خوا ګوري، چې د قرآنی آيتونو څخه دالله مراد او مقصد دي.

په دې ډول کې د تفسير اصلی حقيقت ته توجه شوې چې دکشف او ښکاره کولو چاره ده پرته له دې چې کوم منهج او علم ته پاملرنه وشي، نو دلته د تفسير لغوی معني څخه کار اخيستل شوی چې د معني کشف او ښکاره کول دي، خو دا کشف مقيد دي د الله متعال مراد او مقصد ته د انسانی جهد او کوشش سره.

نو دويمې توجيه ته په کتو سره تفسير داسې تعريفولی شو: تفسير داسې علم دي چې په قرآن کريم کې د الله متعال مراد د بشري وسې او طاقت له موخې څېړل کېږی[2].

نو پورتني تعريف ته په کتو سره ګولای شو چې موضوعی تفسير ته يو ډول تفسير و وايو، ځکه مخکېنۍ ضابطه چې د انسان وسه او کوشش دی پکښې شتون لري.

خو سره له دې هغه علوم چې محور يې قرآن وی خو د الله تبارک او تعالی احکامو بيان پکې مقصد نه وی څېړل شوی که څه هم نورو علومو څخه يې ګټه اخيستې وي ناسخ او منسوخ يې بيان کړي وی پورتنۍ ضابطه پکښې نه تطبيقېږي نو له دې کبله ورته تفسير نه شو ويلاي او علوم القرآن بلل کېږی.

**دويم مطلب: د موضوعی پېژندنه**

مخکې له دې چې د موضوعی معنی په لغت او اصطلاح کې بيان کړو غواړم چې موضوعی کلمی باندې لږ معلومات وړاندې کړم، ځکه دا لفظ په ډېرو ځايونو کې لکه احاديثو برخه کې ، قوانينو کې او حتی غربی نکرېې کې کارول کېږي، نو موضوعی يوه فلسفی مفکوره ده چې په مختلفو او متعددو معنې ګانو دلالت کوی چې په غربی فلسفی مفکورو کې رامنځ ته شوې او ډېر غموض(پيچلې) ده او

[1] - الزركشي؛ محمد بن عبدالله، **البرهان فی علوم القرآن**، ج١، ص١٣، تحقيق: محمد أبوالفضل ابراهيم، الطبعة الاولى(١٣٧٦هـ ـ ١٩٥٧م) داراحياء الكتب العربية- عيسى البابى الحلبى وشركاه.

[2] - الزرقانی؛ محمد عبدالعظيم، **مناهل العرفان فی علوم القرآن** ،ج٢، ص٣، مطبعة عيسى البابى الحلبى وشركاه(١٣٢٦هـ) ، قاهره ـ مصر.

په معنې کې يې لوستونکو ترمنځ ستونزې رامنځ ته کړي، خو په نوي عصرونو کې عربی او اسلامی نړۍ ته په مختلفو برخو کې خپره شوې چې د مخکښني مفسرينو ترمنځ تر شلم قرنه پورې هم د(الموضوعية) په نامه د تفسير په علم کې کوم ځانګړی منهج او تعريف نه پېژندل کېده، خو له يادې شوې زمانې څخه وروسته دقرآن په علوموکې رامنځ ته شو او ډېرې نوې اصطلاح ګانې يې ځان سره رامنځ ته او معنې کړې چې د علم التفسير له نوی لاسته راوړنو څخه ګڼل کېږي[1]، د موضوع د پېژندلو لپاره که دهغه ضد ته وګورو نو ضد يې ذاتی بلل کېږي په دې توګه ځينې په دې فکر دي چې موضوعی هغه څه دي چې مونږ يې ديوې قضيې په اړه خپلو ذهنو نو کې منځ ته راوړو، حال داچې بيا ځينې نور د دې خبرې مخالفه خبره کوی او وايی چې موضوعی هغه څه دي ديو شته او حقيقی موجود په دايره کې چې کوم نظريات او ويناوې منځ ته راشي موضوعی ګڼل کېږي[2]، نو د الموضوعی د ښه پېژندلو لپاره لومړۍ يې په لغت کې او وروسته به يې د مفسرينو په نزد وڅېړو.

## أ- موضوع په لغت کې

موضوع اصل کې له وضع څخه اخيستل شوی او له (الحط) کيښودلو څخه عام دی او ډېر استعمالېږي، همدارنګه موضع هم ورته ويل شوي، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمايلی: ﴿ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ ﴾[3]

ژباړه: خبرې له خپل ځای څخه تحريفوی.

همدارنګه الله تبارک اوتعالی فرمايلی: ﴿وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ﴾[4]

ژباړه: او ځمکه مو د آرامتيا لپاره ايښودلې.

نو دغه وضع او ايښودل عبارت له نوی ايجادول او خلق کولو څخه دی، همدارنګه په معنی د وضع د حمل هم راځی، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمايلی: ﴿ فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنثَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ ﴾[1]

---

[1] - رشوانی، سامر عبدالرحمن، **منهج التفسير الموضوعی للقرآن الكريم( دراسة نقدية)**، ص۲۷، الطبعة الاولى(۱۴۳۰هـ - ۲۰۰۹م)، دارالملتقى، طلعة الانشاءات، حلب- سورية.

[2] -معن زيادة، رئيس التحرير، **الموسوعة الفلسفية العربية**، مادة( الموضوعية) ج۲، ص۱۳۰۰، معهد الانماء العربى- بيروت.

[3] -سورة النساء/۴۶.

[4] -سورة الرحمن/10.

نو په دې صورت کې وضع په معنی د یوشی ګرځول په یو ځای کې او هغه تثبیتول دي، برابره خبره ده چې دا وضع په معنی د القا وی او که په معنی د ایښودلو[2]، نو په موضوعی تفسیر کې دغه د تثبیت معنی مراد ده، ځکه مفسر د هر آیت معنی خپل ځای کې کومې موضع په اړه چې بحث کوي ثابتوی.

وضع : ښکته والی ته هم ویل کیږی چې ضد یې پورته والی دی [3]. برابره خبره ده که دا وضع په معنی د ښکته والی او یا په معنی د یوځای والی او د ثابت والی وی په یو ځای کې ، نو په دی صورت کې وضع دوو ډولونو ته تقسمیږی .

**لومړی :** حسي او مادي وضع ، چی ځینې له دې څخه په ځمکه کې د ایښودلو معنې اخلي، په دې معنی چې په ځمکه باندی ښکته ، یوځای او ثابت دی.

**دویم :** معنوی وضع ، په ځینې ځایونوکې د الوضیع په لفظ سره راځی چی د خوار او ذلیل په معنی دی ،لکه چې د چا په اړه وویل شي: وضیع النسب، یعنی پریوتی نسب څښتن دی ، یا په دې معنې چې نوموړی انسان قدر او منزلت یې له منځ ه تللی او ټیټ دی [4] ،او ویل شوي دي چې : (وضعت الإبل وضیعة) : یعني أوښانو هغه شوره ګیاه چې د أوبو پر غاړه وه وئ خوړله ځکه له نورو ګیاهونو څخه نه جدا کیدله ، ځینې معاصر علماوو د وضع همدا پورته یاده شوې معنې چې ټیټېدل او لازم ګرځېدل دي منلې او دهمدې معنې ګانو پر بنسټ یې لیکنې کړي او وایې چې : موضوع په معنی د هسې یو شی سره ده چې معین صفت ولری او دیو معین مکان سره لازم وی چی بلی خواته نه ګرځی[5]، همدارنګه (الموضوع) کلمه په بلې معنی سره د أوښ په صفت کښی کارول شویده ؛ ویل کیدلی

---

[1] - سورۀ آل عمران/36.

[2] - مفردات الفاظ القرآن،ج۲،ص۵۲۰.

[3] - الاصفهانی ، الراغب الحسین بن محمد الاصفهانی، **المفردات في غریب القرآن** ، ص ۵۲۵، تحقیق : محمد سید کیلانی، بیروت دار المعرفة،.

[4] -الزبیدی؛ السید محمد مرتضی الحسینی، **تاج العروس** ،ج۲۲،ص۳۴۱-۳۳۵، تحقیق: علی شیری، دارالفکر للطباعة والنشر والتوزیع (۱۴۱۴هـ) ، بیروت- لبنان.

[5] - لومړی شخص چې دې معنې ته اشاره کړېده هغه عبد الستارفتح الله سعید دی، **المدخل الی التفسیر الموضوعی** ،ص۲۲،الطبعة الاولی (۱۴۲۸ ه ) ، الناشر: دارالتوزیع والنشر الاسلامیة- القاهرة اود دی تابعداری کړیده : دکتور مصطفی مسلم په خپل کتاب کښی (**مباحث فی التفسیر الموضوعی** )،ص ۱۵، الطبعة الاولی( ۱۴۳۰ ه ) الناشر: دارالقلم - دمشق ، په هغه پسی تابعداری کړیده : د کتور صلاح الخالدی په خپل کتاب کښی : (**التفسیر الموضوعی بین النظریة والتطبیق** ) ،ص۳۳، الطبعة الاولی(۱۴۲۸هـ) ، الناشر دارالنفائس-الأردن .

شی (حسن الموضوع ) کله چې د أوبش تک تیز أو نرم وی او ځان پورته پورته نکړي[1]، نو اصل د(الموضوع) په لفظ کښی دا شوه چی دا لفظ صفت د أوبش دی ، بیا په خبرو ویلو کې په مستعار توګه کارول شوی لکه څنګه چې ویل شوي چی: ما دکلام په موضوع کې په قراره او نرمی سره خبرې وکړې[2] .

نو یو کلام او دیوې ځانګړې قضیې په اړه خبرې د سهولت او پرلپسې والي له کبله په موضوع سره موصوفېږي، په دې توګه موضوع لپاره وسیعه معنې ورکړل شوه چې موضوع باندې لیکونکی او ویونکی خپله موضوع بنا او پیلوي، نو د موضوع معنې هغه څه شوه چې د یو مضمون په محتوی او نچوړ باندې دلالت کوي[3].

## ب-د موضوع اصطلاحي معنې

موضوعی په اصطلاح کې عبارت دي له هغه څېډل شوې موضوع او قضیې څخه چې دعلم په واسطه ذاتی خواوې یې ښکاره شوي[4].

همدارنګه (موضوع) داسې یو وصف دی چې د قرأنکریم موضوعاتو سره تړاو لري، نو موضوع یو نسبت دی د قرآن تفسیر لپاره په دې توګه چې له نورو عامو ډولونو تفسیرونو څخه یې متمایزه او جلاکوي ، نو موضوع د قرآن یوه مهمه او مشخصه قضیه ده چې د قرآن په یو یا څو آیتونوکې، د قرآن په یو یا څو سورتونوکې ترې یادونه شوې، د یوې قرآنې مشخصې او محدودې موضوع تاکل داسې یو منهج ته اړتیا لري چې د وحې مفهوم په نصوصو کې وپېژندل شي او پر هغه د نظر ورکولو لاره د موضوع پوهېدلو لپاره برابره شي[5].

---

[1] - **لسان العرب** ،ج۶،ص ۴۸۵۹.
ابن فارس؛ ابی الحسن أحمد بن فارس بن زکریا، **معجم مقاییس اللغة** ، ،ص۱۰۵۶ تحقیق: عبدالسلام محمد هارون، الطبعة(۱۳۹۹هـ ـ۱۹۷۹م)، الناشر: دارالفکر –بیروت.

[2] - الزمخشری ، **أساس البلاغة** ، ص۱۰۲۷، الطبعة(۱۳۸۵هـ)، الناشر: دارصادر –بیروت.

[3] -مجمع اللغة، **المعجم الوسیط** ،ص۱۰۴۰ .

[4] - الکلیات(معجم فی المصطلحات والفروق اللغویة)،ص۸۶۸.

[5] -الدغامین،زیاد خلیل، **التفسیر الموضوعی ومنهجیة البحث فیه**،،ص۲۵ ، الناشر: دارعمار- الاردن.

همدارنګه موضوع د موضوعاتو نقد او څېړلو له لورې يواځې يو لغت او کلمه نه ده چې له نص او خطاب څخه يې معنې لاسته راشي، بلکه ټولې هغه معنې ګانې دي چې ديوې کلمې او موضوع په اړه لاسته راځي[1].

نو ګولای شو چې د موضوع لپاره له دوه خواوو څخه معنې ذکر کړو چې لومړی يې داخلی افق نومېږي، چې ټول هغه ممکنه او احتمالي مدلولات او معنې ګانې دي چې په يو نص کې موجود دي او دهغه معنې احتمال ترې اخيستل کېږي، بل يې خارجي افق دی چې په ادبي چارو کې کومې مختلفې او متعددې معنې ګانې او موضوع ګانو څخه چې په مختلفو نصونو کې شتون لري راجوړ شوی ديته موضوعی معنې وايي، که څه هم د محدوده او ځانګړې معنې يې ټولې هغه داخلی لاسته راو ړنې دي چې نومونړې موضوع څخه اخيستل کېږي[2].

**دريم مطلب: د موضوعی تفسير پېژندنه**

معاصر علماوو موضوعی تفسير لپاره ګڼ شمېر تعريفونه ذکر کړي چې ځينې يې بل سره متفق هم ندي، خو ګولای شو چې د ټولو تعريفونو موخې په دوه لاندې منهجونو کې بيان کړو:

**لومړي- د منهج په اعتبار سره د موضوعی تفسير تعريف :**

له دې ډول تعريفونو څخه د اهل سنت په نزد لاندې تعريفونه ذکر ګولی شو: « موضوعی تفسير هغه دی چې د يوې موضوع په اړه متعدد آيتونه را ټول کړای شی، که څه هم په مختلفو سورتونوکې وی او هغوی څخه د يوې موضوع تعبير واخيستل شي[3]».

يا داچې: يوه موضوع چې په قرآن کې ياده شوې وتاکل شی، دهغه موضوع په اړه قرآنی آيتونه داسې را ټول شی چې يو يې بل سره يو ځای او يو بل سره اړيکه ورکړل شی، او د يادې شوې موضوع صورة او شکل پوره شي، ځکه چې قرآن آيتونه ځينې يې ځينې نورو سره تفسير کېږی[4].

---

[1] - السيد، غسان بديع، **النقد الموضوعاتی، علامات النقد**، ج۲۴، ص۲۴۸.

[2] - **منهج التفسير الموضوعی للقرآن الكريم**، ص۳۰.

[3] - الجبری، عبدالمتعال، **الضالون كماصوّرهم القرآن الكريم**، ص۲۸۶، الطبعة الثانية(۱۹۸۴م)، مكتبة وهبة- مصر.

[4] - ابو النيل؛ محمد عبدالسلام، دراسات فی القرآن الكريم، **التفسير الموضوعی**، ص۲۲، الطبعة الثانية(۱۹۸۷م)، دارالفكرالاسلامی- القاهرة.

بل ځای کې داسې تعریف شوی چې : له قرآن څخه یوه موضوع واخیستل شی، وروسته د هغه موضوع په اړه ټول یا اکثره قرآنی آیتونه غونډ شي، بیا هغه موضوع د قرآن آیتونو په رڼا کې له هر اړخه تحلیل او نصوصو ترمنځ مقارنه وشی، ترڅو چې دهغه موضوع په اړه یو واضحه تصور او فکر رامنځ ته شی او د اسلام موقف د موضوع په اړه دقرآن آیتونو په رڼا کې روښانه شي[1].

همدارنګه ویل شوي چې : د متفرقو او جلاجلا آیتونو را ټولول دي چې لفظا او حکماً یوې موضوع پورې اړه ولري، او د قرآنی مقاصدو سره سم تفسیر کړی شي[2].

خو د اهل تشیع باحثینو په نزد بیا داسې تعریف شوي« د مختلفو آیتونو را ټولول دیوې معینې موضوع په اړه، له ټول قرآن څخه چې مختلفو حوادثوپه اړه ذکر شوی وی، بیا له ټولو آیتونو څخه دیادې شوې موضوع په اړه د قرآن نظر را ویستل دي[3]».

له پورته تعریفونو څخه ښکاري چې ټولو د موضوعی تفسیر منهج ته پاملرنه کړې، که څه هم ځینو د موضوع او مفهوم ترمنځ خلط کړي خو هیڅا هم په پورتنی تعریفونو کې موضوعی تفسیر د مفهوم له اعتباره تعریف کړی نه دي چې هریو تعریف ځانته ځانګړتیاوې او ځینې نواقصات لري.

**دویم- د مفهوم په اعتبار سره د موضوعی تفسیر تعریف:**

په دې تعریفونو کې د موضوعی تفسیر په ماهیت ترکیز شوي او دا توجیه دوه نورو توجیهاتو سره پېژندل کېږی:

- دوی په دې باور دي چې په موضوعی تفسیر کې موضوع د قرآنی نصونو څخه باندې وی، چې په لاندې توګه یې تعریف کړی:

« موضوعی څېړنه هغه ده چې د ژوند پورې تړلې لکه د عقیدې ، ټولنیز یا کائناتو په اړه یوه موضوع را منځ ته شی او څېړلو او مقید کولو لپاره یې قرآنی زاویه څخه وکتل او قرآنی نظر په اړه یې را ښکاره کړای شي[4]».

---

[1] - ابن الدردير، عبدالعزيز، **التفسير الموضوعى لآيات التوحيد فى القرآن الكريم**، ص٩، مكتبة القرآن(١٩٩٠م) ، القاهرة.
[2] - الالمعى، زاهربن عواض، **دراسات فى التفسير الموضوعى للقرآن الكريم**، ص٧، مطابقع الفرزدق(١٩٨٥م) الرياض.
[3] - الشيزازى، ناصر مكارم، **نفحات القرآن**، ج١، ص٩، مؤسسة أبى صالح للنشر والثقافة.
[4] - **التفسيرالموضوعى ومنهجية البحث فيه**،ص٢٥.

نو د پورتني نظر سره سم، مفسر د ژوند پورې تړلې یوه موضوع لکه عقیده، تولنیز او داسې نور کومه موضوع را اخلی، د انسانی فکر او تجربې څخه په کار اخیستلو سره ، د موضوع په اړه پوښتنې او څېړنې کوی، په پای کې د خپل هدف چې د موضوع په اړه د قرآن نظر او موقف دی لاسته راوړي.

ځینو بیا داسې تعریف کړي« موضوعی تفسیر داسې یو علم دی چې قرآنی مقاصدو سره سم د یوه سورة یا ډېرو په رڼا کې قضایا په نظرکې نیسی[1] »

خو دا پورتنی تعریف له ځینو غرایبو او غموض څخه خالی نه دي، لکه: قرآنی مقاصدو څخه یې څه هدف دی؟ آیا دا مقاصد په موضوعی تفسیر کې کوم منهج ګڼل کېږي چې باید په پام کې ونیول شی؟ او داسې نور.

- دوي په دې نظر دي چې د موضوعی تفسیر ټاکل شوې موضوع هغه وی چې قرآن ځانګړې کړې وي،لکه چې ویلی یې دي « هغه منهج چې مفسر یې د یوې موضوع د کشف لپاره ځانته ټاکي چې د الله تبارک او تعالی مراد په یادو شوو قضایاوو کې د قرآن لارښوونو او د قرآنی اعجازو ښکاره کولو سره معلوم کړي[2] » مو ضوعی تفسیر ګڼل کېږي.

که پورتنی او له هغه څخه مخکې تعریف ته وکتل شی داسې ښکاري چې یو یې ظاهری موضوع ګانو په اړه غواړي چې موضوعی تفسیر د قرآن په رڼا کې ترسره کړي او بل یې په قرآن کې ذکر شوی موضوعاتو په اړه تفسیر کوي، که څه هم دا دوه تفسیرونه د تعریف له کبله یو بل سره توپیر لري خو ویلای شو چې دا دواړه موضوعی تفسیرونه دي چې هریو یې دخپل دلید لورې د قرآنی موضوعاتو په اړه د هغه احکام څېړي.

په پورتني تعریف کې د کشف او د الله متعال مراد په کامله توګه د بشری وسې سره سم په یوې خاصې قرآنې مطرح شوې موضوع کې معلومول دي، چې دا قیدونه موضوعی تفسیر له نورو تفسیرونو څخه جلا کوي[3].

---

[1] - مسلم مصطفی ، **مباحث التفسیر الموضوعی**، ص۱۶.

[2] - الدغامین؛ زیاد خلیل محمد، **منهجیة البحث فی التفسیر الموضوعی**، ص۱۳، الطبعة الاولی(۱۹۹۵م)، دارالبشیر، عمان- اردن.

[3] - رشوانی؛ سامرعبدالرحمن، **منهج التفسیر الموضوعی للقرآن الکریم،دراسة نقدیة**، ص۴۵، الطبعة الاولی(۲۰۰۹م)، دارالملتقی، حلب- سوریا.

یا داچې: « موضوعی تفسیر داسې یو علم دئ چې د قرآن ظاهری موضوعاتو کشف لپاره له یو اساس څخه چې ځانګړي قواعد او اسلوب ولری کار اخلی تر څو د کتاب الله هدایاتو او دالله عظیم شأن ته ورسېږي[1] »

له پورتنی تعریفونوڅخه ښکاره شوه چې موضوعی تفسیر یو ډول تفسیر دئ لکه د ترتیبی تفسیر، اجمالی تفسیر او داسې نور، چې د ټولو تفسیرونو ډولونو ترمنځ د تفسیر مقصد او هدف ته په کتو سره توپیر کولای شو، نو د موضوعی تفسیر مقصد د یوې قرآنی قضیې ذکر شوي په اړه کلی نظریې ښکاره کول دي، حال دا چې په ترتیبی تفسیر کې د الله متعال مراد او هدف ښکاره کول دي په آیتونو کې لکه څنګه چې په ترتیب سره لیکل شوي دي[2].

خو ټولو پورتنی تعریفونو ته په کتو او د ټولو ترمنځ مقایسه کولو څخه وروسته دا تعریف راته ښه او دقرآن موضوعی تفسیر ته مناسب ښکاري چې په لاندې توګه یې ذکر کوو: «د الله عزوجل مراد په کلی توګه کشف او ښکاره کول په قرآنی قضایاوو کې د بشري وسې او طاقت په اساس».

نو له پورتنی تعریف څخه ښکاری چې موضوعی تفسیر له دوه لاندې عنصرو څخه خالی نه وی:

لومړی: (الکلیَّة) هغه څه چې موضوعی تفسیر له نورو څخه جلاکوی دا دئ چې د یوې موضوع جزئیاتو او مفرداتو څخه وړاندې ځي او موضوع په کامله توګه څېړي.

دویم: (القضیة) یا موضوع ده چې د موضوعی مفسر یا باحث پام ځانته اړوي چې یاده شوې قضیه قرآنی آیتونو څخه ښکاره شوې وي، خو الفاظ او د ځینو کلماتو معنا کانې په موضوعی تفسیر د پام وړ نه دي، خو باحث اصلی موضوع او مقصد ته بیایی.

همدارنګه په موضوعی تفسیر کې د آیتونو خطاب او احکامو ته پاملرنه نه کېږي لکه د امر او نهی او داسې نور آیتونه ، خو د امر سیاق او د آیتونو کلی تعبیر او لیکلو ته پاملرنه کېږي، چې دا موضوعی تفسیر ته یوه بله ځانګړتیا ده[3].

---

[1] - **منهجیة البحث فی التفسیر الموضوعی** ،ص١٣.

[2] - مرکز المعارف للمناهج والمتون التعلیمیة، **التفسیر الموضوعی المفهوم والمنهج**، ص٢١، الطبعة الاولی(١٤٤١هـ ـــ ٢٠٢٠م)، دار المعارف الاسلامیة الثقافیة.

[3] - **منهج التفسیر الموضوعی للقرآن الکریم**، ص٤٥.

د الله مراد چې په تعریف کې ذکر شوی دا مطلب مونږ ته روښانه کوي چې په یو آیت باندې کفایت ونه شی باید چې په ښه توګه د قرآن په ټولو مشابه آیتونو کې څېړنه وشي ترڅو د قضیې په اړه الهی حکم ښکاره شي.

همدارنګه د بشری طاقت قید دا خبره ښکاره کوی چې په موضوعی تفسیر کې که څه هم ډېر دقت وشی د بشر یو اجتهاد ګڼل کېږي، چې بشر کله خطا او کله سمه خبره کوي، نو باید چې هیڅ وخت داسې ونه وایې چې هغه څه چې بیان شول د الله مراد دی، بلکه هغه څه چې بیان شوي یو اجتهاد دی چې کله ښه او کله خطا هم وي.

نو د پورته ذکر شوي تعریفونو سربېره ویلی شو چې موضوعی تفسیر دیو عام تعریف په توګه د افکارو او د موضوع ګانو تفسیر دی چې مجال او ځای یې د قرآن یوه ځانګړې برخه یا د قرآن د یو سورة یوه برخه وی، نو د موضوعی تفسیر محور هغه مفکوره ده چې له نص څخه لاسته راځي نه له عبارت څخه ، په دې توګه موضوعی تفسیر هغه منهج دی چې په ځینو ځایونو کې جزئیاتو څخه د یوې موضوع کلیاتو ته ځي لکه چې د قرآن یو سورة دیوې برخې په اړه مختلف او متعدد موضوعات ذکرشی، خو په ځینو نورو ځایونوکې له کلیاتو څخه جزئیاتو ته مراجعه او کتنه کېږي لکه چې د یوې موضع په اړه د قرآن ټول آیتونه چې ورسره تړاو ولري را ټول او پرې خبرې وشي تر څو د یوې موضوع ټولې خواوې وپېژندل شي[1].

## څلورم مطلب: د موضوعی تفسیر اهمیت او ډولونه یې

أ- د موضوعی تفسیر اهمیت: د قرآنی موضوعاتو په اړه دا ډول څېړنې نافع او ګټورې هڅې بلل کېږی، په ځانګړي توګه په اوسني عصر او زمانه کې چې د بشر ستونزو حل کولو لپاره مادی او ملحدې (کفری) ټولنې ډېرې شوي، که د مادی او الحادي مذاهبو وړه هم نه وی موضوعی تفسیر ځینې هغه حقایق را ښکاره کوي چې خلکو ته پټ وی، که مونږ له دې ډول تفاسیرو څخه بې برخې شو نو د اسلام دین ځینې حقایق به خلکو ته ښکاره نه شی.

---

[1] - عنانی، محمد، **المصطلحات الأدبية الحديثة، دراسة ومعجم**، ص۱۱۷، الطبعة الاولى(۱۹۹۶م)، الشركة المصرية العالمية للنشر، القاهرة- مصر.

ځکه یوې ځانګړې موضوع باندې موضوعی تفسیر او څېړنه په ټولو مکي او مدنی آیتونوکې هغه څه روښانه کوي چې دعام تفسیر په لړ کې خلک پرې نه پوهېږي، نو که موضوعی تفسیر ته اجازه ورکړل شي او دا یوډول تفسیر په توګه ومنل شي ټول دینی موضوعات چې قرآن عظیم الشأن کې ورڅخه یادونه شوې په ښه توګه به وڅېړل شی جوانب به یې ښکاره حکم به یې څرګند او عامو خلکو ته به د پوهې او عمل سبب وګرځي.

همدارنګه که دې ډول تفسیرونوته جواز ورکړو متخصصینو ته به د تفسیر مجال او میدان پراخه شي ترڅو هریو دخپل مسلک سره سم په قرآن کې څېړنه وکړي، په دې توګه چې فقیه به د تشریع او احکامو آیتونه وڅېړي، اقتصاد دان به مالی لاسته راوړل او انفاق چارې وڅېړي ، معاصر علومو خاوندان اختراع ګانې کوي او د تعلیم او تربیت علماء د تیر شوی پیغمبرانو او د هغوی د قومونو کړنو یادونه او هغوی ته د لارښونو آیتونه په ښه دقیقه او عمیقه توګه تر څېړنې لاندې راولي[1].

سربېره له پورتنیو ګټو او ښېګڼو دا ډول تفسیر په علم کې به یو بل نوښت راشی چې په سلګونو او حتی زرهاوو خلک ورته پاملرنه وکړي د قرآن نوی اعجاز به ښکاره شي خلک به په دې حیران پاتې شي چې محدودې پاڼې څومره ډېر موضوعات لري او داسې نور[2].

**ب-دموضوعی تفسیر ډولونه:** په قرآن کې موضوعی تفسیر په دې درې برخو ویشلی شو:

**لومړی:**موضوعی تفسیر د قرآنی یوې اصطلاح په اړه: په دې توګه چې د قرآن له آیتونو څخه یو لفظ واخلو او په مختلفو ځایونو کې یې معنې وڅېړو او فقهی احکام ترې څرګند کړو، لکه د (امة ) لفظ.

**دویم:** موضوعی تفسیر د قرآنی یوې موضوع په اړه: دا هغه ډول تفسیر دی چې په قرآن کې یوه ځانګړې موضوع تر څېړنې لاندې ونیول شی ،لکه د(فی قلوبهم مرض) موضوع.

**دریم:** په قرآن کې دیو سورة په اړه موضوعی تفسیر: په دې توګه چې له سورتونو څخه یو سورة وټاکل شی او دهماغه سورة موضوعاتو او مسایلو په اړه څېړنه ترسره شی،لکه دسورة الجمعة موضوعی تفسیر[3].

---

[1] ـ الألمعی؛ الدکتور زاهربن عواض بن محمد ،**دراسات فی التفسیر الموضوعی للقرآن الکریم**، ص۱۹، الطبعة الرابعة( ۱۴۲۸هـ)، مکتبة الملک فهد الوطنیة – الریاض.

[2] ـقرضاوی، الدکتوریوسف، **الصبر فی القرآن**، ص۴.

[3] ـ الطیار؛ مساعد بن سلیمان الطیار، **فصول فی أصول التفسیر**،ص۲۰، الطبعة الثالثة(۱۴۲۰هـ-۱۹۹۹م)، الناشر: دارابن الجوزی-الدمام.

## دويم مبحث

## د سورة الجمعه پېژندنه

دا مبحث پنځه مطالبو ته ويشل شوی چې په لومړي مطلب کې د سورة او آيت لغوی او اصطلاحي معنې څېړو په دويم مطلب کې د سورة الجمعه نوم او وجه د تسميه او د آيتونو تعداد په اړه ليکنه کوو ، په دريم مطلب کې د نزول ځای او وخت په اړه معلومات را ټولوو ، په څلورم مطلب کې د سورة الجمعة اسباب نزول او په پنځم مطلب کې د سورة اساسی او فرعی محور په اړه ليکنه شوې.

**لومړی مطلب: د سورة او آيت لغوی او اصطلاحی معنې**

أ- **د سورة معنی په لغت کې:** سورة کلمه په لغت کښې د ارتفاع او منزل معنا ورکوی[1]، لکه چې وويل شي: د قرأنکريم سورتونه ديوی دنګی ماڼۍ چتونه دی او يا د سپوږمۍ منازل دی چې قاری پکښې ګرځی راګرځی.

همدارنګه سورة ځينې د اسارت څخه مشتق ګڼي، چې د ټولو سورتونو څخه غوره يې معنې کوي چې د شرابو هغه برخه ده چې د لوښي په آخر کې پاتې وی، نو سورة ته ځکه دا نوم ورکړل شو چې د قرآن يوه برخه ده[2].

په لسان عرب کې راغلی: د قرآن سورتونو ته ځکه سورة وايې چې د قرآن بلې برخې ته د تللو يوه درجه ده، نو چا چې سؤرة په همزه سره يې ويلی د قرآن پاتې شوې او نوره برخه ګڼل کېږی، ځينې نور وايې چې سؤرة په همزې سره راغلی خو د ډېرو ويلو او استعمال له کبله همزه ترې پاتې شوې ده چې د مال پاتې شوې برخې ته ويل کېږی[3].

يا د ماڼۍ او و دانۍ هغه حريم ته ويل کېږی چې له ماڼۍ څخه باندې او ډېره ښه او اوږده وی، نو سورة ته هم سورة ځکه ويل کېږی چې منزلت يې لوړ دی، يا دا چې له يو پوړ څخه وروسته بل پوړ دی چې له بل څخه بېل شوی، همدارنګه د يوې و دانۍ ټولو پوړونو ته ويل

---

[1] -**لسان العرب** ج۴/ص۳۸۶، **المفردات فی غريب القرآن** ،ص۲۵۴.

[2] - عبد الله ؛ أحمد محمد رشاد، **التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون و التغابن**، ص۳۱، رسالة مقدمة لنيل درجة الماجستير، العام (۱۴۳۳هـ ــ۲۰۱۲م)، جامعة ام القری- المملكة العربية السعودية.

[3] - **لسان العرب**، ج۳، ص۲۱۴.

کېږی، نو د قرآن سورتونو ته دا نوم ځکه ورکړل شوی چې یو له بل څخه بېل او وړاندې وروسته دي[1].

یا داچې له تسور چې د التصاعد په معنې دی اخیستل شوی، لکه چې ویل شوی(تسورت الحائط) کله چې لوړ شی او پرلپسې کارشوی وی، لکه څنګه چې الله متعال فرمایلی: ﴿إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ﴾[2]

ژباړه: چې پر دیوال را ختلی او حجرې ته ننوتلی ول.

نو دې ته سورة ځکه ویل شوی چې ځینې آیتونه پر نورو ترتیب او منظم شوی وی[3].

ب- **سورة په اصطلاح کې:** جعبری[4] ویلی: د قرآنکریم د آیا تونو د هغې مجموعې نوم دی کومه چې پیل او پای ولري او د دریوو آیاتونو څخه کمه نه وی او خاص نوم یا نومونه هم ولری[5].

زرقانی[6] ویلی: سورة په اصطلاح کې مستقله ډله د آیتونو دي چې د مطلع او مقطع یا پیل او پای ولری[7].

د قرآنکریم د سورتونو تحدید او نومونه دواړه توقیفی دی اجتهاد ته پکښی دخل او ځای نشته[8]، اما اما د سورتونو په ترتیب کښی اختلاف دی خو جمهور علماء کرام په دی نظر دی چی د قرآنکریم د سورتونو ترتیب اجتهادی دی او توقیفی نه دی[1].

---

[1] - وهری، اسماعیل بن حماد، **الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية**، ج٢، ص٦٩٠، تحقيق: أحمد عبدالغفور عطار، الطبعة الرابعة(١٤٠٧هـ ـ ١٩٨٧م)، الناشر: دارالعلوم للمائين- بيروت.

[2] -سورة ص/٢١.

[3] - **لسان العرب**، ج٣، ص٢١٤٧.

[4] - هغه: ابراهيم بن عمر بن ابراهيم بن خليل، برهان الدين ابو محمد الجعبری الخليلی الشافعی؛ دقرائت په علم کې د ډېرو مصنفاتو خاوند دی، په (٧٣٢هـ) کې وفات شوی: الذهبی؛ محمد بن أحمد بن عثمان أبو عبدالله ، **معرفة القراء الكبار على الطبقات والاعصار**، ج٢، ص٧٤٣، تحقيق: بشار عواد معروف، شعيب الارناؤوط، صالح مهدى عباس، الطبعة الاولى(١٤٠٤هـ)، الناشر: مؤسسة الرساله- بيروت.

[5] - **البرهان فى علوم القرآن**، ج١، ص٢٦٤، **الاتقان**، ج١، ص١٥٠.

[6] - هغه: محمد عبدالعظيم الزرقانی؛ د ازهر علماؤو څخه دی، د أصول الدين ټول علوم يې زده کړي او پرهغه يې عمل کړی او په علوم القرآن والحديث کې مدرس پاتې شوی، په قاهرة کې په (١٩٤٨م) کې وفات شوی، مشهور کتاب يې: **مناهل العرفان فى علوم القرآن دی**، الزركلی؛ خيرالدين بن محمود بن محمد بن على بن فارس، **الأعلام**، ج٦، ص٢١٠، الطبعة الرابعة(١٩٧٩م)، الناشر: دارالعلم للملايين- بيروت.

[7] - **مناهل العرفان فى علوم القرآن**، ص٢٨٥.

[8] -اسماعيل بن عمر بن كثير الدمشقى أبو الفداء(ت٧٧٤هـ) **تفسير القرآن العظيم، المسمى ب(ابن كثير)**، ج١ص٤٧- ٤٩، الطبعة الثالثة(١٤٠١هـ)، الناشر: دارالفكر- بيروت. المراغی ؛ أحمد مصطفى، **تفسير المراغى**، ج١،ص٢٣، الطبعة الاولى(١٣٦٥هـ ـ١٩٤٦م)، الناشر: مكتبة ومطبعة مصطفى البابى الحلبى وأولاده- القاهره.

## ج- د آيت معنى په لغت کې:

آيت له(تايّين) څخه مشتق دی؛ په لغت کې د تثبت او د يو شي له اقامت څخه اخيستل شوی دی، چې په لاندې معنې ګانو باندې اطلاق يې کېږی[2]:

- علامه دليل او برهان: لکه څنګه چې الله تعالی ويلی: ﴿ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَن يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ آلُ مُوسَى وَآلُ هَارُونَ تَحْمِلُهُ الْمَلَائِكَةُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾[3]

ژباړه: د دوی نبی دوی ته وويل د طالوت د پاچاهی نښه دا ده چې تاسې ته به هغه سوندک راشی چې په هغه کې ستاسې د رب له پلوه ډاډ دی او د موسی د ټبر ا د هارون و کهول پاتې شوی ترکه ور پکښې ده او هغه به تاسې ته ملائک راوړی په يقينی توګه د طالوت پر پاچاهی همدغه ستاسې لپاره دليل دی که تاسې مومنان ياست.

وجه د استدلال: دلته په ياد شوي آيت کې د آيت معنې نښه او دليل معنی شوی، لکه څنګه چې د طالوت د پاچاهی نښه خلکو امن او ډاډ راتلل د الله له خوا ګڼل شوی[4].

- همدارنګه په معنې د معجزة او عجيبه کار: لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلی: ﴿ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴾[5]

ژباړه: په يقينی توګه په دې(ځمکې په زرغونولو) کې يوه نښانه ده خو له دوی څخه زياتره منونکی ندی.

او همدارنګه په بل ځای کې يې فرمايلی: ﴿ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً وَآوَيْنَاهُمَا إِلَى رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴾[6]

---

[1] -**البرهان فی علوم القرآن**، ج۱،ص ۲۵۷، أبو عبدالله محمد بن أحمد الأنصاری القرطبی(ت: ۶۷۱هـ) ، **تفسير القرطبی** ،ج۱،ص۵۹، الناشر: دارالشعب- القاهرة..

[2] - **المفردات فی غريب القرآن**، ص۳۳.

[3] -سورة البقرة/۲۴۸.

[4] - **تفسير القرآن العظيم**، ج۱، ص۸۲۲، پښتو ژباړن: زاهدی احد زی.

[5] -سورة الشعراء/۸.

[6] -سورة المؤمنون/۵۰.

ژباړه: او د مریم زوی او د هغه مور موږ یوه نښانه و ګرځوله او هغوی ته مو په یوه هسکه مینه کې ځای ورکړ، چې د ډاډيني ځاي وه او چیني پکې بهېدلې.

چې دا یو ډول بې له واده مراسمون او نر او ښځه یو ځای کېدلو څخه پرته اولاد راتګ معجزه او عجیبه کار دی.[1]

- په معنې د جماعت او ټولګه د خلکو : لکه څنګه چې ویل شوی(خرج القوم بآیتهم) یعنې قوم خپل له جماعت سره ووتل، نو د قرآن آیت هم په دې معنې چې د حروفو یوه ټولګه ده.[2]

**د- دآیت اصطلاحی تعریف:**

آیت د قرآنی ترکیب شوو جملو نوم دی، که څه هم دا ترکیب تقدیری وی، چې پیل او پای ولری او په یوه سورة کې ځاي پرځای شوی وی.[3]

**دویم مطلب : د سورة الجمعة نوم وجه د تسمیه او د آیتونو تعداد يې**

**أ- د سورة الجمعة نوم**

دا سورة مبارکه د(الجمعة) په نامه باندی نومول شوی دی ، چې بل نوم د دی سورة لپاره مفسرینو نه دی ذکر کړی چې په ټولو مصحفونو او په مختلفو قرائاتو کښې په همدې نوم یادول کېږي، په همدې نوم د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- زمانې څخه تراوسه پورې مشهور دی[4]، لکه څنګه چې همدا نوم په حدیث کې راغلی چې وایي: **عن ابی هریرة –رضی الله عنه –قال: کنا جلوساً عند النبی-صلی الله علیه وسلم- فانزلت علیه سورة الجمعة...)**[5]

---

[1] - الفیروز آبادی، محمد بن یعقوب ، **بصائر ذوی التمیز فی لطائف الکتاب العزیز**، ج۲، ص۶۵، تحقیق: محمد علی النجار، الطبعة الثانی(۱۳۹۰هـ ــ ۱۹۷۰م) الناشر: المکتبة العلمیة- بیروت.

[2] - أبو بکر محمد بن القاسم الأنباري ؛**الزاهر فی معانی کلمات الناس**، تحقیق : د. حاتم صالح الضامن، الطبعة : الأولی(1412 هـ -1992م) الناشر : مؤسسة الرسالة - بیروت .

[3] - **البرهان فی علوم القرآن**، ج۱، ۲۶۴، **الاتقان**، ج۱، ص۱۵۰.

[4] - **التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون و التغابن**، ص۳۹.

[5] - البخاری ؛ أبو عبدالله محمد بن إسماعیل بن إبراهیم بن المغیرة الجعفی (ت:256هـ)، **الجامع المسند الصحیح المختصرمن المختصرمن أموررسول الله-صلی الله علیه وسلم- وسننه وایامه(صحیح البخاری)**، باب قوله تعالی(و آخرین منهم لما یلحق بهم) برقم(۴۶۱۵) ،دارطوق النجاة- بیروت .و- النیسابوری ؛ أبوالحسن مسلم بن الحجاج القشیری امام مسلم (ت۲۶۱هـ)،

ژباړه: له ابی هریرة-رضی الله عنه- څخه روایت دی چې وایي: مونږ له رسول الله-صلی الله علیه وسلم- سره ناست وو چې سورة الجمعة ورباندې نازله شوه.
همدارنګه دا نوم د عبدالله بن عباس-رضی الله عنه- په روایت کې هم راغلی، لکه څنګه چې فرمایي:«
**أن النبی –صلی الله علیه وسلم- کان یقرأ فی صلاة الفجر یوم الجمعة﴿ الٓمٓ تَنْزِيلُ ﴾و ﴿هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ﴾[1] و أن النبی-صلی الله علیه وسلم- کان یقرأ فی صلاة الجمعة: سورة الجمعة والمنافقین»**[2]
ژباړه: نبی کریم-صلی الله علیه وسلم- دجمعې ورځ د سهار په لمانځه کې به سورة السجده او سورة الانسان تلاوت کاوه او د جمعې لمانځه کې به یې سورة الجمعة او سورة المنافقون تلاوت کاوه.

**ب- د سورة الجمعة وجه د تسمیه**

د الجمعة معنې په لغت کې یعنې ټولګه او ټولېدل چې جمعه یې په پېښ او فتحو سره هم ذکر شوې، چې په دې کې یو ډول دعا ده چې: الله ستاسو په جماعت او راټولېدلو کې دوام او برکت اچولو په معنې راځي، د میم په ضمې سره حجاز والا، په فتحې سره یې بنی تمیم او د میم په سکون سره عقیل ترې مراد دي[3].
دا سورة ځکه د سورة الجمعه په نامه نومول شوی چې پکښې د جمعې لمانځه آذان او را غوښتلو لپاره د اجابت وجوب راغلی او همدارنګه په آیت کې د جمعې لفظ ذکر شوي ، لکه څنګه چې الله متعال فرمایلی: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ﴾[4].
ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، کله چې آواز وشی لمونځ ته د جمعې د ورځې نو منډې کړئ(روان شئ) دالله ذکر(لمونځ) ته او پرېږدی اخیستل او خرڅول.

---

**المسند الصحیح المختصر بنقل العدل إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم**، حدیث رقم(۲۵۴۶ )، الطبعة الثانیة(1392هـ)، الناشر: دار إحیاء التراث العربی- بیروت. **ومسلم**، فی فضائل الصحابة، باب فضل فارس، برقم(۲۵۴۶).
[1] – سورۀ الانسان(الدهر)/1.
[2] **- صحیح مسلم** ، باب : مایقرأفی یوم الجمعة، برقم(۲۰۶۸).
[3] **- لسان العرب**، ج ۱، ص۶۸۲.
[4]- سورة الجمعة/۹.

همدارنگه وجه د نومول کیدلو د دی سورة مبارکه په (الجمعة) باندی دا هم امکان لري چی په دی سورة کی د جمعی د ورځی او د لمانځه آداب أو أحکام بیان شوی دی أو لفظ د (الجمعة) په دی سورة کی ذکر شوی دی[1].

لفظ د جمعې چې په دې سورة کې یاد شوی کیدای شي چې مراد ترې د جمعې لمونځ وي، ځکه پکښې د جمعې لمانځه احکام ذکر شوي، دا احتمال هم شته چې مراد ترې د جمعې ورځ وی، ځکه د جمعې ورځ پکښې یاده شوې[2].

ابن کثیر[3]-رحمه الله- ويلي: د جمعې ورځ ځکه جمعه نومول شوې چې له جمع او ټولېدلو څخه مشتقه شوې، په دې ورځ مسلمانان په اونۍ کې یوه ورځ په لویو جوماتونو او د عبادت ځایونو کې را ټولېږي، په همدې ورځ ټول مخلوقات کامله شوي، دا شپږمه ورځ د هغه شپږو څخه ده چې الله تبارک او تعالي پکښې ځمکه او آسمان او ټول خلائق پیداکړي[4].

### ج- د سورة الجمعة د آیتونو تعداد

د سورة الجمعة د آیتونو شمیر ټول مکمل یولس(۱۱) دی او په دی کښی د هیڅا اختلاف نشته .[5] دا سورة د قرآنکریم د سورتونو په ترتیب کښې دوه شپیتم سورة حساب شوی ، وروسته د سورة التحریم او مخکی د سورة التغابن څخه نازل شوی دی ، په یوه روایت کښی وروسته د سورة الصف او مخکی د سورة التغابن څخه نازل شوی دی.[6]

---

[1] - ابن عاشور؛ محمد الطاهربن محمد بن محمد الطاهر التونسی(۱۹۸۴م)، **التحریروالتنویر(تحریر المعنی السدید وتنویر العقل الجدید من تفسیر الکتاب المجید)** ، ج۲۸، ص۲۰۵، الناشر: الدارالتونسیة للنشر.

[2]- **التحریر والتنویر**، ج۲۸، ص۱۸۳.

[3] - اسماعیل ابن عمر ابن کثیر دمشقی شافعی په "مجیدل القریة" د "بصری" ښار کې په 701 زي.یدلی دی ، دمشق ته لاړه او تعلیم او تعلم یی له کمال الدین عبدالوهاب څخه پیل کړ ابن تیمیه درس ته هم کښیناسته او دهغه له نږدې شاګردانو څخه شو اوپه (۷۷۳ه) کې وفات شو.

[4]- معمر عبدالعزیز، **ایقاد شمعة لفهم سورة الجمعة**، ص۳۳.

[5]- الدانی؛ ابو عمرعثمان بن سعید الاموی الدانی ، **البیان فی عد آی القرآن** ، ص۲۴۶،تحقیق: د غانم قدوری الحمید، الطبعة الاولی(۱۴۰۸هـ ـ۱۹۸۸م)، الناشر: مرکز المخطوطات والتراث- الکویت. تفسیر القرطبی ج۱۸/ص۹۱.

[6]- **البرهان:**، ج۱، ص۱۹۴ ،. جلال الدین عبدالرحمن السیوطی(ت: ۹۱۱هـ) ، **الاتقان فی علوم القرآن** ، ج۱، ص۱۶۹، تحقیق: سعید المندوب، الطبعة الاولی، دارالفکر- لبنان.، الزهری؛ محمد بن شهاب ، **تنزیل القرآن**، ج۱،ص۳۱، تحقیق: د صلاح الدین، الطبعة الثانیة(۱۹۸۰م)، الناشر: دارالکتب الحدیث – بیروت.

او د غوره او منل شوي قول پر بنسټ د دی سورة ټول آيتونه مدنی دی چی د هجرت څخه وروسته نازل شوی دی[1]، د دی سورة د کلماتو شمیر یوسلو أتیاووته رسیږی[2]. چې د تورو شمیر يي أوه سوه أو شلو ته رسیږی[3].

**دریم مطلب: دسورة الجمعة محل او زمانه د نزول يې**

که څه هم د دې سورت د نزول په اړه ځینو اختلاف کړی، لکه د دې چې : ابن عباس، ابن الزبیر-رضی الله عنهم- حسن، مجاهد عکرمه او قتاده-رحمهم الله- چې دا د جمهورو خبره هم ده وايي چې د جمعې سورت مدنی دی، خو ابن باز بيا وايي: چې دا سورة مکی ده، دا نظريه له ابن عباس، مجاهد څخه هم روایت شوې[4]. خو لومړی نظریه چې وايي دا مدنی سورة ده دلاندې دوه دلایلو په استناد صحیح ده :

لومړي: په حديث کې راغلی چې؛ «**عن ابی هریرة-رضی الله عنه- قال: کناجلوساً عند النبی-صلی الله علیه وسلم- حین أنزلت سورة الجمعة[5]**».

ژباړه: له ابوهریرة-رضی الله عنه- څخه روایت دی چې وايي: مونږ نبی کریم-صلی الله علیه وسلم- سره ناست وو چې دجمعې سورة نازل شو.

دويم: د جمعې لمانځه خطبې ته دخلکو راتلل او له خطبې څخه وتل او خپل دنيوي چارې پيلول په مدينه کې وه، ځکه رسول الله- صلی الله علیه وسلم- مدینه کې په نبوی جومات کې خطبه ویله، حال

---

[1]- الآلوسي؛ ابی الفضل شهاب الدین السید محمود الالوسی البغدادی(ت:١٢٧٠هـ)، **روح المعانی فی تفسیر القرآن العظیم والسبع المثانی** ،ج٢٨، ص٩٢،اعتنی بنشره وتصحیحه المرحوم السید محمود شکری الآلوسی، الناشر: داراحیاء التراث العربی- بیروت.

[2]- الخازن؛ الامام علاء الدین علی بن محمد البغدادی الشهیر بالخازن، **تفسیر الخازن**، المسمی بـ(**لباب التأویل فی معانی التنزیل**) ، ج٦، ص٢٥٦، الطبعة الثانیة(١٣٧٥ه) ، الناشر: مطبعة مصطفی البابی الحلبی- القاهرة.

[3]- **اللباب فی علوم القرآن** ج١٩، ص٦٨.

[4]- أبو محمد عبدالحق بن غالب ابن عطیه الأندلسی(ت: ٥٤٦هـ)، **المحرر الوجیزفی تفسیر الکتاب العزیز**، ج٥، ص٣٠٦، تحقیق: عبدالسلام بن عبدالشافی محمد، الطبعة الاولی(١٤١٣هـ)، الناشر:دارالکتب العلمیة، بیروت- لبنان.

- الأندلسی؛ أبوحیان محمد بن یوسف، تفسیر **البحرالمحیط**، ج٨، ص٢٦٣، تحقیق: الشیخ عادل أحمد عبدالموجود، الشیخ علی محمد معوض، شارک فی التحقیق: زکریا عبدالمجید النوقی، أحمد النجولی الجمل، الطبعة الاولی(١٤٢٢هـ ـ٢٠٠١م)، دارالکتب العلمیة، بیروت- لبنان.

[5]- **صحیح البخاری**، الحدیث رقم(٤٨٩٧).

داچې په مکه کې د هجرت څخه مخکې کوم د جومات ځرک نه لګېده، لکه څنګه چې د سورة الجمعة په بل آیت کې راغلي، الله متعال فرمايلى: ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلاةُ فَانتَشِرُوا فِى الأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ﴾[1]
ژباړه: بیاکله چې لمونځ ترسره شی، نو په ځمکه کښې خواره شئ او دالله فضل ولټوي. نو د سورة جمعه د پورتني آیت سبب نزول څخه ښکاري چې دا سورة په مدینه کې نازل شوی[2].

**وجه د استدلال:** د أحاديثو د تصريحاتو او د نزول د اسبابو څخه دا ښکارى چې دا سورة کريمة د خيبر د فتحې څخه وروسته نازل شوى دى ، او دا خبره د ابو هريرة ـ رضى الله تعالى عنه- د روايت څخه چې مخکې تيرشو ښکارې. نو ښکاره شوه چې دا سورة وروسته د هجرة څخه نازل شوی دی ځکه د ابو هريرة – رضى الله عنه اسلام راوړل له هجرت څخه وروسته ، يا داچې د خيبر د فتحې په ورځ وه او رسول الله - صلى الله عليه وسلم - سره يې د خيبر په فتحه کې ګډون کړی وه[3].

که څه هم د جمعې د لمونځ فرضيت وخت مخکې د سورة له نازل کېدو څخه وو، رسول الله-صلى الله عليه وسلم- صحابه کرامو ته خطبه بيانه کړه او په هماغه خطبه کې يې د جمعې لمونځ فرضيت اعلان وکړ، صحابه کرامو سره يې هجرة څخه وروسته په لومړي جمعې ورځ کې يې په دار بنى سالم بن عوف سيمه کې د جمعې لمونځ ادا کړ، همدارنګه ثابته ده چې د مدينې خلکو مخکې د رسول الله-صلى الله عليه وسلم- له راتګه په مدينه کې هم اداکړی وه[4].

بله رأيه داده چې د دې سورة د نزول په تاريخ کې اختلاف دى په تاريخ د نزول او ترتيب د سورة ى په دې طريقه چې شيخ محمد عزت دروزة وايي چې : ""محتوى د سورة دلالت کوى په دى باندى چې دا سورت نازل دى په داسى وخت کښى چې په مد ينه کښى د يهودو يو څه ډلې او فرقې شتون درلود او دوى په يوڅه قوت او عزت باندى يې ژوند کاوه او بنى قريظه د يهودو وروستنى ډلې او قومونه ؤ چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم – په پنځم کال د هجرت باندى د خندق غزا څخه

---

[1]- سورة الجمعة/١٠.
[2]- **المحرر الوجيزفى تفسير الكتاب العزيز**، ج٥، ص٣٠٦.
[3]- **التحرير والتنوير**، ج٢٨،ص٢٠٥.
[4] - الحميرى؛ أبى محمد عبدالملک ابن هشام ابن ايوب الحميرى،(ت: ٢١٣هـ) ، **السيرة النبوية**، ج٢، ص٤٩٤، تحقيق: طه عبدالرؤف سعد، الطبعة الثانية(١٤١١هـ)، الناشر: دارالجيل- بيروت.

وروسته ورته سزا ورکړه چې په سورت الاحزاب کې ورته اشاره شوې، نو له کمې مودې توپیر سره سورة الجمعة مخکې او سورة الاحزاب وروسته نازل شوی[1].

خو راجحه قول دادی چې سورة الجمعه د فتح خیبر څخه وروسته د هجرت په أووم (۷) کال کې نازله شوې ځکه د ابو هریرة –رضی الله عنه- روایت ورته دلیل دی او بل دا چې یهود د خپل په دینی برخې او مرحلې کې ډېر ضعیفه او په ګمراهی او افواهاتو اخته شول، د الله تبارک او تعالی امانت یې په ناپوهی پورته کړ چې د ناپوه حیوان چې څه وروباندې بار وي خو نه پوهېږی مثال ورته ورکړل شو، خو بر عکس د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- رسالت چې امی قوم ته لیږل شوی وه د هغوی پرخلاف د الله تعالی کتاب باندې یې ځانونه پوه کړل او پرې عمل یې وکړ، نو په جوته او ښکاره ویلی شو چې سورة الجمعة مدنی ده ځکه رسول الله-صلی الله علیه وسلم- په مدنی دور کې یهودیانو سره ډېر مخ شو او مخکې له هغه مشرکینو سره مخ وه.

**څلورم مطلب: د سورة الجمعة د نزول سبب**

د رسول الله - صلی الله علیه وسلم- په ابتدائی زمانه کښی به دجمعی په ورځ أول لمونځ کیدلو بیا به خطبه وئیل کیده لکه دأخترونو په شان نو بعضی نوی مسلمانانو ته د شریعت بعضی احکام معلوم نه وو، نو دحیة الکلبی د شام ښار څخه د ښجاری سامان راوړی وه، او د ښجاریانو د عادت سره سم ئی خلکو ته یو ډول ووهلو چې هغوی خبر کړی چې د تجارت سامان را ورسیدو، که څوک یې أخلی نوحاضر دې شی[2].

نو په یوه موقع کښی رسول الله - صلی الله علیه وسلم – د جمعی په خطبه کښی لګیا دی چې په دغه وخت دحیة الکلبی را ورسیدلو او ډول یې ووهلو، نو د رسول الله - صلی الله علیه وسلم- ځینې عام صحابه کرامو د خپل ځایونو څخه پورته شول او له مسجد نبوی څخه ووتل تر څو چې یوڅه سامان

---

[1] - دروزة ،محمد عزت ،**التفسیر الحدیث** ،ج۷،ص ۳۲۸-۳۲۹ ، الطبعة الاولى ( ۱۳۸۳ هـ) ، الناشر: دارالاحیاءالکتب العربیة -القاهرة.

[2] - أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى : 458هـ)،**شعب الإيمان**،ج8،ص450، حققه وراجع نصوصه وخرج أحاديثه : الدكتور عبد العلي عبد الحميد حامد, أشرف على تحقيقه وتخريج أحاديثه : مختار أحمد الندوي ، صاحب الدار السلفية ببومباي - الهند الطبعة : الأولى ( 1423 هـ - 2003 م), الناشر : مكتبة الرشد للنشر والتوزيع بالرياض بالتعاون مع الدار السلفية ببومباي بالهند

تری واخلی، رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ورته کتل ، اوهیڅ یې نه ورته ویل چې کښېنئ ، درسول اله –صلی الله علیه وسلم- په چوپتیا کې کوم حکمت پروت وه، ځکه چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم - به په موقع او محل بیان کولو او بیان یې پر خلکو أثر کولو ، نو په دی وخت کښی مشران صحابه کرام - رضی الله عنهم - پاتی شول ، اورسول الله -صلی الله علیه وسلم- بیان ختم کړو.

نوالله تبارک او تعالی د جمعې مبارک سورة نازل کړو او مؤمنانو ته یې أدب او تعلیم ورکړ چې ای مومنانو د جمعی مبارکه ورځ ده او پر تاسو د نبی کریم –صلی الله علیه وسلم- خطبه او تبلیغ أوریدل ضروری دی[1] .

نو یاد شوي سورة په لومړي کښی یې الله متعال خپله لویي او عظمت بیان کړې چې د هغه لوی الله خبره آوریدل خو حتماً پکار دي ، بل داچې دا (رسول الله –صلی الله علیه سولم-) د الله تبارک او تعالی رسول دی او کوم عام سړی نه دی، بیا په دی رسول کښی شپږ کمالات شته ، په یهود و باندی دِ وَهَم دفع کولو لپاره رد شوی او بیا ورته فرمایي چې په تاسو مرګ را روان دی د هغی لپاره تیارئ وکړی .

بیا یې د جمعی آداب پکښې ذکر کړی چې کله د جمعې په ورځ د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- بیان شروع وی نو له بیان څخه مه تېرېږي او له مسجد څخه مه وځی ، د اسلام دین ډیر قیمتی شی دي ، تجارت او لهویاتو پسی تلل او دتبلیغ پرېښودل مناسب کار نه دی ، رزق او مال دالله سره دی ته دین غوره کړه الله به درله پراخه رزق درکړی ، د رزق ګټلو خپله وختونه شته په هغه وختونوکې یې ولټوي دجمعی لمونځ چې ادا کړای شو بیا دالله فضل (رزق) طلب وکړی.

أو بیا هم د الله د ذکر څخه مه غافله کېږي ، د دین په وخت کې د دنیا کار مه کوی ، بلکی د دنیا د کارونو لپاره نور وختونه هم شته چې په هغه وختونوکښې کولای شي خپلې دنیا ګټلو لپاره ځان بوخت کړی[2].

---

[1] - **القرآن الكريم وترجمة معانيه الى اللغة البشتو**، ج۲، ص۱۷۲۳، مترجم: د کابلی تفسیرپښتو ژباړې څخه اخیستل شوی، الطبعة الاولی(۱۳۹۸ هـ ش)، مجمع علمی خیریه عربستان برای افغانستان، الناشر: وزارت حج واوقاف جمهوری اسلامی افغانستان.

[2]- البشاوری؛ ابو محمد امین الله ، **تفسیر حکمة القرآن** ،ج۱۲، ص۲۵-۲۶، جمع وترتیب: ابوزهیرسیف الله، الناشر: مکتب المحمدیة، منګل مارکیت ګنج- بشاور.

**پنځم مطلب: د سورة الجمعة محور اساسی او فرعی موضوعات**

یقیناً د ځینې مهمو أمورو څخه په یو ځای کښی هغه دا دی چی مسلمان د قرآنکریم په تلاوة کښی د سورة د نوم په اړه فکر أو سوچ وکړی، دا ځکه چی د سورة د مدلولاتو څخه لوستونکی ته د سورة ټول مقصد یا موضوع ښکاره کیږی .

امام بقاعی وایي : چاچی د یو مبارکه سورة نوم او یو مراد او مطلب دسورة له نوم څخه وپیژندلو نو دغه شخص دسورة ټول مقصد وپیژندلو او د سورة مقصد د پیژندلو سره د آیتونو مناسبتونه هم پیژندل کیږی حتی د سورة ټول أجزاء معلوم او پیژندل کیږی[1].

نوموړی وایي چی ماته د اخبره ثابته شوی ده چی د هر سورة نوم د نوموړي سورة د مقاصدو مترجِم ګڼل کیږي ځکه چی د هرشی نوم ، د نوم او د یاد شوی نوم د مناسبتونو ترمنځ ښکارندوی وي او هر عنوان اجمالاً دلیل دی د هغه شي په تفصیل باندی[2]

مخکي له دینه چی د سورة په مقصد باندی خبره وکړو ، مناسبه داده چی هغه ظروف چی په هغه کښی دغه سورة نازل شوی بیان یې کړم ، ځکه د هغه حالاتو په پیژندلو سره موږ ته هغه پراخه دروازی چی د مقصد لاسته راوړلو په وړلاندې دی خلاصیږی او هغه اصلی هدف چی د هغه د وجهې دا سورة نازل شوی موږ ته ښکاره کیږی.

لکه څنګه چی د سورة د نزول ځای په اړه مو و ویل چی دا سورة په مدینه منوره کښی نازل شوی او دا راجح او صحی قول دی ، نو مسلمانان په مدینه کې داسې امورو سره مخامخ وو چې عبارت دی له جنګ ، مکر، فریب او دوکی څخه ځکه چی په مدینه کی داسې دوه ډلې أوسیدې چې دمکر اوفریب ښښتنان بلل کېدل چې یهود او منافقین ول ، نو یهودو رسول الله -صل الله علیه وسلم- او صحابه کرامو-رضوان الله تعالی علیهم اجمعین- سره د مجادلی تصمیم او قصد درلودلو په هر هغه مناسب وخت کې چې فرصت ورته لاسته ورشي ، او منافقینو د مسلمانانو د صفونو ترمنځ دحقد او حسد له

---

[1]- البقاعی؛ برهان الدين أبی الحسن ابراهيم عمر، **مصاعد النظرللاشراف على مقاصد السور** ، ج١، ص١٤٩-١٥٠ ، تحقيق وتعليق: عبدالسميع محمد أحمد حسنين، الطبعة الاولى(١٤٠٨هـ ـ١٩٨٧م) ، الناشر: مكتبة المعارف- الرياض.

[2]- البقاعی؛ برهان الدين ابی الحسن ابراهيم بن عمر( ١٤١٥هـ.)،**نظم الدرر فی تناسب الآيات والسور**، ج١، ص١٨، تحقيق: مجموعة من العلماء بدائرة المعارف العثمانية، الطبعة(١٤٠٤هـ ـ١٩٨٣م) ، الناشر: دائرة المعارف العثمانية – القاهرة.

لارې کله به چې د مسلمانانو ټولېدل او د صفونو يووالی يې د جمعې په ورځ ليدل هغوی (يهود او منافقين) د مسلمانانو ترمنځ د تفرقې او جلا کېدلو هڅې کولې ، کله چې د مسلمانانو چوپټيا يې د اسلام دين احکام او نبوی اخلاقو اورېدلو په وخت کې ليدل همدارنګه سربېره د دې چې مسلمانان به مسجد ته تلل ځينې نور داسې خلک پيدا کيدل چې د مال د ټولولو او کسبولو لپاره بازارونو ته راټوليدل او دخپل تجارت او پلورلو ته يې ادامه ورکوله ، چې دا تجارت به د ځينو عباداتو اداکولو پروخت ترسره کيده او صحابه کرام به يې له ځينې عباداتو څخه لکه دجمعې لمونځ او د خطبې اورېدلو غافله کول ، نو په دې وخت کې اړينه وه چې داسې يو سورة او حکم نازل شي چې د يادې شوې ستونزې حل او غافله زړونو درمل او تزکيه پکښې شوی وی او همدارنګه هغه يهودو او منافقينو ته چې په همدې وخت کې يې د فتنې اچونې قصد او هدف درلود پکښې چلنج او ځواب وي ، نو دا سورة نازل شو چې د جمعې سورة په نامه يادول کېږي، ترڅو مؤمنانو ته د يهودو او منافقينو نظر او پټ قصد واضحه کړی ، او هغه څه بيان کړي چې دغه لويه او عظيمه ډله پکښې بوخت او مصروفه دي، او هغه احسان چې دالله تبارک او تعالی له خوا پر هغوی شوئ بيان کړی چې يو له هغه انعاماتو څخه دمؤمنانو لپاره د جمعې ورځ ده نو له همدی کبله ممکنه ده چې و وايو د دې سورة اصلی مقصد او محور د مسلمانانو په ټولېدلو او دصف په وحدت باندی (حث) او تېزي کول دي چې دمسلمانانو مهمه او عظيمه اجتماع دجمعې په ورځ وی چې دا مقصد دتفسير اکثريته علماوو ذکر کړی دی.[1]

امام بقاعی وايي : چې د سورة مقصد د مسمی (الجمعة ) بيان کول دی په داسی دليل سره چې د دين د أمورو ښه واضح کونکی او د اسلام د حلقی ښه ترونکی چې هغه جمعه ده او سورة الجمعة د جمعې ورځې مقاصد بيانوی چې يوله مقاصدو څخه د جمعې په ورځ د اجتماع او د جمعې لمانځه فرضيت او د جمعې په ورځ د عبادت دقبلېدلو ښکارندوی دی ، همدارنګه په دې سورة کې د هغې تفرقې او فتنې ختمول دي چې د جمعې په ورځ د خطبې بيانولو په وخت کې يې يهودو غوښتنه کوله ،همدارنګه په دې سورة کې ناروغو خلکو ا ضعيفه زړونو لپاره د جمعې لمانځه اداکولو سره تزکيه ورکول دي.

---

[1] ـ مصاعد النظرللاشراف على مقاصد السور،ص٨٣.

نو پورته یاد شوي مقاصدو لرلو سره دې سورة ته ( سورة الجمعة) نوم مناسب دی لکه څنګه چې د سورة په لومړي او آخری آیتونو کې د الله په اوامرو باندې د قرآن پرآیتونو سره د تدبر او تفکر امر شوی، په دې توګه چې که د قرآن په آیتونو تدبر وشي مسلمانان د الهی احکامو په ترسره کولو د خپل زړونو په تزکیه کې هڅې او کوششونه کوي، لکه څنګه چې دنومړي په متعددو آیتونو کې ترې یادونه شوې [1].

د دې سورة محور د سورة اجمالی او عمومی موضوعاتو او د هر آیت جلا جلا موضوعاتو ته په کتو سره په دوه لاندې برخو ویشو:

### أ- دسورة الجمعة اصلی او اساسي محور لاندې اهدافو ته شاملېږي :

**لومړي** : دیهودو په قصدونو باندی ضمنی رد دی ځکه چې الله تعالی ورځ د (شنبی) یهودو لپاره اختر ګرځولی وه او مومنانو لپاره د اختر ورځ نه وه نو الله تعالی د مسلمانانو إکرام یې په داسې ورځ کې وکړ چې له نورو ورځو څخه مقام او منزلت یې ټولو ته ښکاره او منل شوې خبره وه چې هغه د جمعی مبارکه ورځ ده.

طاهر ابن عاشور [2] وايي چې: په نومړي سورة کې د یهودو د توطیې اظهار او رد په شوی ځکه هغوی په دې حسد کاوه چې څنګه دمسلمانانو د اختر ورځ چې دجمعې ورځ ده د یهودو د ورځ څخه غوره وي، نو الله متعال دهغوی توطیه رد او افشاکړه او همدارنګه مسلمانانو ته یې نور هم عزت او شرافت ورپه برخه کړ [3]

**دوهم** : په مؤمنانو باندی د جمعی د لمانځه د وجوب بیان دی ، او مؤمنانو ته تیزی ورکول دی چې په تېزی دې د جمعې لمانځه ته ولاړ شي او د جمعې د لمانځه څخه دې مخالفت نه کوي، ټول هغه چارې او بوختیاوې چې د جمعې د لمانځه پروخت ترسره کېږي او د جمعې لمانځه ادا کولو سره په ټکر کې وي

---

[1]- **نظم الدررج ٢٠**،ص٤۴ .

[2] - محمد بن الطاهر بن عاشور ، د تونس زیتونه پوهنتون شیخ او استاد دی، په دمشق او قاهره کې د عربی علمی ټولنو غړی وه، په (١٣٩٣هـ) کې وفات شو، وکتل شی: **الاعلام**، ج۶، ص١٧۴.

[3]- **التحریر والتنویر**،ج٢٨، ص٢٠۶.

معطل کړي شي، تردې چې د جمعې د لمانځه د آذان څخه وروسته ټولې دنیوى چارې اخیستل او پلورل او داسې نورې بوختیاوې منع دي او ترسره کول یې جواز نه لري.

**دریم :** د هغه أمورو بیان چې مؤمنان يې د جمعې لمانځه د اداء کولو څخه وروسته ترسره کوی لکه د ځمکی پر مخ د حلال رزق د پیداکولو او ګټلو لپاره خپریدل او دالله تعالی –جل جلاله- ډیر ډېر یادول او داسې نور.[1]

**څلورم** : دصحابه کرامو د نفوسو تربیت او د دوی د ایمان اوسلوکو او أخلاقو رفعت او پورته والی دی چې هغه د الله تعالی دین ته د خلکو دعوت کول او پرهغه قایم او مضبوط پا تې کېدل دي ،همدارنګه په فانی او له منځه تلونکي دنیا چارو باندې په داسې توګه بوختېدلو څخه منعه چې د جمعې لمانځه په وخت کې ترسره کېږي، همدارنګه په دې سورة کې دهغه ښوییدلو صحابه کرامو را ویښنول وه چې د جمعې لمانځه د خطبې څخه را پاڅېدل او هغه تجارتی کاروان پسې تلل چې له شام څخه یې دنیوی مالونه راوړي وه.[2]

نوپه اجمالی توګه ویلای شو چې د سورة الجمعة اصاسی محور د جمعې لمونځ احکامو بیانولوته، د جمعې لمونځ فضیلت چې دا داسی یو حکم دي چې الله تبارک او تعالی فرض کړی او همدارنګه په دې سورة کې دا بیان شوی چې کوم مؤمنانو باندې چې د جمعې لمونځ فرض دی باید دجمعې لمانځه اداکولوته ځانونه آماده او تیار کړي.

### ب-د سورة الجمعة فرعی موضوعات لاندې اهدافو ته شامل دي:

همدارنګه په دی سورة کښی ځینې فرعی مقاصد او اهداف شته چې په دی مرحله کښی ډیر مهم دی، ځکه چې دا فرعی اهداف د اصلی مقاصد (متمم) او تکمیلونکې دي، چې د سورة د محور په شکل سره ثابت شوی دی .

---

[1] ـ المفتی العام للمملکة العربیة السعودیة ورئیس هیئة کبار العلماء الرئیس العام للبحوث العلمیة والافتاء، عبدالعزیزبن عبدالله بن محمد آل شیخ ، **المختصرفی تفسیر القرآن الکریم**، ص۵۵۳،الطبعة الاولی( ۲۰۲۱م)، الناشر: طبع علی نفقة: هیئة الاعمال الخیریة العالمیة الامارات العربیة المتحدة.

[2] ـ **التحریر والتنویر**،ج۲۸، ص۲۰۶.

**لومړي فرعی محور : د الله تبارک او تعالی توحید او د رسول الله** -صلی الله علیه وسلم- **د بعثت هدف :**

د یاد شوي سورة په آیتونو کې ځینې مقاصد او مفاهیم شته چې دا مقاصد د آیتونو په تعداد سره په لاندې توګه ترې یادونه کوو چې اصلی مقاصد مو مخکې په اساسی محور کې بیان کړل او وروسته هم د آیتونو په احکامو کې ذکر کېږی.

**لومړي :** د ټولو مخلوقاتو ثنا او تسبیح خاص الله تبارک او تعالی-جل جلاله- لره .

**دوهم :** د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- او د هغه د امتیانو فضیلت ، همدارنګه په سورة الجمعة کې د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- تعلیمی او تربیتی مقاصد او اهداف بیان شوي.

**دریم :** درسول الله -صلی الله علیه وسلم- د دعوت د شمولیت بیان[1].

**څلورم :** د دې سورة په اول او آخر کې دالله تعالی د فضل او کرم بیان په دې امت باندی، په دی توګه چې الله تعالی ورته له رسولانو څخه غوره رسول او غوره دین له آسمانی ادیانو څخه ورکړئ او دا أمت یې د نورو أمتونو څخه غوره ګرځولای دی، چې دا په دی أمت با ندی د الله تعالی عظیم او لوی احسان شوی چې د شکر کولو مستحق ګڼل کېږي همدارنګه د شکر ترڅنګ پر هغه چارو او احکامو عمل کول اړین دي چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم- ځان سره راوړی، ترڅو دا امت هم یهودو په شان د الهی کتاب(تورات) دغورځولو له کبله وروسته له منلو څخه یې نشی، لکه څنګه چې هغوی د کتاب دویلو او لوستلو وروسته عمل یې پرې ونه کړ او الله متعال هغوی ته د خره لقب او مثال ورکړ[2].

سید قطب وایي : دغه فضل د الله تعالی چې په دی أمت باندی شوی او دا وروستی رسول -صلی الله علیه وسلم - چې الله تبارک اوتعالی په دی أمی قوم کښی چې عرب دی رالیګلی دا دالله تعالی یو عظیم احسان دی چې مستحق دشکر ګڼل کېږي ،نو دا لوی احسان دتکالیفو د برداشت غوښتنه کوی لکه څنګه دغه امانت او تکالیف مخکښې امتونو او د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د رسالت

---

[1] - **التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون والتغابن**، ص۶۶.
[2] - **القرآن الکریم وترجمة معانیه الی اللغة البشتو**، ص۱۷۲۱.

منونکو پرځان منلی وه چې دا رسالت نه پرېکېدونکی او ترقیامته پورې دوام لري، وروسته له هغه چې بنی اسرائیلو د دې أمانت له منلو څخه انکار کړی وه او خپل تعلق یې آسمانی امانت او لاربښونو څخه پرې کړی وه، نو دوی (بنی اسرائیل) چې تورات یې خپل شاته وغورځاوه لکه په شان د هغه خره وګرځېدل چې ورباندې کتابونه بارکړې او کتابونه حمل کړي خو پرې پوه نه وی چې پرما څه شی باردي ، کوم با ارزښته شي دي او که نه[1].

**دویم فرعی محور: د یهودو په زعم رد چې د امتونو ترمنځ د فضیلت ادعایې کوله**

سورة الجمعة دا پورتنی محور لاندې موضوعاتو ته شامله کېږي:

**لومړي :** د دوی پر زعم او ګمان رد څخه مخکې په دې سورة کې د یهودو حال بیان شوی چې دوی دخپل کتاب سره چې توراة وه در لوده یې ، د دوی د حال تشبیه دخره سره چې کتابونه پری بار وی ، همدارنګه په دې پورتني تشبیه کې دلالت د یهود په خساست او پستی دی.

**دویم :** د مؤمنانو ویرول او انذار په دې دي هغه څوک چې دوئ ته رالیږل شوی پیغمبر-صلی الله علیه وسلم- دی او د دوی خبرول په دې خبرې چې که دوی له خپل دین او کتاب څخه منحرف شول او لکه د یهودو بیرته شاته وګرځېدل او پر را لیږل شوي کتاب یې عمل ونه کړ نو دوی به هم لکه دهغوی مستقیمې او سمې لارې څخه لیرې شي، او تباهی کندې ته به وغورځېږي[2].

**دریم :** د یهودو په ګمان او زعم باندې رد دی چې وایی یواځې موږ د الله تعالی دوستان یو پرته له نورو انسانانو څخه او دوی هسې یوه ډله ده چې الله تعالی غوره کړیده او دا چې رسول به یواځې د همدې(بنی اسرائیل) له قوم څخه لیږل کېږي، د بشریت په نسل کې دا هغه ګمان دی چې دوی یې (لویې او تکبری ته ) کش کړی دی او نور قومونه چې له دوی څخه نه وی هغوی ته په خوار او ذلیل سترګه ګوري، نو الله تعالی د دوی د دعوی بطلان دمباهلی په وړاندی کولو یهودو ته ښکاره کړه، هغه مباهله چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم – هغوئ یې مقابلې او مباهلې ته بللی وه ، که څه هم

---

[1] - قطب، سید، **فی ظلال القرآن العظیم**، ج۶،ص۳۵۶۲ ،تحقیق: محمد شمس الدین، الطبعة الالی(۱۴۱۹هـ)، الناشر: دار الکتب العلمیة- بیروت.

[2] - **التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون والتغابن**، ص۶۷.

د قرآنکریم آیتونو دمباهلی نه منلو خبره په قطعیت سره بیانه کړې که په هروخت کې وي هغوی به مباهلې ته حاضر نه شي ځکه په دې پوهېدل چې د هغوی دعوی باطله ده[1].

**څلورم :** د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- تعلیم ورکول دی خپل أمت ته د هغه مستقیمې لارې چی هدایت ته نږدې او پردښمن باندې غالب کېدو ته نږدې وي، په دې توګه چې د هغوی خطا ګانې یې په ګوته کړې ترڅو له هغه څخه ځانونه وساتو ، نو یهود چی په انسانانو کې ژوند باندی حریصترین خلک وه ، هغوی ته وویل شول چې تاسو د دې کړنو ترسره کولو سره یواځې د مرګ تمنا او هیله کولای شي، نو هغوی یې الله تبارک او تعالی له ځمکې لرې کړل، ځکه الله د هغوی په حالت چې خپل آخرت ته یې ترسره کړي وه پوهېده نو الله د هغوی جزا او د عملونو بدله ورکړه، چې اتم آیت پرې دلالت کوی.

**پنځم :** د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د معجزی بیان دی په داسی توګه چی الله تعالی د یهودو د دعوی بطلان د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- راغوښتل شوي مباهلې ته په نه حاضرېدلو ثابته کړه چې اووم آیت کې ورته اشاره ده؛ او په دی یقین دی چی هیڅکله به دوی دا مباهله قبوله نه کړی که څه هم په مستقبل کی وی، ځکه دوی د خپل د دعوي پر بطلان پوهېدل، نو که چیرته دوی د خپلی دعوی په ریښتینوالی باندی او درسول په نه ریښتینو لی باندی پوهیدلی وای نو خامخا به یې آرزو او تمنی د مرګ کړی وه او دا د مباهلې فرصت به یې غنیمت ګڼړی وو او دخپلی دعوی اظهار به یې کړی وو، نو لکه څنګه چې دوی ریښتینی نه وو ځکه یې آرزو د مرګ هم ونه کړله[2].

**شپږم :** د حقیقی مرګ ثبوت دی چی له هغه څخه یهودو تیښته کوله ، حال داچې مرګ دوی سره چیرته چی دوی تیښته کوی ملګری دی ، او دوی ګرځول شوی دی هغه ذات ته چی هغه عالم دی په پټو او په ښکاره باندی نو دوی به خبر کړی په هغه أمورو چی دوی کړی دی ځکه دا یو ثابت امر دی چی تنها یهود تر دی پوری خاص نه دی بلکی د مؤمنانو په نفسونوکی به همدارنګه عمل کوی او

---
[1] - **نظم الدرر**، ج۲۰، ص۴۴.
[2] - **التحریر والتنویر**، ج۲۸، ص۱۸۴.

الله متعال د ټولو مخلوقاتو له حالاتو څخه خبر دی او ټول به مشخص او ټاکل شوي وخت پورې ژوندي وی او له هغه څخه به وروسته مري[1].

شیخ محمد عزة دروزة ویلی دی : د آیات مفهوم په قوت سره دا یادونه کوي چې یهود د دی خبری دعوه کوی چې الله تعالی بنی اسرائیل پر نورو خلکو په ولایة او نبوة سره خاص کړی دی نو د یادې شوې ادعا له کبله د محمد -صلی الله علیه وسلم- د نبوة څخه دوی منکر دی ځکه چې هغه د بنی اسرائیلو څخه نه دی ، نو دقرآن کریم متعدد آیتونه د دوي دا ادعا په کلکه رد کړې، په دې توګه چې نبوت د الله متعال انتخاب دی په خواری او زحمت لاس ته نه راځي چاته چې د الله غوښتنه شوې وی ورکوی یې، نو الله متعال په عربو چې امی قوم وه د نبی پر لېږلو پر هغوی باندې دا خپل فضل وکړ چې له هغوی څخه یې نبی انتخاب کړ، او هغوی یې پاک او هدایت کړل، هغوی ته یې علم او حکمت ور زده کړل، حال داچې یهود پر خپلې باطلی دعوې باندې دکبر له وجهې ولاړ او د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- له نبوت څخه منکر پاتې شول په دې توګه چې حق یې ښه پېژندلو خو ترې انکار یې کاوه، ځکه د دوې په آسمانی کتاب تورات کې د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- را تګ ته بشارت او زیری ورکړل شوی وه، او د یهودو دکبر او انکار نتیجه دا شوله چې دوی توراة ترک کړو او هغه څه چې توراة واجب کړی وو پر دوی باندی په هغی باندی ونه دریدل ، او دوی اعتراف هم ونه کړ په هغه بشارتونو باندی چې په تورات کښی وو ، نو دوی د دی خبری مستحق شول چې خره سره مشابه شی په دې توګه چې پر هغه د علم کتابونه بار وی او هیڅ ډول نفعه او ګټه ترې نه أخلی ، په دې کې شک نشته چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم- یهودو سره په یوه محضر او یوه زمانه کې په داسې حال کې مخامخ شو چې یهودو د هغه په اړه خپل کتاب کې معلومات لوستلي وه او بشارتونه یې لیدلی وه[2] لکه څنګه چې الله متعال فرمایي: ﴿ مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ﴾[3]

---

[1]- فی ظلال القرآن : ج۶، ص۳۵۶۲ .

[2] - الصابونی؛ الدکتور محمد علی، **صفوة التفاسير**، ج۳، ص۳۷۷، الطبعة الرابعة(۱۴۰۲هـ ـ۱۹۸۱م)، الناشر: دارالقرآن الكريم- بيروت.

[3]-سورة الجمعة/۵.

ژباړه: مثال د هغو کسانو چې په تورات باندې مکلف ګرځول شوي ول(چې پرې عمل وکړی) بیاکله چې هغوی دهغه پېتې پورته نکړ، دهغه خره په څېر دی چې کتابونه باندې بار کړل شوي وي(او ګټه ترې نشی اخیستلی).

د سورة الاعراف د دې آیت د مضمون په رڼا کې چې الله تبارک اوتعالی فرمایلی: ﴿ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ﴾[1]

ژباړه: نو(نن دارحمت د هغه چا په برخه دی چې) د دې نبی أمی پیغمبر پیروی یې غوره کړې، چې دهغه یادونه هغوی په تورات او انجیل کښې خپلې مخې ته لیکلې مومې.

نو یهودو سره له دومره بشارتونو چې د هغوی په کتاب کې هم موجود وه بیاهم رسو الله- صلی الله علیه وسلم- باندې یې ایمان نه راوړ، ځکه هغوی خپل ځانونه اوچت ګڼل او دا ادعا یې کوله چې مونږ بنی اسرائیل یو او پیغمبران به هم له بنی اسرائیل څخه باید وی او رسول الله- صلی الله علیه وسلم- له بنی اسرائیلو څخه نه وه نو ځکه یې نه منی[2].

نو د پورته لیکلو په رڼا کې ویلی شو چې د سورة الجمعة اصلی او اساسی محور د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- پر امت باندې د الله تبارک او تعالی منت ایښودل دی ، د دې امت غوره توب بیانول چې له ټولو امتونو څخه د آخرالزمان نبی در لودلو سره غوره دی او همدارنګه د جمعې ورځې فضیلت بیانول دي پر نورو عادی ورځو باندې او داچې دا فضیلت یواځې د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- امت ته ورکړل شوي.

[1]-سورة الاعراف/۱۵۷

[2] - دروزة؛ محمد عزت، **اليهود فى القرآن الكريم**، ص۷۴، الطبعة الرابعة، الناشر: المكتب الاسلامی- بيروت.

## دریم مبحث

## د سورة الجمعة مناسبت

د دې لپاره چې د سورة الجمعة څخه مخکینۍ سورة، ورستنۍ سورة او د خپل منځي موضوعاتو سره مناسبت بیان کړو نو لمړۍ به مناسبت وپېژنو او وروسته به هرې برخې سره یې مناسبت په جلا مطلبونو کې په لاندې توګه ذکر کړو:

**لومړی مطلب: د مناسبت پېژندنه**

دې لپاره چې مناسبت په ښه توګه وپېژندل شی نو لومړي دمناسبت لغوي معنې ګانې څېړو او وروسته د مناسبت اصطلاحی تعریف کوو ترڅو د سورة مناسبت مخکنی او وروستنی سورتونو سره او د یو آیت مناسبت بل مخکینی او وروستنی آیت سره معلوم کړو.

### أ- د مناسبت لغوی معنې ګانې:

مناسبت چې موافقت، علاقه، ارتباط او مشابهت ته وایی علماوو په لاندې توګه معنې کړې:

ابن فارس ویلی دی : چی نون ، سین او باء یوه کلمه ده ،چې په معني د قیاس او یو ځای والی د یو شی دی بل شی سره ، چی ځینې ترې د نسب معنې اخلی چی یونسل بل نسل سره متصله کوی، یا مستقیمه او سمه لاره ده چی دځینو اتصال دی ځینو نورو سره ، یعنی: داسې لاره ده چې جدایی او خنډ پکښې نشته[1].

[1]- معجم مقاییس اللغة ،ج٥، ص ٤٢٣- ٤٢٤ .

په لسان العرب کې ويل شوي : چی د دې دوه شیانو ترمنځ مناسبت نشته، يعنی هم شکله نه دی ، [1]
په مختار الصحاح کښی ذکر دي چی: (پلانی مناسب دپلانی دی) په دې معنې چې د دوی ترمنځ مناسبت شته او يو بل سره همشکله دی[2].

زرکشی وايي چی مناسبت په لغت کې : مقاربة ته وايی ، لکه فلان مناسب د فلانی دی ، يعنی قريب او هم شکله يي دی ، ځينې له مناسبت څخه د (نسيب ) معنې اخلی چی مناسب په معنې د قريب او اصل شی ته متصل کيږي ، لکه وروڼه ، د کاکا زامن او په مثل د دوی نور نږدې خپلوان، او که (متناسبين) وی بيا په معنی د ربط دی په دی معنې چې دې دواړو ترمنځ قرابت موجود دی ، ځينې ترې په علت کې د مناسبت معنې اخلي د قياس په باب کې چې وصف قريب د حکم بولي ، ځکه چی کله د وصف قرابت حاصل شی نو د وصف په شتون سره د حکم شتون حاصلیږي لکه څنګه چې په موصوف کې شتون لري[3]. نو حاصل داشوچی مناسبت په لغت کښی لاندې معنې ګانې لري : اتصال ،مقاربت ، او مماثلة .

**ب-د مناسبت اصطلاحي تعريف :**

د مناسبت اصطلاحی تعريف په اړه ويل شوي چې: مناسبت هغه څه دي چې هغه سره د اجزا وو ترتيب علت پيژندل کيږي، دا د بلاغت سر او راز دی د هغه معانيو تطبيق لپاره چې حال يې تقاضاکوی[4].

يا داچې مناسبت هغه علم دی چې دسورتونو او آياتو ترمنځ ربط او اړيکه رامنځ ته کوی[5].

يا په دې معنې چې مناسبت عبارت دی د يو سورة د آيتونو ترمنځ نوی مقصد رامنځ ته کول د دوه وو آيتونو ترمنځ د ربط ورکولو له لارې چې په دې سره د ټول سورة او ټولو آيتونو مطلب او مقصد د مکملو جملو په توګه لاسته راشي[1].

---

[1] ـ **لسان العرب** ،ج۱، ص۶۸۲ .

[2] ـ الرازی، زين الد ين محمد بن أبی بکر ، **مختارالصحاح** ،ص۶۸۸، تحقيق: محمود خاطر، دون طبعة(۱۴۱۵هـ ـ۱۹۹۵م)، الناشر: مكتبة لبنان ناشرون.

[3]ـ **البرهان فی علوم القرآن** ،ج۱، ص۳۵.

[4] ـ عبد الرحمن حسن حبنكة الميداني ، **البلاغة العربية أسسها وعلومها وفنونها**،ج۱،ص۲۴.

[5]ـ بازمول؛ محمد بن عمر بن سالم، **علم المناسبات فی السور والآيات**، ص۲۷، الطبعةالاولی(۱۴۲۳هـ ـ۲۰۰۲م)، المكتبة المكية، مكتة المكرمة- السعودية.

او مناع القطان وايي: مناسبت د قرآن په آيتونوکې دې ته وايي چې په يوه آيت کې يوې جملې له بلې جملې سره اړيکه ورکول دي، يا ديو آيت بل آيت سره يا داچې د يو سورة بل سورة سره اړيکه ورکول او د جملاتو مقاصدو ترمنځ يې ربط ورکول دي[2].

**دويم مطلب : د سورة الجمعة نوم او موضوعاتو ترمنځ مناسبت :**

سورة الجمعه داسې يو سورة دی چې د هغی نوم د دی سورة کلی موضوعاتو لپاره واضح کونکی دی ،[3] نو په دې سورة کښی د نوم او موضوعاتو ترمنځ مناسبت ښکاره او واضحه دی، ځکه د دې سورة نوم د سورة محور او افکارو سره مناسب نوم دی، لکه د جمعې لمانځه احکام چې په دې سورة کې واضح شوي دي، چې د جمعې په ورځ د جمعې لمانځه لپاره راټولېدلو فرضيت، د جمعې لمانځه ته ځواب ورکول او لمانځه ته راتلل، له نورو کارونو څخه ځان وژګارول، د جمعې لمانځه د خطبې پروخت له نورو چارو ترسره کولو ځان ساتل چې پکښې تفرقه او خطبې لپاره انقطاع راځي او داسې نورې چارې دي.

نو دې سورة ته د (الجمعه) نوم ورکول مناسب شی دي، ځکه دسورة مقصد پکښې بيان کېږي چې د الله تبارک او تعالی پر آيتونو چې په تواصل او اجتماع يې امر کړي تدبر کېږي، د جمعې لمانځه ته اجابت ورکولو سره د الله متعال پاکي او لويي بيانېږي او د الهی دين تابع داري کېږی[4].

**دريم مطلب : د سورة الجمعة پيل د سورت موضوعاتو سره مناسبت:**

دسورة الجمعة دشروع مناسبت د سورة د موضوعاتو سره يو نوی او نيک مناسبت دی ، نو د سورة په پيل کی د اهل آسمان او د ځمکی د تسبيح ويلو خبر ورکول دی خاص الله تعالی لره ، دا ځکه چی د سورة اصلی موضوع په اجتماع او د صف اوعقيدی په وحدت باندی تيزی ورکول دي، او جمعه د دغه اجتماع ښکاره کونکی ده ، نوبايد چې د جمعې لمانځه ته حاضر شو او ځانونه له نورو بوختياوو څخه

---

[1]- **نظم الدرر**، ج ۱ ، ص۵ .
[2]- **مباحث فی علوم القرآ ن** ،ص ۹۲ .
[3]- سعيد ؛ حوی ، **ألأساس فی التفسير**،ج۱۰، ص۵۹۰۴ ، الطبعة الاولی(۱۴۰۵هـ ـ۱۹۸۵م)، الناشر: دارالسلام- القاهرة.
[4]- **نظم الدرر** ،ج۲۰،ص۴۴ ، **تصاعد النظرللاشراف علی مقاصد السور**،ص۸۳ .

د لمانځه په وخت وساتو، لکه څنګه چې د سورة په پیل کې د تسبیح کولو یادونه شوې دا په دې معنې ده چې مونږ هم لکه د اهل السماء په شان د الله تسبیح او تحمید بیان کړو[1].

بل داچې د سورة د موضوعاتو څخه د نبی کریم -صلی الله علیه وسلم- د بعثت د مقاصدو ذکر شوی دی چې هغه د نبی کریم -صلی الله علیه وسلم- لخوا پر خپل امت باندی د قرآنکریم تلاوت او تعلیم او دوی له ټولو باطلو عقایدو څخه پاکول دي، نو د سورة په شروع کښې دالله تعالی د توحید او پاکی تعلیم ورکول شول نو مناسبه داده چې ټول هغه چارې چې د الله تعالی دجلال اوعظمت سره مناسب نه وی باید پرېښودل شي، چې د جمعې لمانځه سره پرېښودل کېږي ، همدارنګه په دې سورة کې د اسماء الله الحسنی او دالله تعالی د صفاتو تعلیم شوی چې ډېر عالی او برکتونه لري، همدارنګه سورة چې په تسبیح شروع شوی د یهودو په هغه ګمانونو رد شوی چې ځانونه یې د الله محبین ګڼل، څکه هغه خلک د الله محبین ګڼل کېږي چې د الله پاک په ویناوو عمل کوی او د الله تعالی ذکر اویاد په ژبه لري، حال داچې یهودو د الله پاک را لېږل شوی رسول او کتاب څخه انکار کړئ وه[2].

همدارنګه د الجمعة مبارکه سورة پیل دالله تبارک او تعالی په تسبیح سره شوی دی او خاتمه یې د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- د خطبی أوریدلو په أمر متضمنه ده، نو د سورة د موضوعاتو مناسبت د سورة پیل سره داده چې دخطبې په اورېدلو کې هم د الله تبارک او تعالی عظمت بیانېږي نو دا هم په دې معنې شوه چې د سورة پیل او خاتمه په دواړو کې دالله یادونه شوېده[3].

**څلورم مطلب : د سورة الجمعة شروع د سورة الصف خاتمی سره مناسبت :**

په دې ځای کښی دسورة پیل خاتمی ترمنځ مناسبتونه ښکاره او مضبوط ربطونه لري چې بعضی له هغه مناسبتونو او روابطو څخه دا دی :

**اول :** کله چې سورة الصف د بنی اسرائیلو دوه ډلو په بیان سره چې یوه ډله یې د الله متعال نصرة ته مخه کړه او بله یې پر الله متعال کافران او په شا شول او په نبیانو یې تېری وکړ او هغوی یې له منځه یوړل، نو سورة الجمعه د الله متعال په پاکي بیانولو پیل شوه، څکه د الله متعال د مرستو او نصرتونو

---

[1] - **التحريروالتنوير**، ج٢٨، ص٢٠۶.
[2] - **التناسق الموضوعى فى سورة الجمعة والمنافقون والتغابن**، ص٧٧.
[3]- **التحريروالتنوير** ،ج٢٨،ص٢٠۶ .

ښخه داده چې انسان د کافرانو له حال ښخه لرې پاتې شي او د الله متعال د دین نصرت وکړي چې دا نصرت د الله تعالی په ذکر او د هغه په دین باندې پاتې کېدلو سره لاسته راځي[1].

**دوهم :** کله چې سورة الصف پر حوارینو په ثنا ویلو او د هغوئ ښه پایلې په ذکر کولو او د هغوئ د ایمان توصیف او د هغوئ غوښتنو په قبلولو او مؤمنینو ته هغوئ پسې د اقتدا کولو په امر ختم شو، نو کېدای شي چې د ذینو په ذهنونو او ګمانونوکې داسې راغلی وي چې د عیسی-علیه السلام- تابع داري به درسول الله- صلی الله علیه وسلم- له تابعداري ښخه غوره وی، نو د همدې شک او شبهې له منځه وړلو لپاره الله متعال دا سورة پرمؤمنانو د ثنا او ستایلو په ویلو سره پیل کړه، ترڅو د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- او د هغه د امت پر غوره توب څرګندونه وشي.

همدارنګه نوموړی سورة دالله تعالی په پاکی بیانولو پیل او دالله تعالی د کامله صفاتو سره موصوف شوېده او دالله تعالی په بل صفت سره چې خیر الرازقین دی ختم شوې چې دا د صفتونو ذکر د نوموړي سورة پیل د دې سورة پای او ختم سره د مناسبت ښکارندوینه کوي[2].

**د ریم :**کله چې په سورة الصف کې الله متعال مومنانو ته له دښمن ښخه امن او د وېرې نشتوالی یاد کړ، هغه ښخه یې وروسته د الله د پاکوالی پر بیانولو او د هغه د قدرت پر پراخوالی ذکر او یادولو پیل کړ، هغه نعمتونه یې یاد کړل چې د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- پرامت باندې نازل شوي، لکه د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- را لېږل، د الله تعالی د کتاب تلاوت هغوی ته او داسې نور انعامات، نو دوی پر نورو ټولو امتونو غوره او غالبه وګرځېدل ، د اسلام دعوت پراخ او د اسلام دین پلویان پر نورو غالبه شول لکه ښنګه چې حوارینو د خپل دعوت خپلې زمانې کې مختلفو ځایونو ته پراخه کړي وه او پر نورو امتونو د غوره توب ادعا یې کوله، نو مسلمانان هم د دین پراخوالی له کبله پرنورو غوره او د نعمتونو خاوندان شول[3].

---

[1] - نخبة من علماء التفسير وعلوم القرآن باشراف الدكتور مصطفى مسلم، **التفسير الموضوعي لسور القرآن**، ج١، ص١٤٧، الطبعة الاولى(١٤٣١هـ)، كلية الدراسات العليا والبحث العلمي، جامعة الشارقة – الامارات العربية المتحدة.

[2] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية** ، ص١١.

[3] - **البحر المحيط**، ج٨، ص٢٦٣.

همدارنګه دسورة پیل تسبیج سره د هغه خلکو په کړنو ملامتی او بدی بیانول دي چې د سورة په آخر کې ترې یادونه شوې چې هغوئ د خطبې له اورېدلو څخه را پاڅېدل او ځانونه یې نورو دنیوی چارو سره بوخت کړل، ځکه مناسبه ورته داوه چې له نورو مسلمانانو سره ناست وی او خطبه یې اورېدلې وی، نو د دې سورة په اوله کې د مسلمانانو او د جمعې د لمانځه توصیف شوی پر هغو خلکو چې د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- د خطبې له اورېدلو ولاړ شوي او په د نیوي چارو یې ځانونه مشغوله کړي، نو دلته مناسبه خبره همدا ده چې د مسلمانانو او هغو کسانو چې دالله تسبیح او تحمید وایې توصیف وشي، چې هغوی هغه مسلمانان دي چې د جمعې لمانځه ته حاضر شوي د خطبې اورېدلو ترپایه پورې ناست او د اسلام دین ټولو لارښونوته پابند دي[1].

همدارنګه په دې مبارکه سورة کې یادونه شوې چې مطلق رازق الله –جل جلاله- دی نو له خطبې څخه را پاڅېدل او د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- وعظ او نصیحت له دې کبله نه اورېدل چې روزي به مې له لاسه لاړه شي بنه خبره نه ده، ځکه الله روزي ورکوونکی دی نو کله چې لمونځ تکمیل شو تاسې کولای شي د الله په یادولو سره د خپلو دنیوی چارو پسې وګرځئ ترڅو الله تبارک او تعالی تاسو ته پاکه او حلاله روزي درکړي [2].

امام سیوطی-رحمه الله- بیا ویلی دی چې : د جمعې سورة د الله متعال په تسبیح سره شروع او د الله متعال په تسبیح سره ختمه شوې ده[3].

**پنځم مطلب: د سورة الجمعة او سورة الصف مضامینو ترمنځ مناسبت :**

دسورة الجمعة او سورة الصف موضوعاتو ترمنځ عمیقه او کلکه اړیکه شته چې په لاندې توګه ترې یادونه کوو:

**لومړی:** دواړه سورتونه د تسبیح ویلو په آسانۍ (چې خپله لفظ د تسبیح پکې راغلی ) شریک دي.

---

[1]- **البحر المحیط،** ج۸، ص۲۰۶.

[2]- **نظم الدرر** ،ج ۲۰ ، ص ۷۲.

[3]- السیوطی ، جلال الدین أبی الفضل عبد الرحمن،**مراصد المطالع فی تناسب المقاطع والمطالع،** ص۱۶۲، تحقیق: محمدعمر بازمول،الطبعة الاولی( ۱۴۲۳ه)، المکتبة المکیة.

همدارنګه سورة الصف په (سَبَّحَ لِلَّهِ) چې ماضی لفظ دی پیل شوی دی چې په ماضی کې د تسبیح په ویلو دلالت کوي، نو اړینه داوه چې وروستی داسې کلمه راشي چې په حال او مستقبل کې پر تسبیح ویلو دلالت وکړي نو سورة الجمعة په (یُسَبِّحُ لِلَّهِ ) لفظ چې په حال او مستقبل د تسبیح پر ویلو دلالت کوي پیل شوه چې مخکښې اړتیا له منځه لاړه.

**دویم:** کله چې الله تبارک او تعالی په سورة الصف کې مومنانو سره مرسته او د هغوی بریالی کېدل ذکر کړل او د خپل حکمت او ارادې پر بنسټ هغوی یې پرکفارو او چت کړل پرته له دې چې هغوی ته کوم حاجت او اړتیا ولري ، نو مناسبه داوه چې وروستی سورة د الله د پاکې پربیانولو پیل شي ترڅو کفار په دې پوه شي چې الله متعال له ټولو نیمګړتیاوو څخه پاک دی او الله تبارک او تعالی ملک القدوس او عزیز الحکیم ذات دی چې له خپلو مخلوقاتو څخه غني او هغوی څخه بې نیازه دی، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمایلی: ﴿ یُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِی السَّمَاوَاتِ وَمَا فِی الأَرْضِ الْمَلِکِ الْقُدُّوسِ الْعَزِیزِ الْحَکِیمِ ﴾[1]

ژباړه: هرهغه څه چې په آسمانونو او هرهغه څه چې پرځمکه کښې دي، الله په پاکی سره یادوي، باچا، ټولواک،ډېرسپېڅلی، برلاسی او دحکمت څښتن دی.

نو د سورة الصف څخه وروسته الله تبارک او تعالی سورة الجمعة نازله او دالله سبحانه د پاکوالي په بیانولو یې پیل وکړ ترڅو ښکاره شی چې الله بی نیازه دی خو د خپلو مخلصو بندګانو مرسته کوي[2].

**دریم:** په سورة الصف کې الله متعال د موسي-علیه السلام- حالت د هغه قوم سره او د هغه قوم چې کوم آزار او اذیت موسي-علیه السلام- ته رسولای وه بیان کړل،خو په سورة الجمعة کې الله متعال د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- حالت او د دې امت فضیلت او غوره توب یې بیان کړ، ترڅو د دې امت اکرام شوی وی او نورو امتونو سره یې توپیر معلوم کړای شی.

همدارنګه کله چې سورة الصف پر حواریینو دښو کړنو او د ایمان منلو پر بنسټ ثنا وویل شوه او دهغوی ستاینه وشوه او مؤمنانو ته امر وشو چې د دوی(حواریین) سره ځانونه د ښو کړنو ترسره کولو

---

[1]- سورة الجمعة/۱.

[2]- الرازی، فخرالدین محمد بن عمر التمیمی الرازی الشافعی، (ت: ۵۴۴هـ)، **التفسیر الکبیر**، ج۳۰، ص۳، الطبعة الاولی(۱۴۲۱هـ)، دارالکتب العلمیة- بیروت.

کې مشابه کړی لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلی:﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونوا أنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أنصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أنصَارُ اللَّهِ﴾[1]

ژباړه:ای مؤمنانو! د الله مرستندویان شئ، لکه څنګه چې عیسی-علیه السلام- د مریم زوی حواریونو ته ویلی ول: د الله لوري ته(په بلنه کښې) زما ملاتړ کوونکي څوک دي؟ او حواریو نو ځواب ورکړئ وه، مونږ د الله مرستندویان یوو.

نو الله متعال په سورة الجمعه کې د مؤمنانو فضیلت او غوره توب د نعمتونو ورکولو سره یادکړل، لکه څنګه چې فرمایي: ﴿ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاء وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ﴾[2]

ژباړه: دا دالله فضل دی چې چاته یې خوښه شی ورکوي یې او هغه ستر لو رورنکی دی.

همدارنګه د حوارییڼو د ښه توب بیانولو څخه ځینو خلکو ته دا اوهام پیدا شوی وه چې نصارا به غوره وي د یاد شوي اوهام له منځه وړلو لپاره متصل سورة الجمعة را نازل شو ترڅو یاد شوی اوهام او شک له منځه لاړ شي او خلکو ته ښکاره شي چې د اسلام دین او د هغه پیروان چې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- امتیان دي، پرنورو امتونو غوره دي[3].

**څلورم:** په سورة الصف کې د الله تعالی نبی عیسی –علیه السلام- د یو بل پیغمبر راتک ته چې نوم یې احمد دی او له هغه څخه به وروسته راځي بشارت ورکړي وه، نو په سورة الجمعة کې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- بعثت یاد او ذکر شوی چې عیسی- علیه السلام- ورڅخه وړاندوینه کړې وه، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمایي:﴿ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ ﴾[4]

ژباړه: او دیو پیغمبر په اړه زیری ورکوونکی یم چې له ما څخه وروسته به راشي چې نوم یې احمد وی.

نو الله تبارک او تعالی په سورة الجمعه کې د هغه شي ذکر او یادونه کړې چې عیسی- علیه السلام – ترې وړاندوینه کړې وه لکه څنګه چې الله متعال فرمایي: ﴿هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ﴾[5]

ژباړه: (الله) هغه ذات دی چې په اُمیانو نا پوهانو کښې یې پیغمبر پخپله له همغوی څخه را پاځاوه.

---

[1] - سورة الصف/۱۴
[2] - سورة الجمعة/۴
[3] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية،** ص۱۱.
[4] - سورة الصف/۶
[5] - سورة الجمعة/۲.

په دې توګه د دې دوه سورتونو مضامینو ترمنځ مناسبت ښکاره کېږي.

**پنځم:** سورة الصف جهاد ته په امر کولو ختم شوی وه او دا جهاد يې الله تبارک او تعالی د تجارت په نامه یاد کړې وه، لکه څنګه چې الله متعال فرمايي: ﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ** ﴾[1]

ژباړه: ای مومنانو! آیا تاسې ته زه هغه تجارت وښيم چې له درد ناک عذاب څخه مو وژغوري؟

او سورة الجمعة يې د جمعې لمانځه ته په امر کولو ختم کړ او دايې ښکاره کړ چې هغه څه چې د الله په نزد شته هغه له دنيوی تجارت څخه غوره او بهتره دی، لکه څنګه چې الله متعال فرمايلی: ﴿ قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴾[2]

ژباړه: دوی ته ووایه: له الله سره چې څه دي، هغه د لوبې د ننداري او سوداګرۍ څخه غوره دي؛ او الله تر ټولو ښه روزي ورکونکی دی.

**شپږم:** په سورة الصف کې الله تعالی مومنانو ته امر کړی چې د جهاد او کفارو سره د جنګ په وخت کې په يوه صف کې ودرېږي، نو مناسبه ده چې د قتال څخه وروسته د جمعې سورة وی چې په هغه کې هم د صف يو والی او د اسلام په مناسکو او احکامو استقامت لزوم راغلی ؛ ځکه د جمعې په لمانځه کې جماعت شرط دی، پرته له نورو لمانځونو ځکه په هغو کې جماعت شرط نه بلکه سنت دی،نو که د جمعې لمونځ په جماعت ادا نشی مکلف کولای شي چې د ماسپښين لمونځ په یواځې توګه ادا کړي.

نو په دواړو سورتونو کښې صف تړلو او منظم کولو ته د عبادت تر سره کولو پروخت چې يو يې لمونځ بل يې د الله تعالی په لاره کښې جهاد کول دي اشاره شوې ده، لکه څنګه چې الله متعال فرمايلی:﴿ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنيَانٌ مَّرْصُوصٌ﴾[3]

---

[1] -سورة الصف/١٠
[2] -سورة الجمعة/١١
[3] - سورة الصف/۴

ژباړه: د الله تعالی خو هغه خلک خوښ دي چې دهغه په لاره کښې په داسې شان صف تړلي جنګېږي چې ګواکې هغوی یو محکم کړل شوی دېوال دی.

په دې توګه دسورة الصف او سورة الجمعة دمضامینو ترمنځ یو مناسبت په دواړه کښې دصف منظم کولو او یو والی موضوع ده چې په قتال او د جمعې لمانځه په وخت کې باید چې د مسلمانانو صفونه منظم او یو وي.

**اووم:** په سورة الصف کې الله متعال د بنی اسرائیلو حالات او موقف د هغوی د رسولانو سره او د هغوی منحرف کېدل او له سمې لارې وتل او هدایت پرېښودل د هغوی توصیف کول په فاسقینو سره بیان کړ، نو په سورة الجمعة کې هم د هغو قومونو موقف د آسمانی کتابونو په اړه او د هغوی ګټه نه اخیستنه له هغو کتابونو څخه او هغوی ته ګټې نه رسولو څخه یادونه شوې، چې الله متعال هغوی په ظالمینو توصیف کړي دي[1]، لکه څنګه چې الله متعال فرمایلی: ﴿ فَلَمَّا زَاغُوا أَزَاغَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ وَاللَّهُ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ﴾[2]

ژباړه: بیا کله چې هغوی( له حق څخه) کږېدل غوره کړل، نو الله تعالی د هغوی زړونه(دسمی لارې څخه) کاږه کړل، الله تعالی فاسقانو ته هدایت نه کوی.

نو الله تبارک او تعالی په سورة الجمعه کې د دغه بې لارې توب او کوږ والي مثال ذکر او هغوی یې لکه د خره وګڼل لکه څنګه چې په خره کتابونه باروي خو ترې ګټه نشي اخیستی، لکه څنګه چې الله متعال فرمایي: ﴿مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا﴾[3]

ژباړه: مثال د هغو کسانو چې په تورات باندې مکلف ګرځول شوي ول(چې پرې عمل وکړی) بیاکله چې هغوی دهغه پېټي پورته نکړ، د هغه خره په شبر دی چې کتابونه وربانديې بار کړل شوي وي(او ګټه ترې نشی اخیستای).

**اتم:** په سورة الصف کې الله متعال له اهل کتابو چې یهود او نصاری دي یادونه کړې او سورة الصف یې په دې آیت ختم کړی چې الله متعال فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونوا أنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ

[1] - **التفسیر الموضوعی لسور القرآن الکریم**، ج١١، ص١٤٨.
[2] - سورة الصف/٥
[3] -سورة الجمعة/٥.

مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أنصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أنصَارُ اللَّهِ فَآمَنَت طَّائِفَةٌ مِّن بَنِي إِسْرَائِيلَ وَكَفَرَت طَّائِفَةٌ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ ﴾[1]

ژباړه:ای مؤمنانو! د الله مرستندويان شئ، لکه څنګه چې عيسى-عليه السلام- د مريم زوی حواريونو ته ويلي ول: د الله لوري ته(په بلنه کښې) زما ملاتړ کوونکي څوک دي؟ او حواريو نو ځواب ورکړئ وه، مونږ د الله مرستندويان يوو، په هغه وخت کې د بنی اسرائيلو يوې ډلې ايمان راوړ او بلې ډلې انکار وکړ، بيا مونږ د مؤمنانو د دښمنانو پرضد د هغو ملاتړ وکړ او همغوی برلاسي شول.

نو له پورتني واقعې يادولو څخه وروسته مناسبه داوه چې د قريش کفارو ذکر وشي، چې الله متعال هغوی ته رسول ليږلی چې د الله متعال په اړه دلايل او نښې نښانې بيان کړې د الله تعالی د کتاب آيتونه يې پرې ولوستل هغوی يې حق خبرو ښودلو سره پاک کړل، هغوی ته يې کتاب او حکمت زده کړل، خو بياهم ځينو يې ايمان را نه وړ، نو الله متعال په سورة الجمعة کې فرمايلي: ﴿ هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾[2]

ژباړه: (الله) هغه ذات دی چې په اُميانو نا پوهانو کښې يې پيغمبر پخپله له همغوی څخه را پاځاوه چې هغو ته ددغه(قرآن) آيتونه لولی، د هغوی ژوند سپېڅلی کوي، او هغوته دکتاب او حکمت ښوونه کوي، پداسې حال کې چې له دې څخه مخکې هغوی په ښکاره ګمراهۍ کښې غورځېدلي ول.

نو د دې آيتونو ترمنځ مناسبت د اهل کتابو او د مکې مشرکينو حالت بيانول دي چې له هغوی(اهل کتابو) څخه ځينو يې په خپلو پيغمبرانو ايمان راوړی وه او الله دهغوی مرسته وکړه او د مکې قريښو څخه په لومړيو کومو کسانو چې په رسول الله-صلی الله عليه وسلم- ايمان راوړی وه نو الله تعالی د هغوی مرسته هم وکړه[3].

**شپږم مطلب: د سورة الجمعة او سورة المنافقون ترمنځ مناسبت**

---

[1] - سورة الصف/١۴

[2] - سورة الجمعة/٢.

[3] - **التفسير الكبير**، ج٣٠، ص٣.

د سورة الجمعة او سورة المنافقون ترمنځ مناسبتونه او اړیکې ډېرې روښانه او ټولوته ښکاره دي دا ښکاره توب له قرائنو څخه ښکاري چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم- به دا دوه سورتونه د جمعې په لمانځه کې تلاوت کول چې د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- قصد په لویې معنې ګانې او مناسبتونه او مسایل دی چې دا دوه سورتونه یو بل سره نږدې کوی، چې مونږ ته دا مناسبتونه په درې لاندې خواوو کې ښکاره کېږی:

**أ- لومړی اړخ: د سورة پیل**

الله تبارک او تعالی د سورة الجمعه په پیل کې د هغو مؤمنانو حال بیان کړ چې ورته امی نبی لېږل شوی او هغوی ته د الله تعالی کتاب لولي ، پا کوی یې د الله تعالی کتاب تعلیم ورکوی په هغه کې کوم حکمتونه چې ذکر دی ورته یې ښایي، نو په سورة المنافقون کې د سورة الجمعې لومړی مفاهیمو ضد چې د منافقینو کړنې چې د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- په نبوت یې پر دروغو ګواهی ورکوله او په ظاهره کې یې ایمان راوړی وه خو د ایمان مطابق یې عملونه او کړنې نه وې یادونه شوې.[1]

**ب- دویم اړخ: د سورة الجمعة خاتمه او سورة المنافقون پیل**

الله تعالی د سورة الجمعة په آخر کې هغه مؤمناتو ته تحذیر ورکړ چې د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- د خطبې ویلو وخت کې له جومات څخه ووتل او خطبې ته یې شا وکړه چې دا کار نفاق سره ورته والی لری، نو د سورة المنافقون په لومړی کې د منافقانو حال چې له دوی څخه هم بد وه یاد شو چې دا عمل لکه د یهودو کړنې په شان دی چې تورات یې واخیسته بیایې څنګه چې اړینه پرې عمل یې ونه کړ.[2]

همدارنګه لکه څنګه چې د مسلمانانو وتل له جومات څخه د منافقانو کړنه وه په دې توګه چې لومړی منافقین کله چې د قافلې راتګ آواز یې واورېده ووتل او مسلمانان هم ورپسې شول، ځکه چې د لوړې وخت وه، ن له هغه څخه وروسته په سورة المنافقین کې د منافقانو یاد شوی چې د

---

[1] - السیوطی، **تناسق الدرر فی تناسب السور**، ص۱۲۴، والراغی، أحمد مصطفی، **تفسیر الراغی**، ج۲۸، ص۱۰۵، الطبعة الاولی(۱۳۶۵هـ -۱۹۴۶م)، الناشر: مکتبة ومطبعة مصطفی البابی الحلبی وأولاده- القاهرة.

[2] - **نظم الدرر**، ج۲۰، ص۷۴.

مسلمانانو کړنې نه خوښوی خو ظاهراً د هغوی پیروی کوی همدارنګه د منافقانو کړنه سمه نه ده خو ځینو مسلمانانو سره له دې چې د هغوئ قباحت باندې پوه ول بیایې هم تابعداري وکړه .[1]

بله داچې د سورة الجمعې په آخر کې مسلمانانو ته غبږ شوی وه چې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- تابعداری او تعظیم د خطبې اوریدلو سره وکړی او د پیغمبر متابعت په نورو چارو مخکې کړی، نو په وروستنی سورة چې المنافقین دی په هغه کې د ترک تعظیم خبره شوېده چې دا د منافقانو کړنه او عادت دی .[2]

**ج- دریم اړخ: د سورتونو ترمنځ مشترکه موضوعګانې**

**لومړی:** دا دواړه سورتونه د ګمراهان او دروغ ویونکو توصیف په اړه مشترک دي:

په سورة الجمعة کې د یهودو په زړه او ظاهره کې درواغ ویل ذکر شوی دی چې هغوی په حق باندې پوهېدل خو بیایې هم پرهغه عمل نه کاوه نو د هغوی مخ اړونه د استکبار او ځان اوچت ګڼلو له امله وه، نو په سورة المنافقون کې د هغوی بل ډول مخ اړونه یاده شوې چې ژبې یې زرونو سره، ظاهر یې باطن سره یو شان نه دي، چې دا ډول مخ اړونه یې تکذیب او نفاق ګڼل کېږی.

امام رازی –رحمه الله –وایي: "د سورة المنافقون ارتباط ورکول مخکېنی سورة سره دا ده چې په سورة الجمعة کې د هغه چا مثال ورکړل شوی چې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- بعثت یې په زړه او ژبه کې تکذیب کړ، لکه څنګه چې الله متعال فرمایي: ﴿**مثل الذین حملوا التوراة**﴾[3] نو په سورة المنافقون کې د هغه چا مثال یاد شوی چې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- بعثت یې په زړه تکذیب کړ نه په ژبې، په ژبه یې تصدیق وکړ نه په زړه[4]".

**دویم:** دواړه سورتونه د رزق مسأله معالجه او د روزی ورکونکی بیان ته رسیدګی کوی[5]

---

[1] - **البحر المحیط**، ج۸، ص۲۶۷.

[2] - الرازی، ابو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسین التیمي الملقب بفخر الدین الرازي خطیب الري (ت:606هـ). **التفسیر الکبیر "مفاتیح الغیب**، ج۳۰، ص۱۲، **الطبعة الثالثة**(1420هـ).دارإحیاء التراث العربی. بیروت.

[3] - **سورة الجمعة**/5.

[4] - **مفاتیح الغیب**, ج30, ص12

[5] - محمد رشید بن علی رضا (ت: 1354هـ)،**تفسیر القرآن الحکیم (تفسیر المنار)**ج۴،ص۱۸۲، الطبعة( 1990 م),الناشر : الهیئة المصریة العامة للکتاب.

په سورة الجمعة کې الله تبارک او تعالی-جل جلاله- په ځمکه کې د خپرېدلو، درزق او خواړو غوښتلو امر کړی، په دې شرط چې مسلمان باید د روزي غوښتل د الله له یاد څخه غافله نه کړي، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمایلی: ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾[1]

ژباړه: نو کله چې لمونځ ادا شي، نو خواره شئ، په ځمکه کې او ولټوئ د الله تعالی فضل او الله ډېر ډېر یادوئ ښايي چې تاسو بريا ته ورسېږئ.

لکه څنګه چې د رزق په غوښتلو کې له هغه چا څخه یې هڅولی چې د خزانو چابې ګانې ورسره دي چې هغه الله تبارک او تعالی دی، الله تعالی فرمايي: ﴿ وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴾[2]

ژباړه: ووایه! هغه څه چې الله سره دي، ډېر غوره دي، دلوبې ننداري نه او د سوداګرۍ څخه او الله تعالی غوره رزق ورکوونکی دی.

نو په سورة المنافقون کې ګورو چې د همدې آیت او خبرې معنې په ډېرو واضحو او ښکاره الفاظو یادونه شوې، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمايي: ﴿وَلِلَّهِ خَزَائِنُ السَّمَوَاتُ وَالْأَرْض﴾[3]

ژباړه: (حال داچې) د آسمانونو او د ځمکې خزانې يواځې الله سره دي.

**دریم:** په دواړو سورتونو کې د الله یاد غافلېدو څخه تحذیر او د الله فریضه ادا کولو ته امر دی:

په سورة الجمعة کې راغلي چې: ﴿وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ♦ ﴾[4]

ژباړه: او کله چې دوی وګوري سودا ګري، یا کومه لوبه ننداره کړي، نو خورېږي هغې ته او تا پرېږدي ولاړ.

---

[1] **- سورة الجمعة/١٠**
[2] **- سورة الجمعة/١١**
[3] **- سورة المنافقون/٧**.
[4] **- سورة الجمعة/١١**

او په سورة المنافقون کې يې په تأکيد سره ويلي چې تاسو د الله له ياد څخه ستاسو مال او اولادونه غافله نکړي او له لهوې څخه يې منع کړي، لکه څنګه چې الله متعال فرمايلي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلا أَوْلادُكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِکَ فَأُوْلَئِکَ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾[1]

ژباړه: اى هغو کسانو! چې ايمان مو راوړى ، تاسو دې غافل نه کړي، ستاسو مالونه او نه (دې) ستاسو او لادونه(تاسوغافل کړي) د الله له ياد څخه او چا چې وکړ دا کار نو دغه خلک همدى تاوانيان دى.

**څلورم:** د دواړو سورتونو پاملرنه د الله تعالى ذکر ته په هر حالت کې[2]:

دواړه سورتونه د مسلمان بنده په وجدان او زړه کې د الله تعالى د ذکر اهميت په ژبه او ارکانوکې ځاي پرځاى او زرغونوي چې په خبرو، کړنو او حتى د روزي په طلب او غوښتلو کې بايد چې الله ياد کړي، نو په سورة الجمعة کې د الله تعالى يادولوته پرکوښښ او سعيې امر شوى، لکه څنګه چې الله متعال فرمايي: ﴿فاسعو الى ذکر الله﴾[3] او همدارنګه په دې کې کومه- د دنيا او آخرت کاميابى چې د الله په ذکر لاس ته راځى يادونه شوې، لکه څنګه چې الله تعالى فرمايي: ﴿وَاذْكُرُواْ اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلَحُونَ﴾[4]

ژباړه: او الله ډېر ډېر يادوى ښايي چې تاسو بريا ته ورسېږى.

نو په سورة النافقون کې د الله ذکر لپاره ترتيب او له تفريط څخه ځان ساتلو په اړه خبره شوې، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالى فرمايي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلا أَوْلادُكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِکَ فَأُوْلَئِکَ هُمُ الْخَاسِرُونَ﴾[5]

[1] - **سورة المنافقون/٩.**
[2] - مفاتيح الغيب، ج٢٩،ص٥٣٣.
[3] - **سورة الجمعة /٩.**
[4] - **سورة الجمعة/١٠.**
[5] - **سورة المنافقون/٩.**

ژباړه: ای هغو کسانو! چې ایمان مو راوړی، تاسو دې غافل نه کړي ستسو مالونه او نه ستاسو اولادونه، (تاسو غافل نکړی) د الله له یاد څخه او چاچې وکړ دا کار، نو دغه خلک همدوی تاوانیان دي.

**پنځم:** په دواړو سورتونو کې تأکید په دې شوی چې حقیقة او اخبار ته اعتبار ورکول کېږی نه اظهار او ادعا ته:

په سورة الجمعة کې ګورو چې اعتبار حقیقت ته ورکړل شوی نه هغه څه ته چې خلکو یې ادعا کړې[1] او په علم باندې عمل ته اعتبار ورکړل شوی نه په علم باندې ډېرې پوهې ته، نو یهودان د کتابو نو څښتنان ول او پرې پوهېدل خو کله چې خپل علم او کتابونو باندې یې عمل ونه کړ څه ګټه یې ورته ونه رسوله او الله تبارک او تعالی هغوی ته داسې مثال پېښ کړ﴿ مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ﴾[2]

ژباړه: مثال د هغو کسانو(یهودي علماؤو) چې په تورات مکلف وو، بیایې په هغې عمل ونه کړ، دوی د هغه خر غوندې دي چې کتابونه پرې بار وي، ډېر بد دی، د هغه قوم مثال، هغه کسان چې دروغ یې وګڼل، د الله آیتونه.

په سورة المنافقون کې هغه څه وینو چې منافقینو پرې فخر کاوه چې هغه د ژبې فصاحت، د بیان ښه توب، او د ظاهري ښې ښایست وه چې کوم اعتبار ورته نه دی ورکړل شوی ترڅو چې زړونو ته یې ایمان دننه نه شي، نو الله تبارک او تعالی د هغوی مذمت او بدوالی بیان کړ، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمایي: ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ وَإِن يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ﴾[3]

ژباړه: او کله یې چې وګورې تابه حیران کړی، د دوی بدنونه او که دوی خبرې کوي، ته به غوږ ږدې، د دوی خبروته لکه دوی چې دېوال ته لګول( درول) شوي لرګي وي، دوی ګومان کوي، په

---

[1] - مفاتيح الغيب،ج ٣٠،ص٥٣٧.
[2] **- سورة الجمعة/٥.**
[3] **- سورة المنافقون/٤.**

هرې چغې(داسې لکه چې) په دوی (بلاراغله) همدوی(ستا) دښمنان دي، نو ځان ترې ساته، الله دې دوی هلاک کړي دوی کومې خوا(اړول کېږی) روان دي.

**شپږم:** دواړه سورتونه د اسلام دوه سخت دښمنانو څخه خبرې کوي:

د سورة الجمعة په څلور آيتونو کې د يهودو ذکر شوی، په سورة المنافقون کې د منافقانو يادونه په اته آيتونو کې شوې، نو څوک چې تاريخ لولی او پکې ځير کېږی او واقعيتونه لټوي؛ په دې پوهېږي چې يهود او منافقين دوه مختلفې ډلې او له نورو څخه ډېر د اسلام دښمنان دي چې اسلام او مسلمانانو پر ضد يې په مختلفو ځايونو په مختلفو شکلونو سره مقابله او مخالفتونه کړي، لکه څنګه چې د منافقانو خطر اسلام ته ډېر او عظيم دی نو د منافقانو د خطر يادونه په ډېرو آيتونو کې شوې حتي دا چې ورته يو کامل سورة نازل او د منافقانو په نوم نومول شوی چې دا د قرآن کريم له اعجازو څخه هم ګڼل کېږي، په دې توګه چې صادقه مؤمنان يې د دې دوه خطرناکو ډلو له مکائدو او حيلو څخه و وېرول[1]، نو تاريخی پېښې دا ثابته کړېده چې يهود او منافقين ډېره عميقه علاقه او اړيکه د اسلام د بدنامولو او له منځه وړلو کې درلوده، په دې توګه ويلی شو چې منافقين هيڅ وخت نه شو کولای چې مسلمانانو ته مستمره او دوامداره ضررونه ورسوی او مسلمانان ډوکه کړي مګر دا چې يهودو ورته اسباب برابرول او مشورې يې ورکولې، د يهودو او منافقينو ترمنځ به تل معاهدې او تړونونه ول او هيڅ کله هم د هغوی اړيکې ضعيفه نشوې ترڅو چې الله تبارک او تعالی-جل جلاله- د خپل نبی رسول الله-صلی الله عليه وسلم- يې پرهغوی غالبه کړ او دهغوی دسيسې او فريبونه ښکاره شول او له مصيبتونو او شرونو څخه يې مسلمانان په امن کې شول[2].

**اووم:** په دې دواړو سورتونوکې د يهودو او منافقانو ترمنځ د مشترک شيانو يادونه شوې:

يهودو په سورة الجمعة کې د الله تعالی دوستی دعوی کړېوه پرته له نور خلکو څخه، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمايي: ﴿إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاء لِلَّهِ مِن دُونِ النَّاسِ﴾[3]

---

[1] - أبو جعفر محمد بن جرير الطبري (224 - 310)،جامع البيان في تفسير القرآن للطبري,ج22ص۶۲۹، المحقق : مكتب التحقيق بدار هجر. الطبعة : الأولى, الناشر : دار هجر.

[2] - **التناسق الموضوعى فى سورة الجمعة والمنافقون والتغابن،** ص۵۹.

[3] - **سورة الجمعة**/۶.

ژباړه: که تاسو ګومان کوئ، چې ښځکه تاسو، دوستان یاست الله لره، پرته له نورو خلکو.
نو الله تبارک او تعالی هغوی په دې ادعا کې دروغجن وګڼل.
او په سورة المنافقون کې منافقانو د خپلو لپاره د عزت ادعا کړېوه پرته له نورو خلکو، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمايي﴿لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهُمُ الْاذل﴾[1]
ژباړه: نو خا مخا به( دوی) وباسي، چې (په خپل ګومان) عزتمند خلک دي، د مدينې څخه خوار ذليل خلک(چې مومنان دي).
نو الله تبارک او تعالی دوئ يې خپلو په ادعا ګانو کې تکذيب او دروغجن کړل[2].
همدارنګه په سورة الجمعة کې الله تعالی د هغوی ويره او تېښته له مړينې څخه او حرص يې په ژوند باندې ښکاره کړی، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمايي: ﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ هَادُوا إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاء لِلَّهِ مِن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (6) وَلا يَتَمَنَّوْنَهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ﴾[3]
ژباړه: ووايه: ای هغو کسانو! چې يهودان شوي ياست که تاسو ګومان کوئ، چې ښځکه تاسو، دوستان ياست الله لره، پرته له نورو خلکو، نو د مرګ آرزو وکړئ، که تاسو رښتينې ياست، (الله وايي) او دوی به د مرګ آرزو ونه کړی هيڅکله، د هغو عملونو له امله چې مخکې لېږلی دي د دوی لاسونو او الله تعالی ښه پوه دی په ظالمانو.
او په سورة المنافقون کې د منافقانو صفت او وېره ښکاره شوې ، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمايي: ﴿يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِم﴾[4]
ژباړه: دوی ګومان کوي په هرې چغې(داسې لکه چې) په دوی (بلا راغله).
او په آخر کې سمدلاسه د منافقانو حرص په ژوند باندې ګورو چې هغوی غواړي ژوندي پاتې شي، الله تبارک او تعالی فرمايي: ﴿ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلا أَخَّرْتَنِي إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ﴾[5]
ژباړه: نو بيا وايي ای زما ربه! ولې دې ماته وخت رانه کړ تر يوې نږدې نيټې پورې.

---

[1] - سورة المنافقون/٨.
[2] - التحريروالتنوير،ج٢١،ص٢٨٣.
[3] - سورة الجمعة/٦-٧.
[4] - سورة المنافقون/٤.
[5] - سورة المنافقون/١٠.

کله چې د اسلام او مسلمانانو دښمنی یهودو سره ښکاره او جوته وه او خلکو ورته دښمني ویلې، نو قرآن عظیم الشأن یو بل ډول دښمنی یې موږ ته ښکاره کړله چې هغوی سره دښمني هم نشی کېدای د دوی له دښمنی څخه سخته ده ځکه د مسلمانانو په منځ کې دی او خلک پرې د مسلمانانو ګمان کوی خو غواړي چې د اسلام ستنې له بیخه وباسي،نو ځانونه خبر او ترې وساتی چې هغوی منافقان دي او ستاسو دښمنان دي، الله تبارک او تعالی فرمايي: ﴿هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ﴾[1]

ژباړه: همدوی (ستا) دښمنان دي، نو ځان ترې وساته.

همدارنګه سورة المنافقون د یهودو او منافقینو ترمنځ ځینې مشترکات بیانوی، په دې توګه چې د قرآن عظیم الشأن په متعددو آیتونو کې راغلی چې بخل د یهودو له اوصافو څخه ګڼل کېږی نو په سورة المنافقون کې د منافقانو بخل ښکاره شو، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرايي: ﴿ هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لا تُنفِقُوا عَلَى مَنْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنفَضُّوا ﴾[2]

ژباړه: دوی همغه خلک دي چې(خپلوکې) وايي، تاسو لګښت مه کوئ په هغه چا، چې رسول الله سره دي، تر دې چې خواره شي.

**اتم:** په دواړو سورتونو کې د مرګ حقیقت بیان شوی:

په سورة الجمعة کې بیان شوی چې مرګ یو حتمی حقیقت دی چې په هغه کې هیڅ شک نشته او خامخا به پر بندګانو راځي، د حریص سړي حرص او ورڅخه د ساتونکی سړی ساتل یې نه بچ کوی[3]، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمایلی: ﴿ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ◆ ﴾[4]

ژباړه: وفرمایه: بېشکه هغه مرګ چې تاسو تختی له هغې څخه، نو بیشکه هغه تاسو سره ملاقات کونکی دی، بیابه تاسو ور ستانه شئ، (هغه ذات) ته چې په پټو رازونو خبر دی او په ښکاره (هم خبردی)، نو هغه به تاسو خبرکړي، په هغه څه چې تاسو به کول.

---

[1] - **سورة المنافقون**/۴

[2] - **سورة المنافقون**/۷.

[3] - د وهبة بن مصطفى الزحيلي ,**التفسير المنير في العقيدة والشريعة والمنهج**,ج1,ص229, الطبعة : الثانية ( 1418 هـ), الناشر : دار الفكر المعاصر - دمشق

[4] - **سورة الجمعة**/ ۸.

په داسې حال کې چې په سورة المنافقون کې کورو چې د مرګ څخه یې یادونه کړې او ویلی یې دي چې له مرګ څخه مه غافله کیږی، ځکه کومه نیټه چې ورته ټاکل شوې له هغه څخه نه وروسته کیږی، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمایي: ﴿ وَلَن يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاء أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾[1]

ژباړه: او هیڅکله الله نه وروسته کوي، یو ساکښ، کله چې راشی(پوره شی) د هغه نیټه او الله تعالی خبر دی ، په هغه څه چې تاسو یې کوئ.

**نهم:** په دواړو سورتونوکې مرګ ته آمادګی لپاره په نیکو اعمالو ترسره کولو سره غوښتنه شوې[2]:

د سورة الجمعې په درې آخره آیتونوکې الله تعالی مؤمنانو ته امر کړی چې د جمعې لمونځونه ادا کړی، د الله ډیر ډیر ذکر وکړی، لهو او بیهوده خبرې او هغه تجارت چې مؤمن بنده د الله تعالی د اطاعت څخه غافله کوی پریږدی، الله تبارک او تعالی فرمایلی: ﴿وَذَرُوا الْبَيْع﴾[3]

ژباړه: او پریږدی اخیستل او خرڅول.

او په وروستني آیت کې یې فرمایلی:﴿ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾[4]

ژباړه: او الله ډیر ډیر یادوئ ښایي چې تاسو بریاته ورسئ.

او له دې آیت څخه وروسته په بل آیت کې یې فرمایلی چې:﴿ **قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ**﴾[5]

ژباړه: ووایه: هغه څه چې الله سره دي ډیر غوره دي د لوبې ننداري نه او د سوداګری څخه او الله تعالی غوره رزق ورکونکی دی.

همدارنګه د سورة المنافقون په درې وروستني آیتونو کې کورو چې الله تعالی له لهویاتو څخه مال او اولاد سره یې منع کړي یو او په نفقه کول او صدقه ورکولو یې مخکې له دې چې د انسان عمر پای ته

---

[1] **- سورة المنافقون/١١.**
[2] **- التفسير المنير،**ج٢٨،ص١٨١
[3] **- سورة الجمعة/٩.**
[4] **- سورة الجمعة/١٠.**
[5] **- سورة الجمعة/**١١.

ورسېږی او مرګ راشی امر يې کړی، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمايي: ﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلا أَوْلادُكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ (9) وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلا أَخَّرْتَنِي إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ (10) وَلَن يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاء أَجَلُهَا وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ**﴾[1]

ژباړه: ای هغو کسانو! چې ايمان مو راوړی، تاسو دې غافل نه کړي، ستاسو مالونه اونه(دې) ستاسو او لادونه(تاسو غافل کړی) د الله له ياد څخه او چاچې وکړ، دا کار ، نو دغه خلک ، همدوی تاوانيان دی او لګښنت ېږئ، دهغه مال څخه چې موږ تاسو ته درکړی دی، له دې مخکې ، چې راشي، له تاسو څخه يو تن ته مرګ نوبياوايي ای زما ربه! ولې دې ماته وخت رانه کړ، تر يوې نږدې نيټې پورې، چې ما صدقه ورکړې وای او زه شوی وای د صالحانو څخه او هيڅکله الله نه وروسته کوي، يو ساکښ، کله چې راشی(پوره شی) د هغه نيټه او الله تعلای خبر دی، په هغه څه چې تاسو يې کوئ.

**لسم:** په سورة الجمعة کې د مؤمنانو صفونو يوځای کولو او د تفرقې څخه ځان ساتنې ته غوښتنه شوې او په سورة المنافقون کې د تفرقې او استقرار له منځه وړلو بديو په اړه خبره شوې او ترې ځان ساتلو ته امر شوی[2].

په سورة الجمعة کې الله تبارک او تعالی د مؤمنانو صفونو يو والي ته په ايمان سره غږ کړی، چې دا د عقيدې يو والی دی، له دې څخه يې وروسته د الله غوښتنې اجابت ته يې چې په يوه مشهوره ورځ چې په اونۍ کې معلومه ده د الله ذکر کولو ته غږ شوی چې دا د وخت او زمان يو والی دئ، له دې څخه يې وروسته په يو ځای کې د يو امام شاته را ټولېدلو ته غوښتې چې يو له بل څخه بيل نشی

---

[1] - سورة المنافقون/٩-١١
[2] - التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون والتغابن، ص٦١

او صفونه بيل نكړي چې دا توحيد د مكان دی، چې دا د وخت او مكان يو والی هغه څه دی چې د منافقانو قهر او غضب ډېر ښورروی او د هغوی كينه او وېره پاروي، په دې توګه چې هغوی پوهېدل چې د مؤمنانو د قوة او عزت نقطه د هغوی په توحيد او يو والي كې دئ ، ځكه هغوی د خپلو په منځ كې يې اعلان وكړ او دايې شعار وه چې هغه كسان چې رسول الله- صلى الله عليه وسلم- سره دي هغوی باندې انفاق او مصرف مه كوی ترڅو چې ترې جدا او خواره واره شی، لكه څنګه چې الله تبارک او تعالى فرمايي: ﴿**هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لا تُنفِقُوا عَلَى مَنْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنفَضُّوا وَلِلَّهِ خَزَائِنُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لا يَفْقَهُونَ**﴾[1]

ژباړه: دوی همغه خلک دي، چې (خپلوكې) وايي، تاسو لګښت مه كوئ په هغه چا چې رسول الله- صلى الله عليه وسلم- سره دي، تر دې چې خواره شي او(حال داچې) يواځې الله سره دي د آسمانونو خزانې او دځمكې، وليكن منافقان(په دې راز) نه پوهېږي.

**يوولسم:** د دواړو سورتونو ترمنځ مشتركه نور شيان هم شته[2]:

دا دواړه مدنی سورتونه دي، د دواړو آيتونو تعداد يوولس ، د دواړو كلماتو تعداد يو سل او اتيا كلمې[3] دي او دواړه په حرف نون سره ختم شوي[4].

---

[1] - **سورة المنافقون**/٧.

[2] - محمد عزت دروزة ،**التفسير الحديث**،ج٢،ص٤٤٥، الطبعة( 1383 هـ),الناشر : دار إحياء الكتب العربية القاهرة, دار الغرب الإسلامي ـ دمشق

[3] - **البيان فى عد آى القرآن**، ص٢٤٦-٢٤٧.

[4] - **التناسق الموضوعى فى سورة الجمة والمنافقون والتغابن، ص٦١.**

## څلورم مبحث

## د سورة الجمعة فضیلت ،دسورة الجمعة ځینې آیتونو په اړه نور قرائتونه  او ځانګړ تیاوې یې

دا مبحث په دریوو مطالبو ویشل شوی چې په لومړي مبحث کې د سورة الجمعة فضیلت په اړه، په دوهم مطلب کې د سورة الجمعة ځینې آیتونو په اړه نور قرائتونه ذکر شوي او په دریم مطلب کې د سورة الجمعة ځینې ځانګړتیاوې په لاندې توګه ذکر شوي.

**لومړی مطلب: د سورة الجمعة فضیلت**

لکه څنګه چې جمعې ورځ فضیلت لری او جمعې ورځ او دجمعې لمانځه ته دفقراوو عمره ویل شوې نو همدارنګه سورة الجمعة هم لکه څنګه چې د جمعې په لمانځه کې تلاوت کېږي ځانته ځانګړې فضایل لري، که څه هم ټول قرآن تلاوت کول عبادت ګڼل کېږي که په هره ورځ او هروخت کې په اوداسه تلاوت شي خو بیاهم د جمعې په ورځ اجر او پاداش یې ډېردی، نو سورة الجمعة فضیلت لکه څنګه چې په احادیثو کې ذکر شوي په لاندې توګه دی.

**1- عن ابن عباس –رضى الله عنهما- «أن رسول الله-صلى الله عليه وسلم-كان يقرأ فى صلاة الجمعة بسورة الجمعة والمنافقون»**[1]

ژباړه: له ابن عباس-رضى الله عنه- څخه روایت دی چې: رسول الله-صلى الله عليه وسلم- د جمعې په لمانځه کې سورة الجمعة او سورة المنافقون تلاوة کاوه.

2- امام مسلم-رحمه الله- روایت کوی چې ضحاک بن قیس نعمان بن بشیر-رضی الله عنه- ته لیک واستاوه او له هغه څخه یې پوښتنه وکړه چې: رسول الله-صلى الله عليه وسلم- د جمعې په ورځ د سورة الجمعة پرته کوم سورة تلاوت کاوه؟ هغه و ویل: رسول الله –صلى الله عليه وسلم- دا سورة: **﴿هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا﴾**[2]

ژباړه: آیا پر انساد باندې د زمانې یو وخت داسې هم تېر شوی دی چې هغه کوم د یادونې وړ شي نه وه؟

دا پورته یاد شوی آیت سورة یې د جمعې په لمانځه کې هم لوستلو[3].

3- دسورة الجمعة د فضيلة په اړه راغلی چې : عن ميسرة قال: أن هذه الآية مكتوبة في التوراة بسبع مائة آية { يسبح لله ما في السموات و ما في الأرض الملك القدوس العزيز الحكيم }[4]

ژباړه: له میسره-رضی الله عنه- څخه روایت دي چې دا (دسورة الجمعة لومړی آیت) په تورات کې هم اوه سوه ځله لیکل شوی.

نو د دې آیت اوه سوه ځله لیکل د دې سورت پرفضیلت باندې دلالت کوی.

**دویم مطلب: د سورة الجمعة ځینې آیتونو په اړه نور قرائتونه**

---

[1] - **صحيح مسلم**، الحديث رقم(٨٧٩).

[2] -**سورة الانسان/١**.

[3] - **صحيح مسلم**، الحديث رقم(٨٧٨).

[4] - محمد بن عبدالله أبو عبدالله الحاكم النيسابوري ،**المستدرك على الصحيحين مع الكتاب : تعليقات الذهبي في التلخيص** ،ج2،ص529، تحقيق : مصطفى عبد القادر عطا،الطبعة الأولى ( 1411 – 1990)،الناشر : دار الكتب العلمية – بيروت(سكت عنه الذهبى فى التلخيص).

د ياد شوي سورة د لومړی آيت په اړه کوم متواتره او د ياد شوي او مشهور تلاوت پر خلاف نه دی ذکر شوی او ټول اختلافات چې د قرائت په اړه دي په اصولو[1] کې اختلاف دی د قرائت په فروعاتو کې کوم اختلاف نشته[2].

خو د ياد شوي آيت د جزئياتو په اړه چې غير متواتره قرائتونه شته هغه د أبی وائل شقيق بن سلمة او أبو الدينار قرائتونه دي چې د ﴿المُلک﴾ کلمه د (م) په رفع تلاوت کوی او همدارنګه د أبوالدينار تلاوت دی چې د ﴿القَدوس﴾ کلمه يې د (ق) په فتحې تلاوت کړيدي[3].

بيا د بلې جملې په اړه د ابن مسعود-رضی الله عنه- څخه داسې تلاوت هم نقل شوی چې (کمثل حمار) يعنې حمار پرته له الف او لام څخه راغلی حال دا چې په نورو قرائتونو کې(کمثل الحمار) ذکر شوی[4].

همدارنګه ځينې نور قرائتونه چې له اصولو څخه مخالف هم دی نقل شوي لکه:

(عَلَيْهِمُ) ابن کثير او داسې ځينې نورو هم له دوی څخه پيروی کړې او دا کلمه يې د وصل په صورت کې د (ميم) په پيښ سره تلاوت کړی، همدارنګه حمزة او يعقوب د (هاء) په ضمې سره لکه(عَلَيْهُمْ) د وقف او وصل په صورت کې تلاوت کړي خو نور بيا د (ها) په کسرې سره يې تلاوت کوی[5].

همدارنګه حمزة او يعقوب په (يُزَكِّيْهُمْ ) کې (ها) په ضمې سره تلاوت کړی چې دا تلاوتونه د اصولو څخه مخالفت ګڼل کيږی، خو لکه څنګه چې هغوی ځانته په همدې حرکاتو معنې ورکوله نو هغوی ته کومه ستونزه نه درلوده[6].

په بل آيت کې ورش د(تَفِرُّونَ مِنْهُ) او (فَانْتَشِرُوا) جملې د (را) په ترقيق او باريکه ويلو سره تلاوت کړي حال داچې د تجويد علم قواعدو له مخې (را) پيښ لري او په دواړو ځايونو کې بايد چې په تفخيم سره ولوستل شی[1].

---

[1] - د اصولو څخه مقصد هغه قواعد او اصول دي چې پرتولو جزئياتو يې د تطبيق او پلي کېدو وړتيا ولري، استعمال يې په قرائتونوکي ډېراو حکم يې يو وي.
[2] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية**، ص١٩.
[3] - **المحرر الوجيز فى تفسير الكتاب العزيز**، ج٥، ص٣٠٦.
[4] - **المحرر الوجيز فى تفسير الكتاب العزيز**، ج٥، ص٣٠٦.
[5] - **البدور الزاهرة**، ص١۴
[6] - **البدور الزاهرة** ، ص٣٨.

په (وَ هْوَ) کې البصری، علی او جعفر د (هاء) په سکون سره او نورو په ضمې سره تلاوت کړی، همدارنګه په(بِئْسَ) کې ورش، سوسی او ابوجعفر همزه نه تلاوت کوی او پرېږدی یې .[2]

## دریم مطلب: د سورة الجمعة ځانګړتیاوې او اوصاف

### لومړی برخه: د سورة الجمعة ځانګړ تیاوې

#### أ- سورة الجمعة له مفصلو سورتونو څخه دی

له مفصلو سورتونو څخه مراد او هدف دا دی چې په یوه سورت کې ډېر موضوعات د یوې بسم الله ویلو سره ذکر شوی وي، نو په سورت الجمعة کې هم په یوې بسم الله څو موضوع ګانې یادې شوي، د دې ډول سورتونو په اړه ګن شمېر احادیث را نقل شوی چې د سورت فضیلت او غوره توب ښایي، لکه د دې حدیث: **عن واثله بن الاسقع-رضی الله عنه- عن النبی –صلی الله علیه وسلم- قال: « اعطیت مکان التوراة السبع[3]، وأعطیت مکان الزبور المئین[4]، وأعطیت مکان الانجیل المثانی[5]، وفضلت بالمفصل[6] »[7]**

ژباړه: له وائله بن الاسقع-رضی الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله-صلی الله علیه وسلم- وویل: د تورات پرځای اوه اوږد سورتونه راکړل شوی، د زبور پرځای د سلو آیتونو سورتونه راکړل شوی، او د انجیل پرځای مثانی سورته چې د طوال او مئون ترمنځ دي راکړل شوی او په مفصلو سورتونو راکړل شوو سره پر نورو فضیلت راکړل شوی.

---

[1] - استادان دیپارتمنت ثقافت اسلامی پوهنتون کابل، **درس هایی در علم تجوید**، ص۷۲، ، الطبعة الاولی(۱۴۰۲ هـ ش)، الناشر: انتشارات سید حسیب الله، کابل- افغانستان.

[2] - **البدور الزاهرة**، ص۳۴،

[3] - د سبع څخه مراد هغه اوه اوږده سورتونه دی چې له سورة البقرې پیل او په سورة التوبه ختمېږی. ځکه سورة البرائة او انفال یو ګڼې.

[4] - مئن هغه سورتونه دی چې سل آیتونه یا د هغه شاوخوا آیتونه ولری.

[5] - مثانی څخه مراد هغه سورتونه دی چې د سلو آیتونو څخه کم وی ، په دې معنې چې د طوال او مئن څخه وروسته سورتونه مثانی نومېږی چې په هغوی کې دعبرة، خبر، قصص او داسې نور شیان پکښې وی او د قرآن اکثره سورتونه مثانی نومېږی.

[6] - مفصل هغه سورتونه دی چې په لنډ والی کې مثانیو سره نږدی وی، په دې نوم ځکه نومول شوی چې ډېر فصلونه پکښې وی، ځینې وایی له دې کبله ورته مفصل وایی چې : منسوخ شوی آیتونه پکې کم وی، له همدې کبله ورته محکم هم ویل شوی، د لومړي په ټاکلو کې یې په دولس قولونو اختلاف شوی، هغه قول چې ډېرو پرې اتفاق کړی دا دی چې لومړی یې سورة القتال دی: **البرهان**، ج۱، ص۲۴۵، **الاتقان**، ج۱، ص۱۷۳.

[7] - **مسند الامام أحمد**، ج۲۸، ص۱۸۸، برقم(۱۶۹۸۲)، هیثمی ویلی: په دې سند کې عمران القطان شته، چې ابن حبان او نورو ثقه ګڼلی، نسائی ضعیفه ګڼلی، خو نور خلک یې ثقه او قوی دی، **مجمع الزوائد**، ج۷، ص۱۱۱، برقم( ۱۱۶۲۵ ).

**ب-له مسبحاتو سورتونو ځخه دی**

مسبحات هغه سورتونه دی چې په (سبح) امر او ماضی ، (یسبح) مضارع او (سبحان ) په مصدر صیغې سره پیل شوی وي، دا مسبحات اوه دا سورتونه دي: سورة الاسراء، الحدید، الحشر، الصف، الجمعة، التغابن او سورة الاعلی، چې نور سورتونه د نورو الفاظو او جملو سره پیل شوي.[1]

د دې ډول سورتونو په اړه هم کڼ شمېر احادیث را نقل شوی، چې ځینې یې په لاندې توګه ذکر کوو:

**عن عبدالله بن عمرو- رضی الله عنه- قال: «أتی رجل رسول الله- صلی الله علیه وسلم- فقال: أقرئنی یا رسول الله» فقال: «اقرأ ثلاثاً من ذوات الر» فقال: كبرت سنی، واشتد قلبی، وغلظ لسانی، قال: «فاقرأ ثلاثاً من ذوات حم» فقال مثل مقالته، فقال: « اقرأ ثلاثاً من المسبحات» فقال مثل مقالته، فقال الرجل: یا رسول الله أقرئنی سورة جامعة، فأقرأه النبی –صلی الله علیه وسلم- (اذا زلزلت الأرض) حتی فرغ منها، فقال الرجل: والذی بعثك بالحق لا أزید علیها أبدا، ثم أدبر الرجل فقال النبی-صلی الله علیه وسلم- افلح الرویجل مرتاً»**[2]

ژباړه: له عبدالله بن عمرو-رضی الله عنه- ځخه روایت دی چې فرمایي: یو سړی رسول الله- صلی الله علیه وسلم- ته راغی او ویې ویل: ای د الله رسوله! ځه شي تلاوت وکړم؟ وره یې وویل: درې سورتونه چې په الر پیل شوی وی تلاوت کړه، هغه سړی وویل: عمر مې ډېر دئ، زړه مې کلک شوی او ژبه مې پخه او سخته شوې، نو ورته یې وویل: درې سوته چې په حم شروع شوی وی تلاوت کړه، دې سړي مخکینی خبرې تکرارکړې، ورته یې وویل: درې هغه سورتونه تلاوت کړه چې په المسبحاتو شروع شوی وی، بیایې مخکېنی خبرې وویل او زیاته یې کړه چې: ای د الله رسوله! ماته یوه جامع سورة وښایه، نو رسول الله-صلی الله علیه وسلم- ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ﴾ تلاوت کړ ترځو چې ختم یې کړ، نو هغه سړي وویل:

---

[1] - **التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون والتغابن**، ص۴۴.
[2] - **ابو داود**، کتاب شهر رمضان، باب زیب القرآن، برقم(۱۴۰۱) وضعفه الالبانی.

په هغه ذات مې قسم وی چې ته يې په حق لېږلی يې پر دې به هيڅ کله هم زياتی ونه کړم او سړی شا وکړه او ولاړ، نو رسول الله-صلى الله عليه وسلم- وويل: سړي بيا يو ځل کامیابه شو.

که څه هم په دې حديث کې د سورة (الزلزال) فضيلت ذکر شوی خو مخکې له هغه څخه يې د سورة المسبحات توصيه کړې چې سورة الجمعة هم له مسبحاتو څخه ده.

همدارنګه په بل حديث کې راغلی چې: **عن العرباض بن سارية[1]-رضى الله عنه- « أن النبى-صلى الله عليه وسلم-كان يقرأ المسبحات قبل أن يرقد، ويقول: ان فيهن آية أفضل من ألف آية»**[2]

ژباړه: له عرباض بن ساريه-رضى الله عنه-څخه روايت دی چې رسول الله-صلى الله عليه وسلم- مخکې له دې چې ويده شي مسبحات سورتونه يې تلاوت کول، او ويل يې چې: په دوی کې داسې آيت شته چې له زرو آيتونو څخه غوره دی.

**د- د جمعې په لمانځه کې ويل کېږی**

همدارنګه د دې سورة په اړه چې د جمعې په لمانځه کې سورة المنافقون سره ويل کېږی ځينې احاديث نقل شوی لکه څنګه چې مخکې هم ذکر شول چې مونږ يې دلته هم د مثال په ډول ذکر کوو:

- **عن عبدالله ابن عباس –رضى الله عنهما- « أن النبى –صلى الله عليه وسلم-كان يقرأ فى صلاة الفجر يوم الجمعة﴿الم تنزيل السجده﴾﴿هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَنِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ﴾، و أن النبىَّ-صلى الله عليه وسلم-كان يقرأ فى صلاة الجمعة: سورة الجمعة والمنافقون»**[3]

---

[1] - العرباض بن سارية، هغه: عرباض بن سارية السلمى أبو نجيح مشهوره صحابى، د اهل صفه وو څخه وو، ډېر يې مخکې اسلام منلی وو، حمص ته ولاړ، په سنن اربعة کې يې احاديث نقل شوی، په پنځه او ياوو کې وفات شوی. وکتل شی: الأصبهانى، أحمد بن عبدالله بن مهران، **معرفة الصحابه**، ج۴، ص۴۸۲، تحقيق: عادل بن يوسف العزازى، الطبعة الاولى(۱۴۱۹هـ)، الناشر: دارالوطن للنشر- الرياض.

[2] - **ابوداوود**، كتاب الأدب، باب ما يقال عند النوم، برقم(۵۰۵۹)، والترمذى، كتاب فضائل القرآن عن رسول الله-صلى الله عليه وسلم- برقم(۲۹۲۱)، وقال الترمذى: حديث حسن غريب.

[3] - **صحيح مسلم**، كتاب الجمعة، باب مايقرأ فى يوم الجمعة، برقم(۲۰۶۸).

ژباړه: له عبدالله ابن عباس-رضی الله عنهم- څخه روایت دی چې رسول الله-صلی الله علیه وسلم- د جمعې ورځ په سهار لمانځه کې (الم تنزیل) او(سورة الدهر) تلاوت کاوه او د جمعې په لمانځه کې به یې سورة الجمعة او سورة المنافقون تلاوت کاوه.

- **عن ابن ابی رافع[1]-رضی الله عنه- قال: « استخلف مروان أبا هريرة-رضی الله عنه- على المدينة و خرج الى مَكَّةَ فصلى لنا أبو هريرة الجمعة فقرأ بعد سورة الجمعة فى الركعة الآخرة ﴿اِذَا جَاءَکَ الْمُنَافِقُوْن﴾ قال: فأدركت أبا هريرة حين انصرف، فقلت له : انّک قرأت بسورتين كان على بن أبى طالب يقرأ بهما بالكوفة؟ فقال ابوهريرة: انى سمعت رسول الله-صلى الله عليه وسلم- يقرأ بهما يوم الجمعة»[2]**

**ژباړه:** د ابی رافع له ځوی څخه روایت دی چې وایي: مروان ابو هریرة-رضی الله عنه- خپل ځای ناستی په مدینه کې وټاکه او خپله مکې ته ولاړ، نو ابو هریرة –رضی الله عنه- مونږ ته د جمعې په لمانځه کې سورة الجمعة او په آخری رکعت کې اذا جاءک المنافقون ولوسته ، نو وایي :کله چې لمانځه څخه خلاص شوو ما ابو هریرة را ګیر کړ او ورته مې وویل: تا هغه دوه سورتونه ولوستل چې علی-رضی الله عنه- په کوفه کې د جمعې په لمانځه کې لوستل! ابو هریره وویل: ما له رسول الله- صلی الله علیه وسلم-څخه او رېدلي وه چې دا دوه سورتونه یې د جمعې په لمانځه کې لوستل.

**هـ- د سورة الجمعه ځینې آیتونو فضیلت**

د سورة جمعې د لومړی آیت فضیلت په اړه د ځینې صحابه کرامو څخه آثار نقل او روایت شوی چې په لاندې توګه ترې یادونه کوو:

[1] - هغه: عبیدالله بن أبی رافع المدنی د نبی کریم-صلی الله علیه وسلم-مولی وه، دعلی ابن ابی طالب-رضی الله عنه-کاتب وه، په حدیثو کې ډیر ثقه وه او څو روایتونه یې نقل کړی، وکتل شی: **تهذیب التهذیب**، ج۷، ص۱۰.

[2] - **صحیح مسلم**، کتاب الجمعة، باب مایقرأ فی یوم الجمعة ، برقم(۲۰۶۳)، سنن ابوداود، باب تفریع ابواب الجمعة، باب مایقرأ به فی الجمعة ، برقم(۱۱۲۶)، ابن ماجه، باب ما حاء فی القراءة فی الصلاة، برقم(۱۱۷۲).

**"عن ميسرة[1] أن هذه الآية مكتوبة فى التوراة بسبعمائة آية ﴿يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ﴾[2] آية الاولى من سورة الجمعة[3]"**

ژباړه: له ميسره څخه نقل شوی چې دا آيت په تورات کې په اوه سوه ځله ليکل شوی دی، يعنې دسورة الجمعة لومړی آيت.

**دويمه برخه: د سورة الجمعة اوصاف**

1- دا سورة په دې صفت ځانګړی شوی چې لومړنی سورة دی چې د اونۍ په يوې ورځې باندې نومول شوی چې د جمعې ورځ ده.

2- دا يواځينی سورة دی چې په دې کې د جمعې ورځې او د جمعې لمانځه آداب او احکام بيان شوي چې د سورة کلی موضوع هم همدا ده.

3- دا يواځينی سورة دي چې د يهوديانو حال يې د کتاب الله په مقابل کې بيان کړی او د هغوی مثال يې په کتاب باندې د نه عمل کولو له وجه خره سره تشبيه او مثال ور کړی چې د مخکينې خلکو اسباب حملوی خو پرې نه پوهېږی، په دې توګه د مثال ورکولو کې دا سورة يواځې دی او دا د دې سورة له اوصافو څخه ګڼل کېږي.

4- همدارنګه دا يواځينی سورة دي چې په دې سورة په مسجد النبی کې رامنځ ته شوې پېښې يادونه شوې چې رسول الله-صلى الله عليه وسلم- يې د خطبې ويلو په حالت کې يواځې پرېښوده او خلک ترې ولاړل او را رواني قافلې او خپلو دنيوي چارو پسې وګرځېدل او

---

[1] - ميسره: هغه ميسره بن مسروق العبسى د عبس يو د وفدونو څخه وه، رسول الله –صلى الله عليه وسلم- سره په حجة الوداع کې يې ګډون درلود، ديمامه غزا او دشام په فتحه کې يې هم برخه اخيستې وه. وکتل شى، العسقلانى؛ احمد بن على ابن حجر العسقلانى، (ت: ۸۵۲ه ق) **الاصابة فى معرفة الصحابة**،ج۶، ص۲۳۸، تحقيق: على محمد البحاوى، الطبعة الاولى(۱۴۱۲هـ)، الناشر: دارالنيل- بيروت.

[2] - سورة الجمعة/۱

[3] - الحاكم، أبو عبدالله النيسابورى، **المستدرک على الصحيحن**، باب تفسير سورة الجمعة برقم(۳۸۰۸) ، ج۲، ص۵۲۹،تحقيق: مصطفى عبدالقادر عطا، و بذيله: التلخيص، للحافظ الذهبى، الطبعة (۱۴۱۱هـ ـ۱۹۹۰م)، الناشر: دارالكتب العلمية- بيروت. وسكت عنه الذهبى فى التلخيص، اى من حكم الحديث. ذهبى په تلخيص کې د دې حديث له حکم څخه چوپ پاتې شوی، چې په دې توګه په فضايلو کې د منلو وړ دی.

رسول الله- صلی الله علیه وسلم- سره پرته له یو څو محدودو صحابه کرامو-رضوان الله تعالی علیهم اجمعین-  نور پاتې نشول[1].

## دویمه برخه
## دسورة الجمعة د مقاطعو( آیتونو) تفسیر او ترجمه

لکه څنګه چې مخکې مو په تمهیدی معلوماتو کې وویل دا بحث مو په دوه برخو ویشلي چې په لومړي برخه کې د سورة مقدماتی معلومات مو راټول کړي او په دویمه برخه کې سورة الجمعة چې یولس آیتونه لری په څلورو مقاطعو ویشو او د هر آیت په اړه ترجمه، تفسیر او لاسته راغلی احکام په لاندې توګه ذکر کوو:

### لومړی مقطع
### ( لومړی آیت) : د کائناتو تسبیح ویل

الله تبارک او تعالی فرمایلی: ﴿یُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِی السَّمَاوَاتِ وَمَا فِی الأرْضِ الْمَلِکِ الْقُدُّوسِ الْعَزِیزِ الْحَکِیمِ﴾[2]

[1] - التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون والتغابن. ص۶۲.
[2]- سورة الجمعة/۱

**لومړی موضوع** - د آیت ترجمه(ژباړه) : پاکوالی بیانوي، الله لره هغه څه چې په آسمانونوکې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي، بادشاه دی، سپېڅلی دی، غالب دی دحکمت څښتن دی.

**دویمه موضوع - د آیت مناسبت ماقبل او د سورة الجمعة محور او اساسي موضوع سره**

**لومړی فرعه: دسورة مناسبت ماقبل سره**

- لکه څنګه چې د لیکنې په تمهید او پیل کې وویل شول مخکېنې سورة چې سورة الصف دی د الله تعالی په تسبیح ویلو په ماضی صیغې او الفاظو سره پیل شوې ده او دا سورة د الله د تسبیح پر ویلو یې پیل کړی خو د حال او مستقبل په الفاظو او صیغو سره چې دا د تسبیح ویلو په استمرار او دوام باندې دلالت کوي، لکه څنګه چې ویل شوي(یسبح) په معنې د مستمره او پرلپسې تسبیح ویلو دي [1].
- همدارنګه په سورة الصف کې الله تبارک او تعالی د اهل کتابو چې یهود او نصاری دي یادونه او د هغوی حال یې بیان کړ، او سورة یې په دې ایت ختم کړ چې الله تعالی فرمایي: ﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونوا أَنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ فَآمَنَت طَّائِفَةٌ مِّن بَنِي إِسْرَائِيلَ وَكَفَرَت طَّائِفَةٌ فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ**﴾[2]

ژباړه: ای مؤمنانو! د الله مرستندویان شئ، لکه څنګه چې عیسی-علیه السلام- د مریم زوی حواریونو ته ویلی ول: د الله لوري ته ( په بلنه کې) زما ملاتړ کوونکی څوک دي؟ او حواریونو ځواب ورکړی ؤو؛ مونږ د الله مرستندویان یوو، په هغه وخت کې د بنی اسرائیلو یوې ډلې ایمان راوړ او بلې ډلې انکار وکړ، بیا مونږ د مؤمنانو د دښمنانو پرضد د هغو ملاتړ وکړ او هغوی برلاسي شول.

نو مناسبه دا وه چې له هغې څخه وروسته د قریش کفارو یادونه وشي چې الله تعالی هغوی ته د خپل له منځ او قوم څخه یې رسول ولیږه چې د الله تعالی آیتونه ورته لولی، هغوی له شرک او کفر څخه پاکوي، د الله تعالی کتاب او په هغه کې له حکمتونو څخه یې خبروی، لکه څنګه چې الله

---

[1] - أبی السعود محمد بن محمد العمادی(ت: ۹۵۱هـ)، **تفسیر أبی السعود**،ج۴، ص۲۴۷، داراحیاء التراث العربی، بیروت.

[2] - سورة الصف/۱۴

تبارک او تعالی فرمايي: ﴿ **هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُّبِينٍ** ﴾[1]

ژباړه: الله هغه ذات دئ چې هغه را ولېږه، په نا لوستو کې رسول، د دوی څخه چې هغه لولي دوی ته د الله آيتونه او دوی پاکوي او هغوی ته ښايي، کتاب او حکمت خبرې او حال داچې دوی وو، له دې مخکې، خامخا په ښکاره ګمراهۍ کې

- همدارنګه د دې سورة لمړي آيت مناسبت مخکېنی سورة سره داهم دی چې الله تبارک او تعالی د مخکېنی سورة آخری آيت د مؤمنانو نصرة او کمک سره ختم کړ، نو الله تبارک او تعالی د مؤمنانو نصرت او کمک له دې لپاره کړی نه دی چې هغوی ته اړتيا لره بلکه د کوم حکمت لپاره چې الله تعالی خپله غوښته د هغه لپاره يې د مؤمنانو مرسته وکړه، نو مناسبه داوه چې وروستنی آيت په داسې کلماتو او الفاظو پيل شي چې الله سبحانه وتعالی له نواقضو او نيمګړ تياوو څخه پاک کړي او دا ښکاره کړی چې الله ملک القدوس او عزيز الحکيم او له خپل مخلوقاتو څخه غنی او بی نيازه دی[2].

**دوېمه فرعه: د دې مقطع مناسبت د سورة محور سره**

لکه څنګه چې د سورة په مقاصد و کې و ويل شول چې د دې سورة يو مقصد پر امت باندې امتنان او د دې امت فضيلت بيانول دي، نو په دې آيت کې د الله تبارک او تعالی پاکې او په مختلف ډولونو تسبيح ويل ذکر شوی او دا آيت دې امت ته نازل شوی چې پکښې د الله تبارک او تعالی تسبيح ويل دي نو دا آيت د سورة محور سره د الله په پاکوالی بيانولو سره مناسبت لری[3].

**درېيمه موضوع – د آيت اجمالی تفسير**

الله تبارک او تعالی د دې سورة په پيل کې خبرداری ورکړ چې په ځمکه او آسمانونو کې چې هرڅه دي، دغه ټول د الله تعالی حمد اوثناء بيانوی، الله سبحانه وتعالی له ټولو هغو عيوبو او نواقصو څخه چې ورته نه ښايي له هغه څخه يې پاکی بيانوی، الله سبحانه وتعالی د لوړ عالم او ښکته موجوداتو د ټولو خالق او مالک او متصرف دی هيڅ حکم د الله تعالی ارادې څخه پرته نه صادر او نه ترسره کېږي، د ټولو اموراتو او چارو پيل او انجام الله لره دی، او ټول د دې خبرې اقرار کوي چې هغه

---

[1] - **سورة الجمعة**/٢
[2] - **التفسير الكبير**، ج٣٠، ص٣.
[3] - **المختصر فى تفسير القرآن الكريم**( الفاتحه وربع يس)، ص١١٥.

ستر بادشاه له ټولو هغو عیبونو څخه چې د الله کمال او جلال شأن سره نه ښایي پاک او منزه دی ، غالب ذات دی او د ډېرو حکمتونو څښتن دي؛ الله تعالی هغه ذات دی چې د هغه په قدرت، سلطنت او بادشاهی ؛ کائنات ذره ذره ګواهی ورکوي، الله هغه ذات دی چې پرټولو اشیاوو قاهر او امر یې تر سره کېدونکی دی، ټول شیان یې څنګه چې خوښه یې ده تدبیر او پیداکړي دي[1].

**څلورمه موضوع – دلومړی آیت الفاظو څېړنه**

﴿ ④➔○✿⌨❍⌧⊠← ✎★ ✌♦〰 ×⌧❼ ✂〰〰☜○○☺⌂⌚❑♦⌚☠☢ ❒♦✌♦〰
×⌧❼ ✂〰〰✾☞❻⇗▽⇍ ﴾[2] ټول شیان د الله تعالی له مخلوقاتو څخه د الله متعال تسبیح حمد او پاکي بیانوی، په دوامداره تسبیح ویلو سره.

دتسبیح معنې په لغت کې: (سین، با او حاء) اصل دی دوه معنې ګانې لری چې یو یې د عبادت له جنس نه او بل یې د سعی او کوشش په معنې راځي، چې لمړی یې (السبحه)لوستل کېږی او لمانځه په معنې، دویم یې د تسبیح له باب څخه دی چې د الله تعالی پاکول دي له ټولو بدیو څخه، نو تنزیه په معنې د تبعید راځي، یعنې الله تبارک او تعالی له ټولو نیمګړتیاوو او بدیو څخه لرې او پاک دی[3].

نو معنې یې داشوه چې ټول هغه مخلوقات چې په آسمانونو او ځمکو او په ټول کائناتو کې دي الله تعالی له ټولو هغو شیانو چې ورسره مناسب نوی که ژبنی وی، عملی وی او اعتقادی وی پاکوی ، په دې ځای کې یسبح ځکه مضارع راغلی چې خبر داری وی دې لپاره چې ټول دا مخلوقات دخپل تسبیح نوی کوی پرته له دې چې پکې کوم کمښت یا افتراء وکړي[4].

﴿الْمَلِكِ﴾ د مخلوقاتو مالک او رازق او د هغوی د شؤوناتو او چارو متصرف او واک دار دی چې هېڅ کله او هېڅ یو مخلوق د الله متعال د ارادې څخه باندې ځان نه شي خوځولی، ټولې چارې امر او نهی د الله په لاس کې ده او د ټولو اموراتو واک دار دی، نو له دې کبله ټول مخلوقات د الله سبحانه وتعالی امر ته خاضع او فرمان ته غاړه ایښودونکي دي او الله تعالی لپاره په ټولو شپو او د ورځو په ټولو حالاتو کې د الله تسبیح وایې، په ټولو زمانو او د ټولو عصرونو په تېرېدو کښې[5].

---

[1] - **التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون والتغابن**، ص۸۱.
[2] - سورة الجمعة/۱
[3] - **معجم مقاییس اللغة** ، ج۳، ص۱۲۵.
[4] - **التحریر والتنویر**، ج۲۸، ص۲۰۶
[5] - **المفردات فی غریب القرآن**، ص۴۷۲.

﴿الْقُدُّوْسِ﴾ الله سبحانه وتعالی له ټولو نقائصو او معائبو څخه پاک دی، الله سبحانه وتعالی کامل او مکمله دی، مالک او تدبیر کونکی دی چې له ټولو نقائصو څخه پاک او په ټولو کامله صفاتو باندې موصوف شوی دی، قدوس د قدس مبالغه صیغه ده چې د پاکوالی په معنې راځي[1].

﴿الْعَزِيْزُ﴾ عزیز په اصل کې قوة ، ټینګښت، غلبه، لوړ والی او امتناع ته ویل کیږي[2]، نو الله هغه ذات دی چې هرڅه وغواړي ترسره کوي يې او هیڅ څوک يې نه شي مغلوبه کولاي او هرڅه چې وغواړي څوک يې له ارادې منع کولای نه شي، عزة هغه حالت دی چې انسان نه پریږدی مغلوبه شی، نو عزیز هغه ذات چې همیشه او تل پاتې غالبه وی[3].

﴿الْحَكِيْمُ﴾ خپل په أفعالو او ویناوو کې، خپل شرعه او قدر(مقدر کړل شوي )شیانو کې باحکمته دی[4]، حکیم قاضی او فیصله کونکي ته هم ویل کیږی، الله هغه حکیم ذات دی چې ټول شیان يې له بنه حکمت او پوهې سره پیدا کړي او پر ټولو شیانو حاکم او برلاسی او پوه دی[5].

نو الله سبحانه وتعالی مالک او متصرف دی خپل په مخلوفاتو باندې، دنقصانونو او عیبونو څخه پاک او داسې غالبه او عزیز دی چې نه مغلوبه کیږي او خپل قضی او قدر کښې حکیم ذات دی[6].

**پنځمه موضوع- د مقطع (لومړي آیت) مهم نکات**

1- د الله تبارک او تعالی توحید بیانول: د دې آیت مهم ټکی د الله تعالی د توحید بیانول دي، په دې توګه چې دا آیت د الله تعالی د توحید پر بیانولو سره پیل شوې ، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمایلی: ﴿ **يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ**﴾[7]

ژباړه: پاکوی بیانوي، الله لره هغه څه چې په آسمانونوکې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي، بادشاه دی، سپیڅلی دی، غالب دی دحکمت څښتن دی.

---

[1] - **لسان العرب**،ج۶، ص۱۶۸.

[2] - **تاج العروس**، ج۱۵، ص۲۱۹.

[3] - محمد أحمد بن محمد الغرناطی(ت۷۴۱هـ)، **التسهيل لعلوم التنزيل**، ج۱، ص۱۹۵، الطبعة الرابعة، دارالكتاب العربی-لبنان.

[4] - **تفسير القرآن العظيم** ، ج۳، ص۵۳۹

[5] - **لسان العرب**، ج۱۲، ص۱۴۰.

[6] - **تفسير أبی السعود**، ج۸، ص۷۶.

[7]- سورة الجمعة/۱.

نو په دې آیت کې الله تبارک او تعالی خبر داری ورکړي چې هر هغه څه چې د مخلوقاتو څخه په نړۍ کې (د آسمان او ځمکې ترمنځ) دي، ناطق او جامد يې د الله تبارک او تعالی حمد او تسبيح وايي، نو ټول هغه مخلوقات چې په اوه آسمانونوکې يا د ځمکو طبقو تر لاندې يا د هغو په منځ کې دي دالله تعالی تسبيح او حمد بيانوي، د الله لوی والی بيانوی او د هغه عبادت کوی او د الله تعالی ټولو اوامرو ته يې په ډېرې نرمۍ او عاجزۍ غاړه ايښې ده او هرڅوک چې دوی د الله وحده لاشريک له عبادت ته وغواړي د هغوی دعوت مني او د غوښتنې يې استجابت کوي[1].

نو په دې آيت کې د ژوند استمرار او تېرېدلو اساسی عنصر ته پاملرنه شوې چې هغه د ټولو مخلوقاتو الله لپاره تسبيح ويل دي، نو دا په دې معنې چې په نړۍ کې چې څومره مخلوقات دي د الله تبارک او تعالی ملکيت کې دي او د الله تسبيح او پاکوالی بيانوي، نو دا د مخلوقاتو اعتراف او اقرار دی چې الله تبارک او تعالی د ټولو مخلوقاتو مطلق حاکم او خالق او مالک دی[2].

2- د الله تبارک او تعالی پاکوالی بيانول: لکه څنګه چې د دې سورة په لومړی آيت کې د الله تبارک او تعالی توحيد بيان شوی همدارنګه د الله تبارک او تعالی پاکوالی هم بيان شوی په دې توګه چې په کائناتو کې ټول شته او موجود شيان د الله تعالی تسبيح وايي او ټولو هغو شيانو څخه چې د الله متعال شأن سره مناسب نه وی له هغه څخه د الله پاکوالی بيانوی[3].

په دې آيت کې دې ته هم اشاره ده چې الله تعالی لکه څنګه چې خپل ملک کې په پاکوالی متصف دی د الله تبارک او تعالی ټول ملکيت له قداست څخه برخمن دی، نو دا مونږ ته دا لارښوونه کوي چې که انسان ته کوم خاص يا عام ملکيت ور په برخه شي نو بايد چې خپل په ملکيت کې له ظلم او تيېتو کړنو څخه ځان وساتي، او د الله تعالی عدالت غوښتنې سره سم کړنه تر سره کړي، له ټولو هغو شيانو څخه ځان وساتي چې د الله تبارک او تعالی ملکيت نا خوالو سره مخ کوي نو په دې توګه انسان د قداست صفت څخه برخمن کېږی[4].

3- د الله تعالی پاکوالي څخه وروسته د الله قدرتونه يادول: لکه څنګه چې په دې آيت کې د الله توحيد او پاکوالی بيان شو نو همدارنګه په ياد شوی آيت کې د الله متعال ځينې قدرتونه ياد شوی

---

[1] - نظم الدرر فی تناسب الآيات والسور، ص١٤١٥.
[2] - التناسق الموضوعی فی سورة الجمة والمنافقون والتغابن، ص٨١.
[3] - نظم الدرر فی تناسب الآيات والسور،ص١٤١٥
[4] - التناسق الموضوعی فی سورة الجمة والمنافقون والتغابن، ص٨١.

چې په وروستي آيت کې د هغه د قدرت يوه بله لويه نښه بيان شوې چې امي قوم ته يې امي لاربنود ليږلی چې ټول ارين شيان هغوی ته ښايي او هيڅوک يې هم په علم کې مقابله نشي کولای[1].

نو لکه څنګه چې په مالک باندې د ملک دوام لپاره اړينه ده چې په قدرتونو او عزت متصف وی نو اړينه ده چې د کنترول قدرت سر بيره د حکمتونو خاوند هم وی چې خپل ملک په ډېر حکمت او قدرت سره کنترول کړي.

سيد قطب-رحمه الله- په دې اړه ويلی:" الله تعالی مونږ يې په دې خبر کړي يو چې څنګه زمونږ د نواقصو او نيمګړتياوو څخه ستړګې پټوي، حال داچې زمونږ له ټولو چارو او کړنو پوه او خبر دی، نو دا خبره مونږ لپاره لار شوونه ده چې دخپل کوچني قدرت په حدودو کې له خلکو نواقصو څخه تېر شو، نو الله تبارک او تعالی مونږ ته يې ښونه کړې او وسايل يې آماده کړي ترڅو هغه چارې ترسره کړو چې الله يې خوښوي ترڅو چې د الله د رضا تر لاسه کولو سره الله سره ملاقات وکړو[2]"

**شپږمه موضوع- د لومړي آيت څخه لاسته راغلی احکام**

1- لکه څنګه چې د دې سورة پيل د الله تبارک او تعالی په تسبيح سره شوی او ټول مخلوقات د الله تسبيح وايي دا په دې باندې اعتراف او اقرار دی چې د دې ټولو کائناتو يواځينی مالک او متصرف يواځې الله تبارک او تعالی دی؛ دا اعتراف په دې توګه ترسره کېږي چې مونږ او ټول هغه مخلوقات چې الله لره تسبيح وايي ځان الله ته خاشع او خاضع وګڼي.

2- لکه څنګه چې په دې آيت کې د الله تبارک او تعالی پاکی بيانه شوه او الله تبارک او تعالی د ټولو کائناتو خالق او مالک دی او الله يواځې دا ټوله نړۍ اداره کوی، نو مونږ ته دا خبره ښکاره شوه هغه څوک چې ځان واکدار او مسؤول د کوم ځای او چارې بولی بايد چې په عدل او انصاف او همدارنګه په پاکوالی اوصافو باندې متصف وي، ځکه دا ځمکه د پاک الله ده نو بايد چې پاک خلک يې اداره او کنترول کړي.

---

[1] - ديک؛ فضل علی ، **مجلة جامعة القدس المفتوحة للأبحاث والدراسات التربوية والنفسية(القيم المتضمنة فی سورة الجمعة وانعكاساتها التربوية)**، المجلد ١٢، العدد٣٤، ص١٠٠، الناشر: جامعة اليرموك(٢٠٢١م) الاردن.

[2] - **فی ظلال القرآن**، ج٦، ٣٥٩١.

3- له ياد شوي آيت څخه څرګندېږي چې کوم کسان غواړی څمکه یا د هغه کومه برخه اداره کړي نو بايد چې د عزت او قدرت اوصافو سره متصف وی او د خپل د چارو پرمخ بیولو لپاره له حکمت ،پوهې او چتکتیا څخه کار واخلی که نه نو چارې به په سمه توګه په مخ نه ځي[1].

## دويمه مقطع

### د رسول الله ـ صلی الله علیه وسلم ـ د بعثت حکمتونه او موخې( ۲-۴ آیت)

الله متعال فرمايلی: ﴿**هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُّبِينٍ (2) وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (3) ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاء وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ**﴾[2]

**لومړی موضوع - د آيتونو ترجمه**

الله هغه ذات دئ چې هغه را ولېږه، په نا لوستو کې رسول، د دوی څخه چې هغه لولي دوی ته د الله آيتونه او دوی پاکوي او هغوی ته ښايي، کتاب او حکمت خبرې او حال داچې دوی وو، له دې مخکې، خامخا په ښکاره ګمراهی کې، او د نورو (رسول هم دی) له دوی(مومنانو) څخه، چې نه دي يو ځای شوي، دوی سره او هغه (الله) غالب دی، دحکمت څښتن دی، دا (نبوت) د الله فضل دی، هغه يې ورکوي، چاته يې چې خوښه شي او الله د لوی فضل خاوند دی.

**دويمه موضوع - د آيتونو مناسبت ماقبل او ما بعد او د سورة محور سره**

**لومړی فرعه: د دې مقطع مناسبت مخکيني مقطع سره**

لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی مخکينی آيت د خپل نعمتونو په ذکر سره پيل کړی نو آيت يې د نعمتونو تأکيد سره پای ته ورساوه تر څو د الله تبارک او تعالی د نعمتونو تاکيد او تأئيد وشی[3]، په دې توګه چې د آيت په آخر کې د هغو خلکو حال بيان شو چې الله تبارک او تعالی ورته امی نبی-صلی الله عليه وسلم- واستاوه چې هغوی يې هدايت کړي حال دا چې هغوی ول له دې څخه مخکې په ښکاره ګمرا هی کې او يو لاربښود او ستازي ته يې ډېره اړتيا درلوده ترڅو چې له هغه ګمراهی او ړوند

---

[1] - **التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون والتغابن**، ص۸۱.

[2]-سورة الجمعة/۲-۴.

[3] - کاندهلوی؛ محمد ادریس، **معارف القرآن-ادریسی**- پشتومترجم: مولانا محمد کامران، الهجومی، ج۸، ص۲۰۵، الناشر: جدید مکتبة رشیدیه(۲۰۲۲م)، محله جنګی قصه خوانی پشاور.

تیا څخه یې وباسې چې پکې جهالت په زمانه کې پاتې شوي وه، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمايي: ﴿ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾[1]

ژباړه: حال داچې دوی وو، له دې مخکې، خامخا په ښکاره ګمراهی کې.

نو په دې آيتونو کې د سورة موضوع سره هم مناسبت شته په دې توګه چې د الله تعالی نعمت يواځې د نبی امی-صلی الله عليه وسلم- په را لیږلو خلاصه شوی نه دی بلکه له هغوی څخه یې نیمګړ تیاوې پورته کړې، کتاب یې ورته زده کړ او حکمتونه یې ورته وښودل، دا ټول نعمتونه ښکاره او غوڅ دلایلو سره تر سره شول ترڅو چې له ښکاره ګمراهی څخه ووتل او روښانې او ښې هدايت او لارې ته ورسېدل[2].

**دویمه فرعه: د دې مقطع مناسبت د سورة محور سره**

لکه څنګه چې د سورة مقصد او اصلی محورو څخه د رسول الله –صلی الله عليه وسلم- استول امی امت ته او دهغه فضيلت بيان شوي، نو په دې مقطع کې الله تبارک او تعالی فرمايي چې الله هغه ذات دي چې په امی امت کې یې دهغوی له منځ څخه امی نبی ور لیږلی[3].

**دریمه موضوع – د دې مقطع آيتونو اجمالی تفسير**

د رسول الله-صلی الله عليه وسلم- بعثت لکه څنګه چې د سورة په لومړي آيت کې وويل شول د الله تبارک او تعالی-جل جلاله- د مالکيت ، پاکوالی، عزت اوحکمت یوه لويه نښه ده، ځکه دا يو لوی او عظیم نعمت دی چې د الله تبارک او تعالی لخوا ټول عالم ته ورکړل شوي دی ترڅو چې خلک له کومې ګمراهې څخه چې ول ویې باسی او رڼا لور ته یې بوځي او سمې لارې ته یې هدايت کړي[4].

د سورة الجمعة په دویم آيت کې د عيسی-عليه السلام – د بشارت تکميل او تصديق کېدو ته اشاره ده،الله تعالی هغه ذات دی چې د همدوی له منځ څخه یې په نالوستو کې يو رسول را ولیږه، چې هغه دغو خلکو ته د دوی په وړاندې د خپل رب آيتونه تلاوت کوی او دوی ته یې اوروی او دوی د هرې چټلی اوپلیتی څخه پاکوی او دوی ته کتاب يعنی قرآنکريم ښايي او دوی ته د علم او حکمت خبرې زده کوی، دا په داسې حال کې چې دغه عربان له دې مخکې په څرګندې او ښکاره ګمراهی

---

[1] - سورة الجمعة/٢.
[2] - التحرير والتنوير، ج٢٨، ص٢١٠.
[3] - المختصر فی تفسير القرآن الكريم( الفاتحه وربع يس)،ص١١٥.
[4] - التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون والتغابن، ص٨٣.

کې وو، نو دوی ته داسې رسول واستول شو چې د دوی په منځ کې به وي او چېرته به ترې نه ځي، لکه د نورو پیغام راو ړونکو چې خپل پیغام رسوی او بېرته ځي[1].
هغه قوم کې الله تعالی خپل وروستنی نبی مبعوث کړ ، چې هیڅ علم او هنرپکې نه وو، ډېر کم خلک په کې په لیک او لوست پوهېدل، دومره کم چې په نیشت حسابېدل، دوی دومره جاهلان وو چې جهالت یې په تاریخ کې ثبت دی، چې خلک یې د بیلګې په توګه وړاندې کوي، د دوی جهالت خلک په مثال کې وړاندې کوي، بت پرستي عامه وه، خالق او حقیقی معبود چا نه پېژانده، تر دې چې خلکو به خپلې لونې ژوندۍ خښولې، نو هر کله چې په داسې نازکو حالاتو کې داسې لاره ورکې قوم ته خپل داسې رسول را ولېږي، چې هغوی ته علم او حکمت وښايي، د پند او نصیحت خبرې ورته وکړي، د کفر او شرک څخه یې منع کړي، داسې علوم او معارف ورته زده کړي، چې د نړۍ حکیمان ورته حیران وی، نو ربنتیاهم چې دابه په دې قوم د الله تعالی ډېر لوی احسان او انعام وي، ځکه ترڅو چې داسې نبی په دې قوم کې وی پرهغوی عذاب هم نه نازلېږي[2]، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمایلی: ﴿وَمَاكَـانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَ أَنْتَ فِيْهِمْ﴾[3]
ژباړه: په هغه وخت کې خو الله پرهغوی دعذاب نازلونکی نه ؤ، تر څو پورې چې ته د هغو په منځ کې موجود او سې.
او د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- بعثت له دوی څخه د هغو نورو خلکو لپاره هم دی، کوم چې لاتر اوسه دوی سره یوځای شوي او مخ شوی هم نه دی، هغوی هم د عربو په څېر نا لوستي دي، په دې اعتبار نالوستي دي چې دمبداء او معاد ، حشر او نشر څخه خبرنه دي، نه له قیامت څخه خبر دي او نه د آسمانی شریعت په اړه کوم علم او پوهه لري.
دا نبوت د الله تعالی لوی فضل دی، چاته یې چې خوښه شي، هغه ته یې ورکوی او الله تعالی د ډېر لوی فضل خاوند دی او دخپل لوی فضل له مخې یې محمد رسول الله- صلی الله علیه وسلم- دلوی فضل څخه برخمن کړ، هغه یې د نبوت په ګاڼه سمبال کړ او خاتم الانبیاء-علیهم السلام- یې وګرځاوه.
الله تعالی-جل جلاله- دعربو دنالوستي یعنی رسول الله-صلی الله علیه وسلم- له خولې څخه دعلم او معرفت، پوهې او حکمت داسې چینې روانې کړې ، چې د نړۍ حکماء، عقلاء او فصحاء ورته

[1] - **التحریر والتنویر**، ج۲۸، ص۲۰۷.
[2] - ابن ناصر الدین، شمس الدین أبو عبدالله بن أبی بکر الدمشقی، **مجالس فی تفسیر قوله تعالی:( لقد من الله علی المومنین اذ بعث فیهم رسولاً من انفسهم)** ، ص۲۹۴، تحقیق: محمد عوامه، الناشر: دار القبلة للثقافة الاسلامیة- جدة
[3]- سورة الانفال/۳۳

حیران وو، په عربي ځمکه کې د علم هغه نور را څرګند شو، چې له امله یې دکفر اوجهالت تکې تورې تیارې له منځه لاړې .

نو خلکو ته ښایي چې د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- له علم او حکمت څخه ګټه واخلي، دغه انعام او اکرام وپېژني او هرڅوک چې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- له هدایاتو او علومو څخه مستفید شو، هغه انساني کمال حاصل کړ او دا کمال په ښه توګه داسې لاس ته راځي چې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- له ویناوو څخه یې زده کړي.[1]

همدارنګه الله تبارک او تعالی په دې آیتونو کې د نبی امی-صلی الله علیه وسلم- دبعثت حکمتونه په واضحه او ښکاره توګه بیان کړ چې عبارت دی له:

لومړی: الله تبارک او تعالی فرمایلی: ﴿ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ﴾ یعنې پرهغوی د قرآن آیتونه چې هغوی لپاره هدایت او لار ښوونه پکې شته تلاوت کوی، ترڅو چې د دنیا او آخرت کامیابی ته ورسېږي، سره له دې چې امی دي، د دې لپاره چې څوک ونه وایی چې له مخکېني کتابونو څخه یې نقل کړی او مونږ ته یې وایی.

دویم: الله تعالی فرمایلی: ﴿وَ يُزَكِّيْهِمْ﴾ یعنې هغوی د شرک له خرابیو او جاهلیت زمانې له بدو اخلاقو څخه پاکوي او الله تعالی ته یې په اعمالو او اقوالو کې مخ اړوونکی ګرځوي، په داسې توګه چې پرته له الله تبارک او تعالی څخه بل هیڅ کوم مخلوق قدرت او سلطې ته سر نه ټیټوي.

دریم: الله تبارک او تعالی فرمایلی: ﴿وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ﴾ یعنې هغوی ته قرآن او سنتن ور زده کوی، د دین احکام ورته ښایي، د اسلام حکمتونه او اسرار یې ورته روښانه کوي، په دې توګه چې هر هغه څه چې ترې اوري پرهغه باندې ښه پوهېږی، مقصد او هدف د ویلو ته یې رسېږي، نو په دې توګه په ډېر شوق او علاقې سره ورته کښېني او غوږ نیسی.[2]

**څلورمه موضوع - د دویمې مقطع د الفاظو څېړنه**

(**هو**) ضمیر دی الله سبحانه و تعالی لپاره، او دا ضمیر د الله هغو نومونو ته راګرځی چې مخکې ذکر شول، په دې توګه د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- دمقام تعظیم او لوی والی ته دلالت کوی، په دې توګه چې دا هغه نبی دی چې خامخا د الله تبارک او تعالی لخوا استول شوی.[3]

[1] - **مجالس فی تفسیر قوله تعالی: (لقد من الله علی المؤمنین)** ، ص۲۳۶.
[2] - **تفسیر المراغی**، ج۲۸، ص۹۵.
[3] - **التحریر والتنویر**، ج۲۴، ص۲۰۷.

﴿**بعث**﴾ بعث په معنې د يو شي پلټل او لټولو ته وايي، په قرآن کريم کې بعث د شپږو معنې ګانو سره راغلی[1]، خو دلته په معنې د رالېږلو تعبير کېږي[2].
﴿فی **الأميين**﴾ په دې کې د استمراريت او دوامداره معنې شته ،په دې توګه چې نبی د عربو په منځ کې د الله لخوا آستول شوي چې د الله تبارک او تعالی رسالت ټولو خلکو ته ورسوی[3].
مراد د اميينو څخه عربان دي چې د رسول الله- صلی الله عليه وسلم- د بعثت په وخت کې أمی ول او کومې ځانګړې زده کړې يې نه درلودلې، لکه څنګه چې طبری له قتاده-رحمهم الله- څخه روايت کوی او وايي چې: هغه د عربو داسې يو کلی وه چې خلک يې امي او بی سواده ول او په هغوئ کښې کوم آسمانی کتاب شتون نه درلود چې ويې لولی نو الله متعال هغوی لپاره محمد رسول الله-صلی الله عليه وسلم- د رحمت او هدايت په توګه و لېږه چې هغوی ته د الله تبارک او تعالی کتاب ولولی ترڅو د هغه کتاب په رڼا کې هدايت کړل شي[4].
الله متعال –جل جلاله- په عربو ډېر عظيم امتنان کړی چې هغوئ ته يې رسول الله- صلی الله عليه وسلم- هغوی د خپل منځ څخه د هغوی نفسی او نسبی خپل څخه واستاوه ترڅو هدايت کړل شي، الله متعال فرمايلی: ﴿ لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُواْ مِن قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُّبِينٍ ﴾[5]
ژباړه: خامخا په تحقيق سره احسان کړی دی الله تعالی په مؤمنانو باندې په دې چه را لېږلی دی په دوئ کې پيغمبر له جنسه د دوئ نه چه لولي په دوئ باندې آيتونه د الله تعالی او پاکوی دوئ له کفر څخه او ښايي دوئ ته کتاب او احکام د شرع او بيشکه چه وو دوئ پخوا له دې پيغمبر نه په ګمراهی ظاهره کې.
وجه د استدلال: په ياد شوي آيت کې الله متعال خپله د خپل کرم او امتنان يادونه کي چې پرمؤمنانو يې کړی او وايي چې (لقد من الله)، الله پرمؤمنانو هغوئ ته د نبی په استولو امتنان او منت ايښئ که څه هم چې مخکې د رسول را لېږلو څخه هغوئ نا پوهان ول[6].

---

[1] - جمال الدين أبو الفرج عبدالرحمن(ت:۵۹۷هـ) ، **نزهة الأعين فی عليم الوجوه والنظائر**، ج۱، ص۲۰۵، تحقيق: محمد عبدالکريم کاظم الراضی، الطبعة الثالثة(۱۴۰۷هـ ـ۱۹۸۷م)، الناشر: مؤسسة الرسالة- بيروت.
[2] - **المفردات فی غريب القرآن**، ص۵۲.
[3] - **التحرير والتنوير**، ج۲۸، ص۲۰۷.
[4] - أبوجعفر؛ محمد بن جرير بن يزيد بن خالد الطبری(ت:۳۱۰هـ)، **التفسير الطبری**، ج۲۸، ص۹۴، الطبعة الثانية(۱۴۰۵هـ)، الناشر: دار الفکر- بيروت.
[5] - **سورة آل عمران/۱۶۴**
[6] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية** ، ص۲۳.

له ابن عمر –رضی الله عنه څخه روایت دی چې: عن النبی- صلی الله علیه وسلم- أنه قال: « **إِنَّا أُمَّةٌ أُمية لا نكتب ولا نحسب الشهر هكذا وهكذا؛ (وأشار باصابعه) مرة تسعة وعشرين ومرة ثلاثين»**[1].

ژباړه:ابن عمر –رضی الله عنه- وایې چې نبی کریم-صلی الله علیه وسلم- و ویل: مونږ امی( نا لوستی) امت یو، نه مو لیکل کړي او نه مو حساب زده کړی، میاشت کله داسې وی او کله داسې وی( او خپلو د لاسونو په ګوتو سره یې اشاره وکړه) چې کله نهه ویشت وی او کله دیرش ورځې وی.

د آسمانی په مخکنیو کتابو نو کې چې د نبی کریم-صلی الله علیه وسلم- د راتګ زیرئ ورکړل شوی وه ترې د نبی أمی یادونه شوې وه، لکه څنګه چې الله متعال فرمایلی: ﴿ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَآئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُواْ بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُواْ النُّورَ الَّذِيَ أُنزِلَ مَعَهُ أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾[2]

ژباړه: او څوک چې د أُمی رسول تابعداری کوی، هغه چې دوی یې مومي، لیکل شو له ځانونو سره په تورات کې او په انجیل کې چې هغوی ته دنیکی کولو امر کوی او له بدی څخه یې منع کوی او پاکیزه شیان ورته حلالوی او ټول ناپاکه شیان په هغوی حراموي او له هغوی څخه د هغوی پیټي کوزوی او بندیزونه ترې لرې کوي هغه چې په دوی وو، نو کوم کسان چې په هغه ایمان راوړي او دهغه ملګر تیا وکړي او هغه سره مرسته وکړي او تابعداری وکړي د نور هغه نور چې هغه سره نازل شوی دی نو همدوی مراد ته رسېدلي خلک دی.

وجه د استدلال: د استشهاد وجه په پورتنی آیت کې داده چې د محمد رسول الله- صلی الله علیه وسلم- د أمت توصیف او ستاینه شوې په دې توګه چې هغوی به سرېږه د امر په معروف او نهی له منکرو څخه د أمی نبی اطاعت او تابعداري کوي، نو ښکاره شوه چې رسول الله-صلی الله علیه وسلم- هم خپله أمی وه کومې زده کړې یې کړې نه وې چې دا کتاب دخپل له ځانه څخه جوړ کړي او امت یې هم أمي وه چې د هغوی پیغمبر هم دخپل دقوم څخه چې ټولو په أمی توب پېژانده را لېږل شوی دئ[3].

[1] - **صحيح البخارى**، حديث رقم(١٨١٤) و **صحيح مسلم**، حديث رقم(١٠٨٠).
[2] - **سورة الأعراف**/١٥٧.
[3] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية**، ص٢٤.

﴿رسولاً منهم﴾ د هغوی له نفسونو او نسلونو څخه چې په خبرې باندې يې پوهېږي او هغه څه چې وايي درک او برداشت يې کولای شي او پيغمبر هم د دوی په شان أمي دی لکه څنګه چې دوی اميان ول.
﴿يتلو عليهم آياته﴾ رسول الله –صلی الله عليه وسلم- پر دغه أمی امت د الله کلام قرآن تلاوت کوي او د الله د شتون او وحدانيت نښې نښانې بيانوی.
(**ويزکيهم**) هغوی پاکوي، اصلاح کوي او خير او صلاح ته يې دعوت کوي، له شر او فحشا او بد کاريو څخه يې منع کوي، لکه څنګه چې ابن عباس-رضی الله عنه- ويلی:" يجعلهم أزکياء القلوب بالايمان" يعنې د هغوی زړونه په ايمان سره تزکيه کوي او له ګناهونو څخه يې د ايمان په تقويې سره پاکوي[1].
تزکيه يې د﴿**يتلو عليهم آياته** –او- **وَيعلمهم الکتاب والحکمة**﴾ترمنځ ذکر کړ سره له دې چې دا دواړه په تلاوت کې بايد په ترتيب وی، چې دا په دې اعلان دی چې دا هريو ځانته جلا جلا لوی نعمتونه دي چې د شکر مستحق ګڼل کېږی، نو که ټول يوځای په ترتيب ليکل شوي وی مونږ ته به داسې ښکاره شوي وی چې دا ټول يو نعمت دی، نو دا يو راز دی د قرآن چې يو ځل يې د آيتونو يادونه وکړه، بيايې د کتاب بيانولو او تلاوت کولو ذکر وکړ او وروسته يې د حکمت ښودلو ياد او ذکر وکړ چې له دې څخه دا رمز او هدف ښکاري چې دا هريو د جلا جلا نعمتونو عنوانونه او نومونه دي چې د شکر کولو وړتيا لري[2].
(**ويعلمهم الکتاب والحکمة**) هغوی ته د قرآن او د هغه په آيتونو باندې د پوهېدلو تعليم ورکوی او هغوی پرې ښه پوهوي او هغه حکمتونه، معناګانې، نصيحتونه او احکام چې د قرآن په آيتونوکې شته هغوی ته يې روښانه، بيان او ور زده کوي، همدارنګه ويل شوي چې: حکمة ټول فرائض دي[3].
(**وان کانو من قبل لفی ضلال مبين**) که څه هم چې دغه امی قوم د رسول الله- صلی الله عليه وسلم- د بعثت څخه مخکې ناپوهان او په ښکاره جاهليت کښې اوسېدل، د شرک په تيارو کښې يې لامبو وهلې او د ضلالت او ګمراهۍ په دښتې کې سرګردانه او سېدل، د هغوی دغه ياد شوی حالت يو داسې شخص ته چې له دې حالت څخه يې وباسي سخته او اړينه اړتيا درلوده چې د جهل له تيارو څخه يې د اسلام رڼا ته وباسي او توحيد ته يې هدايت او لارښوونه وکړي، نو الله تبارک او تعالی

---

[1] - **تفسير القرطبی**، ج۱۸، ص۹۲.
[2] - أبو السعود، محمدبن محمد العمادی، **ارشاد العقل السليم الی مزايا القرآن الکريم**، ج۵، ص۳۲۷، تحقيق: عبدالقادر أحمد عطا،الناشر: مکتبة الرياض الحديثة، - الرياض.
[3] - **التفسير الکبير**، ج۳۰، ص۴.

داسې یو بشیر او لارښوونکی رسول ورته واستاوه چې رڼا، هدایت او پاکوونکې آیتونو سره راغلی وه، قرآن د هغه آیتونه او حکمتونه یې ورته و ښودل او الله متعال د رسول په راتګ او قرآن زده کړې سره یې د جهل له تیارو څخه بهر کړل او د اسلام رڼا یې ورته ورکړه ، رسول الله –صلی الله علیه وسلم- څخه داسې یو روایت نقل شوی چې انصاروته یې خطاب کړی او په هغه کې یې فرمایلی: «**یا معشر الأنصار ألم أجدكم ضلالاً فهداكم الله بی، وكنتم متفرقين فألفكم الله بی، وكنتم عالة فأغناكم الله بی**»[1]

ژباړه: أی د انصارو ډلې! آیا تاسې ناپوهان او ګمراهان نه وي چې الله تاسو زما په واسطه هدایت کړی، تاسو یوبل سره جدا او متفرقه وی الله زما په واسطه تاسوته الفت درکړ او یو قوم شوی او تاسې فقیران او ناداره وی الله تبارک او تعالی زما په واسطه تاسو غنیان او بډای کړی.

نو الله متعال رسول الله- صلی الله علیه وسلم- یاد شوي قوم ته هدایت کونکی، زیری ورکونکی او ډار ورکونکی واستاوه چې خلک له تیارو څخه وباسی او دالله تبارک او تعالی په اذن او مرستې سره د اسلام دین رڼاوو او بریالیتوبونو ته یې وبلی[2].

همدارنګه په دې آیت کې دې خبرې ته اشاره ده چې د الله تبارک او تعالی نعمت یواځې دا نه وه چې عرب یې له نقائضو او ګمښتونو څخه لرې او پاک کړل، بلکه دا هسې یو نبی وه چې دوی یې له ډیرې عظیمې ګمراهی چې هغه الله تبارک او تعالی ته شرک کول وه پاک او خلاص کړل او د ډیرې لوړې او لویې لارې د هدایت ته یې چې بهترینه لار ده هدایت کړل[3].

په نظم الدرر کې راغلی: " د دوي وصف کول په امی باندې د دې خبرې نفی کوي چې د دوي نبی هیڅ کله هم له کوم مخلوق څخه کومه زده کړه نه ده کړې، د هغه شي تعظیم لپاره چې نبی کریم –صلی الله علیه وسلم- ځان سره راوړی، همدارنګه په دې کې د دې تاکید شوی چې عربان ډیره سخته اړتیا لري داسې یو لارښوونکي ته چې دوی ته زده کړې وکړي او دوي له تیارو څخه وباسي او هغه ړوند تیا او سرګردانی څخه یې وباسي چې دوی پکې دي[4]"

(**وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّايَلْحَقُوا بِهِمْ**) ویل شوي چې دا عجم دي، ځکه عرب یې په مخکښې آیت کښې یاد کړل، لکه څنګه چې الله متعال فرمایلی: ﴿ هُوَ الَّذِى بَعَثَ فِى الأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾[5]

---

[1] - **صحيح البخارى**، حديث رقم(۴۰۷۵).
[2] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية**، ص۲۵.
[3] - **التحرير والتنوير**، ج۵، ص۲۸۱.
[4] - **نظم الدرر**، ج۲۰، ص۵۱،
[5]-سورة الجمعة/۲

ژباړه: الله هغه ذات دئ چې هغه را ولېږه، په نا لوستو کې رسول، د دوی څخه چې هغه لولي دوی ته د الله آيتونه او دوی پاکوي او هغوی ته ښايي، کتاب او حکمت خبرې او حال داچې دوی وو، له دې مخکې، خامخا په ښکاره ګمراهۍ کې.

همدارنګه رسول الله-صلی الله عليه وسلم- فرمايلی چې: **عن أَبِيْ هُرَيْرَةَ-رضی الله عنه- قَالَ: كُنَّا جُلُوْسًا عِنْدَالنَّبِيِّ-صلى الله عليه وسلم- اذ نَزَلَتْ عَلَيْهِ سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ، فَلَمَّا قَرَأَ﴿وَآخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّايَلْحَقُوْا بِهِمْ﴾**[1] **قَالَ رَجُلٌ: مَنْ هُؤُلَاءِ يَارَسُوْلَ اللهِ؟ "فَلَمْ يُرَاجِعْهُ رَسُوْلُ اللهِ- صلى الله عليه وسلم-" حَتَّى سَأَلَهُ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا- قَالَ: وَفِيْنَا سَلْمَانُ الفَارِسِيُّ- فَوَضَعَ رَسُوْلُ اللهِ- صلى الله عليه وسلم- يَدَهُ عَلَى سَلْمَانَ ثُمَّ قَالَ: «لَوْكَانَ الْاِيْمَانُ عِنْدَالثُّرَيَّا**[2] **» وَفِي رواية<لَوْكَانَ الدِّيْنُ عِنْدَالثُّرَيَّا> لَنَالَهُ رِجَالٌ مِنْ هَؤُلَاءِ»**[3]

ژباړه: له ابی هريرة-رضی الله عنه- څخه روايت دی چې وايي: مونږ رسول الله- صلی الله عليه وسلم- سره ناست وو چې سورة الجمعة پرې نازله شوه، کله چې دا برخه **﴿وَآخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّايَلْحَقُوْا بِهِمْ﴾**[4] يې تلاوت کړه، يو سړی له انصارو څخه وويل: ای د الله رسوله! دا کوم خلک دي؟ رسول الله- صلی الله عليه وسلم- ځواب يې ورنکړ، ترڅو چې دوه يا درې ځله يې داخبره تکرار کړه- راوی وايي چې: مونږ سره سلمان فارسی هم وه- نو رسول الله- صلی الله عليه وسلم- لاس يې پر سلمان کېښوده او ويې ويل: «که ايمان په ثريا کښې» په بل روايت کې راغلی چې< که دين په ثريا کښې هم وای> نو دې خلکو به لاسته راوړی وی.

په بل روايت کې راغلی چې: **عَنْ عبدالله ابْنِ عُمَرَ-رضی الله عنهما- قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ- صلى الله عليه وسلم- «رَأَيْتُ غَنَمًا كَثِيْرَةً سَوْدَاءَ دَخَلَتْ فِيْهَا غَنَمٌ كَثِيْرَةٌ بِيْضٌ» قَالُوا: فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: «الْعَجَمُ، يَشْرَكُوْنَكُمْ فِي دِيْنِكُمْ وَأَنْسَابِكُمْ» فَقَالُوْا: الْعَجَمُ يَارَسُوْ لَ اللهِ؟ قَالَ: «لَوْكَانَ الاِيْمَانُ مُعَلَّقًا بِالثُّرَيَّا، لَنَالَهُ رِجَالٌ مِنَ الْعَجَمِ، وَأَسْعَدَهُمْ بِهِ النَّاسُ»**[5]

---

[1] -سورة الجمعة/٣

[2] - ثريا( د-ث-په ضمه،-ر-په فتحه او د مشدده-ی-)سره: څلويښت څراغه، د څو ځانګو والا ډيوه چې له سقف څخه يې زوړندوی، د پروين ستوری هم ورته ويل کېږي، همدارنګه دې ستوري ته ځکه عقد ثريا وايی چې څو ستوري دي د غاړې اميل په شان ښکاری، خو په حديث کې له ثريا څخه مراد دا دی چې: که د علم مرکز څومره ليری او اوچت وی او دعلم زده کړې وسايل هم څومره سخت او ګران وی؛ خوبيابه هم دا خلک(عجم) به هغه علم ته لاسرسی پيداکړی.(عميد؛ حسن، **فرهنګ عميد**، ص۴۳۷، موسسه انتشارات امير کبير(۱۳۶۲هـ ش) – تهران.

[3] - **صحيح البخاری**، باب قوله تعلی( وآخری منهم لما يلحقو بهم) برقم(۴۶۱۵)، **صحيح مسلم**، فضائل الصحابة، باب فضل فارس، برقم(۱۵۴۶).

[4] - **سورة الجمعة/٣**.

[5] - **السلسة الصحيحة** ، الرقم(۱۰۱۸)، قال الالبانی:قوی بالطرق.

ژباړه: له ابن عمر-رضی الله عنهما-څخه روايت دی چې رسول الله- صلی الله عليه وسلم- وويل: ډېر تور رنګی پسونه مې وليدل چې په هغه کښې ډېر سپين رنګی پسونه ننوتل، صحابه کرامو-رضوان الله تعالی عليهم اجمعين- وويل: هغه لومړني څوک دي ای د الله رسوله-صلی الله عليه وسلم- ؟ ويې ويل: هغه عجم دي، چې ستاسوپه دين او نسب کښې درسره شريکان کېږي،بيا صحابه کرامو پوښتنه وکړه چې هغوی عجم خلک دي؟ بيا رسول الله-صلی الله عليه وسلم- وويل: که ايمان په ثرياکښې هم زوړند(معلق) وی، نو عجم خلک به يې لاسته راوړي او نورو خلکو څخه به په لاسته راوړلو يې بريالی او کاميابه وي.

همدارنګه ويل شوی چې هدف ورڅخه هغه خلک دي چې له صحابه وو څخه وروسته د قيامت تر ورځې پورې مسلمان کېږي او د مسلمانانو ډلې سره يو ځای کېږي[1].

همدارنګه په بل روايت کې راغلی چې: **عن سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ-رضی الله عنه- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ –صلی الله عليه وسلم- « اِنَّ فِىْ أَصْلَابِ أَصْلَابِ أَصْلَابِ رِجَالٍ مِنْ أَصْحَابِىْ رِجَالاً وَّ نِسَاءً مِنْ أُمَّتِىْ يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ بِغَيْرِحِسَابٍ» ثُمَّ قَرَأَ:**[2] **﴿وَآخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّايَلْحَقُوْا بِهِمْ وَهُوَّالعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾**[3].

ژباړه: له سهل ابن سعد-رضی الله عنه-څخه روايت دی چې: رسول الله –صلی الله عليه وسلم- فرمايي: زما د يارانو(صحابه کرامو) د اولادونو، اولادونو، اولادونو، اولادونو څخه نارينه او ښځې زما له امتيانو څخه به جنت ته پرته له حسابه دننه شي، وروسته يې دا آيت تلاوت کړ چې الله متعال فرمايي:**﴿وَآخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّايَلْحَقُوْا بِهِمْ وَهُوَّالعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ﴾**[4].

ژباړه: او دنورو( رسول هم دی) له دوی(مومنانو) څخه، چې نه دي يوځای شوي دوی سره او هغه(الله) غالب دی، دحکمت څښتن دی.

نو په آيت کې له آخرين څخه څوک مراد دی؟

- دېمن خلک ترې مراد دي؛
- روم او عجم خلک ترې مراد دي؛

---

[1] - **تفسير أبى السعود**، ج٨، ص٢٤٧.

[2] - **مجمع الزوائد**، کتاب اهل الجنة، باب فيمن يدخل الجنة بغيرحساب، ج١٠، ص٤٠٨، الرقم(١٨٧٠٢).و ايضاً : عمرو بن أبي عاصم الضحاك الشيباني ( ت : 287), **السنة لابن ابي عاصم**،ج١،ص١٣٤،المحقق : محمد ناصر الدين الألباني, الطبعة : الأولى (1400هـ)،الناشر : المكتب الإسلامي – بيروت، **البانى راجع به آن چيزى نگفته است.** وهمچنان: سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى : 360هـ)، **المعجم الكبير**،ج٥،ص٤٨١.

[3] - سورة الجمعة/٣.

[4] - سورة الجمعة/٣.

- عجم وروسته له عربوڅخه مراد دي؛
- تابعين چې د عربو زمنو څخه وی مراد دي، لکه چې په آيت کې راغلی﴿ مِنۡهُمۡ ﴾ یعنې په نسب کې.
- د انسانانو نور طائفې دي؛
- يا دا چې دا ټول مسلمانان دي وروسته له صحابه کرامو څخه[1]؟

نو د آخرين په انتخاب کې علماوو اختلاف کړی په دې توګه چې په ﴿وَآخَرِينَ مِنْهُمْ ﴾ په ضمير او معطوف کې يې په دوه لاندې وجوهاتو باندې اختلاف کړی:

لومړی وجه: مجرور په مجرور باندې عطف دی یعنې په امیین باندې ، نو په دې صورت کې معنې داده چې: الله تبارک او تعالی- محمد-صلی الله علیه وسلم- امیینو ته چې په هغه وخت کې وه او هغه امیین چې له هغوی څخه وروسته ول چې د صحابه وو څخه وروسته خلک دی مراد دی.

دویمه وجه: منصوب په منصوب باندې عطف دی، په ﴿ وَيُعَلِّمُهُمْ ﴾ کې، نو په دې صورت کې معنې دا شوه چې: دوی ته زده کوی او هغه نورو ته يې هم زده کوي، نو د تعلیم نسبت رسول الله-صلی الله علیه وسلم- مجازاً شوی ، ځکه که داسې نه وی نو هر هغه څه چې خلک يې زده کوی رسول الله-صلی الله علیه وسلم- ته به يې استناد وشي، چې په دې کې ځینې غیر شرعی علوم هم راځي او دا مناسبه نه ده[2].

خو د علماوو له اقوالو څخه ماته دا دوه قوله راجح ښکاري چې امام ابن جرير الطبری او فخرالدين رازی-رحمهم الله- ويلی دی:

1- ابن جرير الطبری-رحمه الله- ويلی: " زما په نزد دغه دوه قوله غوره دي چې پکې ويل شوی: له دې آيت کې هغه خلک مراد دي چې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- سره په اسلام کې يو ځای شوي وله که له هرې ډلې او قبيلې څخه وی، ځکه چې الله تبارک او تعالی په خپل دې وينا کې خبره عامه کړې، الله تبارک او تعالی فرمايي: ﴿ وَ آخَرِيْنَ مِنۡهُمۡ لَمَّا يَلۡحَقُوۡا بِهِمۡ﴾ نو ټول هغه چې له دوی څخه وروسته راځی او دوی سره يوځای کېږی شاملېږی او د انسانانو او قومونو کومه ډله يې ځانګړې کړې نه ده، نو هريو چې له دوی څخه وروسته راځي او

[1] - الماوردی، أبوالحسن على بن محمد بن حبيب، **النكت والعيون**، ج۶، ص۷، تحقيق: السيد بن عبدالمقصود بن عبدالرحيم، الناشر: دارالكتب العلمية- بيروت.
[2] - **التناسق الموضوعى فى سورة الجمعة والمنافقون والتغابن**، ص۹۲.

اسلام دين مني په دې آيت کې شامل دي چې د رسول الله- صلى الله عليه وسلم- په وخت کې يې شتون نه درلود چې پرې د الله آيتونه تلاوت کړي[1]"

2- امام رازى –رحمه الله- وايي:" په آيت کې د ټولو خبرو او اقوالو معنې شته، نو هرهغه يو چې د رسول الله-صلى الله عليه وسلم- څخه وروسته اسلام ته د ننه کېږي د قيامت تر ورځې پورې په دې آيت کې شامل دي، نو له اميينو څخه عرب او د آخرين څخه نور ټول خلک مراد دي چې اسلام يې منلى[2]"

﴿**وَهُوَ الْعَزِيزُالْحَكِيمُ**﴾ چې ډېر عزت او حکمت لرونکى ذات دى، نو له همدې حکمت او غالب توب څخه يې دادى چې له همدې امى قوم او ملت څخه يې داسې يو امى نبى واستاوه چې نه يې ليکل کړى وه او نه يې لوستل کړى چې دا د امى نبى ليږل د الله متعال له حکمتونو څخه يو لوي حکمت دى چې ياد شوي امت ته يې مناسب نبى ولېږه[3].

(**ذَالِکَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاءُ**) دا فضل او نعمت لکه د اسلام او هداية[4] د الله تعالى ورکړه ده، همدارنګه ويل شوي چې فضل څخه مراد د رسول الله-صلى الله عليه وسلم- بعثت دى په دې امى امت کښې چې دا هسې فضل او نعمت دى چې هيڅ بل کوم نعمت په ژوند کې ورسره سمون او برابرى نشى کولاى، دا هغه فضل او نعمت دى چې الله متعال يې چاته نه ورکوي پرته له دې چې همدې فضل او نعمت ورکولوته يې ځانګړى کړي نه وى دا فضل يې سيد البشر-صلى الله عليه وسلم- ته ځانګړى کړ او سيد البشر يې دې امى امت ته واستاوه او دا امت يې د دې فضل په درلودلو سره ځانګړى کړ، د دې فضل لرونکي يې د نورو امتونو څخه غوره وګرځول او دوي يې د نورو خلکو لپاره په ښو کارونو امرکونکي له بدو کارونو منع کونکى وګرځول[5].

په(ذالک) کښې ضمير د محمد رسول الله-صلى الله عليه وسلم- نبوة ته او د ياد شوي نبوة سره د خلکو هدايت کېدلو او لاره موندلو ته اشاره ده، ځکه ډېر بې لارې خلک او مختلف امتونه د دې نبى په هدايت سره هدايت او لاره موندونکي شول[6].

---

[1] - الطبرى، أبوجعفر محمد بن جرير بن يزيد، **جامع البيان عن تأويل آى القرآن**، ج۲۳، ص۳۷۵- ۳۷۶، تحقيق: أحمد محمد شاكر، الطبعة الاولى(۱۴۲۰هـ –۲۰۰۰م)، الناشر: مؤسسة الرسالة- بيروت.

[2] - **التفسير الكبير**، ج۳۰، ص۴.

[3] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية**، ص۲۵.

[4] - البغوى(ت:۵۱۶هـ)، **تفسير اللبغوى**، ج۴، ص۳۴۰، تحقيق: خالد عبدالرحمن العک، الناشر: دارالمعرفة- بيروت.

[5] - **التفسير الطبرى**،ج۲۸، ص۹۷.

[6] -**التسهيل لعلوم التنزيل**، ج۴، ص۱۱۹ .

**(وَاللَّهُ ذُوالْفَضْلُ الْعَظِيْمْ)** الله سبحانه وتعالی هغه ذات دی چې پورته یاد شوي نعمتونه یې ورکړی او پر انسانانو یې په عامه توګه انعام کړی، نو الله د فضل او نعمتونو خاوند دی چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم- یې د وروستی رسالت په نعمت سره ځانګړی کړ او دا یې هغه اخری امت لپاره واستاوه چې د نورو خلکو لپاره آستول شوی او د لاره ښودنې دنده هم ورته ورکړل شوېده، همدارنګه رسول الله- صلی الله علیه وسلم- داسې امت او خلکو ته ولیږل شو چې امی ول نه یې لوستل کولای شول او نه یې لیکل کړي وه؛ د بتانو لرګیو او کاڼو عبادتونه یې کول، لورګانې یې ژوندی خښولې، ډېره موده یې د مسابقو او باطله شرطونو له کبله یوبل سره جنګونه کول ډېر خلک یې د مسابقې په سر وژل همدارنګه ډېر داسې بیلارې توبونه ګمراهی او ظلمونه پکښې شتون درلود چې جاهلیت زمانه کې لېدل کېدل او پرخلکو د جاهلیت د فرهنګ له کبله تحمیل شوي وه، نو الله متعال- جل جلاله- پر هغوی د خپل فضل او کرم وکړ او هغوی یې دجهل له تیارو څخه وویستل او د اسلام دین هدایت او رڼاوو ته یې بوتلل او د سمې او مستقیمې لیارې ته یې بوتلل، نو الله متعال د دې فضل او انعام ورکولو څښتن دی په کوم چا چې وغواړي انعام کوی.[1]

**پنځمه موضوع - د مقطع مهم نکات**

**لومړی فرعه** - د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- ځای او مکانت ښکاره کېدل:

د دې سورة او په ځانګړي توکه د دې سورة د دویم آیت څخه لکه څنګه چې الله متعال فرمایلی: ﴿ هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾[2]

ژباړه: الله هغه ذات دئ چې هغه را ولېږه، په نا لوستو کې رسول، د دوی څخه چې هغه لولي دوی ته د الله آیتونه او دوی پاکوي او هغوی ته ښايي، کتاب او حکمت خبرې او حال داچې دوی وو، له دې مخکې، خامخا په ښکاره ګمراهی کې.

همدارنګه په پورته یاد شوی آیت کې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- ځای او مقام ښکاره کېږي چې دا هسې نبی دی چې مخکینی رسولان او انبیاءو د دې د راتګ په اړه بشارتونه او خبر داری ورکړی وه؛ همدارنګه دا هغه نبی دی چې مخکیني آسمانی کتابونو کې یې یاد شوي وه ؛الله تبارک او تعالی – جل جلاله- دا نبی یې د ټولو پیغمبرانو ترمنځ آخری نبی انتخاب او په آخر الرسل ځانګړی کړ؛ رسالت یې د ټولو آسمانی رسالتونو خاتمه اوپایته رسېدونکی دی او عامو انسانانو او ټول بشر ته آستول شوی

[1] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية** ،ص۲۶.
[2] - **سورة الجمعة/۲**

دی، لکه څنګه چې الله متعال فرمايلی: ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ ﴾[1]

ژباړه: او ته مونږ نه يې لېږلی مګر ټولو خلکو ته موليږلی يې زيری ورکونکی او وېرونکی وليکن ډېر خلک نه پوهېږی.

الله متعال رسول يې له بنی هاشم او له قريشو څخه چې په مکه کې له لوړ نسب او اوچت مقام والاوو څخه ګڼل کېدل غوره کړ، د مکې په زړه کې وزېږېده، مور يې د زېږېدلو پروخت يې داسې يوه رڼا وليده چې د شام قصرونه او بنګلې ورسره ښکاره شوې، په ژبه کې په داسې توګه رښتينی وه چې قوم يې ترې يو درواغ هم تجربه کړې او اورېدلی نه وه، داسې امين او د خلکو امانت ساتونکی وه چې نورو له دې څخه مخکېني پيغمبرانو يې په راتګ بشارت ورکاوه، پيريان هم په بعثت او رسالت يې خبر شول او ايمان يې پرې راوړ، آسمانونه د ساتونکوملايکو او رڼاوو څخه دهغه راتګ سره ډک شول، الله تعالی د ځلويښتو کلونو په لرلو سره به نبوت مبعوث کړ، کله چې دلمر ختل يې(بعثت يې) نږدې شو هيڅ داسې ونه او تيږه نه وه مګر دا چې کله چې رسول الله-صلى الله عليه وسلم- دهغه سيمې څخه تېرېده نو دسلام اچولو غږونه اورېدل کېدل چې: السلام عليک يا رسول الله، کله يې چې خپل شاوخواته کتل پرته له تيږو او ونو نورشی به يې نه ليدل،ترڅو چې جبرئيل-عليه السلام- د الله تعالی لخوا د سفير په توګه رسول الله –صلى الله عليه وسلم- ته وحيې سره ولېږل شو، او ويې ويل چې: ﴿ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (1) خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴾[2]

ژباړه: ولوله په نامه د رب خپل هغه چې پيدا کړی يې دی ټول، پيدا کړی يې دی انسان له چکه(خالصې وينې) نه.

رسول الله-صلى الله عليه وسلم- راغی وحيې سره په داسې حال کې چې زړه يې له ډاره لړزيده خپل کور ته لاړ او ويل يې چې: (زملونی زملون) ما جامو سره پټ کړي ما جامو سره پټ کړی، د رسول الله-صلى الله عليه وسلم-ميرمن خديجة-رضى الله عنها- له حالته يې پوهه شوه او په دې وډار شوه چې خلک ورته کومه صدمه او آزار ونه رسوی، پر رسول الله-صلى الله عليه وسلم- وحی روانه وه او راتله او خلک يې هم په پټه خپلو خبرو او راغلو وحيو څخه خبرول، ترڅو چې د الله تبارک او تعالی له

---

[1] - سورة سبأ/٢٨.

[2] - سورة العلق/١-٢

خوا ورته امر وشو چې خپل نبوت اعلان وکړی او له مشرکینو څخه مخ واړوي، لکه څنګه چې الله متعال فرمايي: ﴿ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴾[1]

ژباړه: پس ښکاره والی کوه ته په هغې چې امر درته کولی شی او مخ و ګر ځوه ته له مشرکانونه.

خلاصه دا چې رسول الله-صلی الله علیه وسلم- یې له لوړ نسب څخه واستاوه چې ټولوته د منلو وړ دي.

**دویمه فرعه : تعلیم د ټولو حق دی**

په معاصره او اوسنی تعلیم او تربیه کې دا جوته او ښکاره خبره ده چې تعلیم د ټولو حق دی، پرته له دې چې د متعلمینو جنسیت، رنګ،مقام او نسب ته وکتل شی، لکه څنګه چې له رسول الله- صلی الله علیه وسلم- څخه د زده کړې په اړه روایت شوی:

عن عبدالله ابن عَمرو بن العاص –رضی الله عنهما- قال: « خرج رسول الله –صلی الله عیه وسلم – ذات یوم من بعض حُجَره فدخَلَ المسجد، فاذا هو بحلْقَتین: اِحداهما یقرؤون القرآن ویَدعون الله تعالی، والأخری یَتعلَّمون فقال النبی –صلی الله علیه وسلم: کلٌّ علی خَیر، هؤلاء یقرؤون القرآن ویَدعون الله، فاِن شَاء أعطاهم واِن شاء منَعهُم و هؤلاء یُعلِّمون و یَتعلَّمون و اِنَّما بُعِثْتُ مُعلِماً فَجَلَسَ مَعَهُم» [2].

ژباړه: له عبد الله ابن عمرو بن العاص-رضی الله عنهما- څخه روایت دی چې وايي: یوه ورځ رسول الله-صلی الله علیه وسلم- له خپلې حجرې څخه خارج شو او مسجد النبی ته راغی، ویې کتل چې دوه حلقې د مسلمانانو شته چې یوه یې قرآن عظیم الشأن وايي او د الله تبارک او تعالی یاد کوی، او بله حلقه یې د دین تعلیم او تعلم کوی، نو رسول الله-صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: دواړه په خیر او ښه کار بوخت دي، یو یې قرآن وايي که د الله رضا وشوه ورته اجر ورکوی، او بله ډله تعلیم او تعلم کوي، په حقیقت سره چې ځه معلم را لیږل شوی یم.

نو لکه څنګه چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم- د خلکو او خپل امتیانو لپاره معلم او لارښود لیږل شوی وه نو ټولو هغو کسانو لپاره معلم وه چې خبره یې او ریدله، دا هغه خبره ده چې دې آیت په صراحت سره ثابته کړې[3]،

---

[1] - **سورة الحجر**/۹۴.

[2] - **ابن ماجه**، باب فضل العلماء والحث علی طلب العلم، ج۱، ص۸۳ ، حافظ سخاوی ویلی: دا حدیث غریب او ضعیف دی، ځکه په سند کې یې زیاد بن انْعُم الإفریقی چې حافظه یې ضعیفه وه شته. خو حافظ عبدالحی الکتانی رحمه الله بیاو یلی چې دا حدیث صحیح دی ځکه مسلم هم روایت کړی، وکتل شی: **التراتیب الاداریة**، ج۲، ص۲۲۰.

[3] - أبو غده؛ عبدالفتاح، **الرسول المعلم وأسالیبه فی التعلیم**، ص۱۰، الطبعة الاولی(۱۴۱۷هـ ـ۱۹۹۶م)، الناشر: مکتب المطبوعات الاسلامیة - بیروت.

**دریمه فرعه : له دې مقطع او آیتونو څخه شرعی دلایل او اصول ثابته کېږی:**

په اسلام کې شرعي دلایل او د استنباط اصول درې دي چې یویې کتاب الله بل یې سنت رسول الله او دریم یې اجماع ده(که څه قیاس هم شرعی دلیل ګڼل کېږی، خو دلته د دې آیت کې همدا درې دلایل راغلی چې دلته د اختلاف او د فهی مسألې راوړلو ځای به نه وی)، نو کتاب الله او سنت رسول الله د الله تبارک او تعالی په دې آیت کې ثابت شوی چې الله فرمایي: ﴿**ویزکیهم ویعلمهم الکتاب و الحکمت**﴾ نو د کتاب څخه مراد قرآن عظیم الشأن دي او له حکمت څخه مراد د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- سنت دي. او د اسلامی امت اجماع له دې مفهوم څخه ښکاری چې الله فرمایي: ﴿ وَيُزَكِّيهِمْ﴾ ځکه اسلامی امت چې په الله او رسول یې ایمان راوړلی وی او په اسلامی لارښوونو عمل وکړي او کړنې یې د قرآن او حدیثو په رڼاکې وی، نو هغوی لپاره تزکیه حاصله شوه، نو کولای شی چې په ځینو اموراتو کې چې قرآن او سنتو سره مخالف نه وی اجماع وکړي، الله تبارک او تعالی د اسلامی امت عدالت او منځګړیتوب په اړه فرمایلی: ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا﴾[1] نو د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- د امت عادلانو اتفاق په یوې مسألې کې اجماع ګڼل کېږی.[2]

**شپږمه موضوع- د آیتونو په اړه احکام او فواید**

أ- پر رسول الله-صلی الله علیه وسلم- باندې د ایمان ارزښت: د دې سورة په دویم آیت کې پر رسول الله-صلی الله علیه وسلم- د ایمان راوړلو پر ارزښت او قیمت باندې خبره شوې، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمایي: ﴿ **هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ** ﴾[3]

ژباړه: الله هغه ذات دئ چې هغه را ولېږه، په نا لوستو کې رسول، د دوی څخه چې هغه لولي دوی ته د الله آیتونه او دوی پاکوي او هغوی ته ښایي، کتاب.

د جملې او آیت شروع د جلالت نوم ضمیر سره دا مونږ ته ښایي چې جمله یوه اسمی جمله ده چې د پورتنی حکم تقویه او تأکید غوښتنه کوي، په دې معنې چې نبی کریم-صلی الله علیه وسلم- خامخا د الله تبارک او تعال له خوا را لېږل شوی دی او (امیین) د ظرفیت لپاره دی، یعنې د یوې ټولنې او دهغو یو یو وګړو لپاره، چې له ظرفیت څخه د ملازمت او همیشه والي

---

[1] - سورة البقرة/۱۴۳.
[2] - ابن ناصر الدین، **المجالس فی قوله تعالی(**لقد من الله علی... وا ذا بعث.... ) ، ص۲۳۵.
[3] - سورة الجمعة/۲.

معنې هم اخيستل کېږي، په دې معنې چې دوی ته داسې يو امی نبی را ولېږل شو چې له هغوی څخه نه بېلېږي او دوی يواځې نه پرېږدي، ترهغه به ورته لارښونه کوی ترڅو چې سمې لارې ته راشي، د مرسل او مقالي سره لېږل شوی شخص غوندې نه چې خپله خبره ورسوی او نور يې ځواب ته په تمه نه شي، يا دا چې لکه د يو امانت ساتونکي شخص په شان ته چې امانت خپل خاوند ته تسليم کړي او بېرته را وګرځي، بلکه دا هغه نبی دی چې په همدې قوم کې لوی شوی او د همدوی ترمنځ د همدوی سترګو پر وړاندې رحلت به کوي[1].

ب- پرفاضله اخلاقو باندې د التزام او هميشه والي ارزښت:

هغه څه چې فاضله او غوره اخلاق بلل کېږي پرهغه د پابندی امر او هرهغه څه چې د فاضله اخلاقو پرضد او مخالف وی له هغه څخه ځان ساتل که هغه مادی وی او که معنوی لکه د شرک او د هغه اسباب، لکه څنګه چې الله متعال فرمايلی: ﴿وَ يُزَكِّيهِمْ﴾ يعني الله تبارک او تعالی هغه ذات دی چې رسول الله- صلی الله عليه وسلم- يې د لارښونې سر بېره دې لپاره هم لېږلی چې دوئ له ظاهری او باطنی نجاست چې شرک او هغه چارې او کړنې چې شرک سره مساوی او مرستندوی دي او له همدې نجاستونو څخه ګڼل کېږي پاک کړي، نيکو او فاضله اخلاقو او کړنو ته يې و هڅوی د ژوند په ښوچارو او ښايسته اخلاقو يې مزين کړي او د نيکو کړنو ترسره کولو باندې يې امر او د هغو چارو ترسره کولو لارې چارې ورته وښايي چې دوی پرې نه پوهېږي، د بدو کړنو او اخلاقو ترسره کولو پروخت يې زجر او بد اخلاقی څخه يې پاک کړي[2].

ج- د علم او زده کړې ارزښت:

همدارنګه په ياد شوی آيت کې د رسول الله-صلی الله عليه وسلم- بل صفت چې علم ښودنه ده ياد شوی چې له دې څخه د علم فضيلت ښکاره کېږي ، ځکه د رسول الله-صلی الله عليه وسلم- له دندو څخه يو د علم ښودنه وه، لکه څنګه چې الله متعال فرمايلی: ﴿وَيُعَلِّمُهُمُ﴾ يعني خپل امت ته د علم او حکمت ښودنه وکړي، دا دريم صفت دی چې الله تعالی په دې آيت کې د رسول الله –صلی الله عليه وسلم- توصيف کوی، معنې دا شوه چې نبی کريم-صلی الله عليه وسلم- خپل امت ته قرآن او د هغه احکامو ښودنه کوی، سنت او د شريعت ښکاره دلايل

---

[1] - **التحريروالتنوير**، ج۲۸، ص۲۰۶.

[2] - السعدی؛ عبدالرحمن بن ناصر بن عبدالله(۱۴۲۰هـ)، **تيسير الكريم الرحمن فى تفسير كلام المنان**، تحقيق: عبدالرحمن بن معلا اللويحق، ج۲ ، ص۴۳، الطبعة الاولى، الناشر: مؤسسة الرسالة- بيروت.

او د اسلام دين احكام ښودنه كوي، ځينو مفسرينو ويلي چې: كتاب او ليكل په قلم باندې خط كول دي او حكمت په دين كې ځان فقيه كول او پوهول دي، دا د رسول الله-صلى الله عليه وسلم- له صفاتو څخه او د علم د اهميت څخه او هغه ته ګټل كېږي چې رسول الله-صلى الله عليه وسلم- د هغه لپاره را لېږل شوی وه چې هغه د علم او دين زده كړه ده[1].

[1] ـ الشوكانى؛ محمد بن على(١٤١٤هـ)، **فتح القدير**، ج٥، ص٢٦٠، الطبعة الاولى، الناشر: دار ابن كثير، دار الكلم الطيب، بيروت- دمشق. الزحيلى؛ وهبة بن مصطفى(١٤١٨هـ) **التفسير المنير فى العقيدة والشريعة والمنهج**، ج ٨، ص٢٣، الطبعة الثانية، الناشر: دار الفكر المعاصر ـ دمشق.

## دریم مقطع
## د بی عمله علماوو مذمت ( ۵-۸ آیات)

الله تبارک او تعالی فرمایلی:﴿ **مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (5) قُلْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ هَادُوا إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاء لِلَّهِ مِن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ (6) وَلا يَتَمَنَّوْنَهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ (7) قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ** ﴾[1]

**لومړی موضوع - دآیتونو ژباړه**

ژباړه: مثال دهغو کسانو(یهودي علماؤو) چې په تورات مکلف وو، بیایې په هغې عمل ونه کړ، دوی د هغه خر غوندې دي چې کتابونه پرې بار وي، ډېر بد دی، د هغه قوم مثال، هغه کسان چې دروغ یې وګڼل، د الله آیتونه او الله تعالی سمه لاره نه ښايي، ظالم قوم ته(ای رسوله) ووایه: ای هغو کسانو! چې یهودان شوي یاست که تاسو ګومان کوئ، چې بېشکه تاسو، دوستان یاست الله لره، پرته له نورو خلکو، نو د مرګ آرزو وکړئ، که تاسو رښتینې یاست، (الله وایي) او دوی به د مرګ آرزو ونه کړی هیڅکله، د هغو عملونو له امله چې مخکې لیږلی دي د دوی لاسونو او الله تعالی ښه پوه دی په ظالمانو، وفرمایه: بېشکه هغه مرګ چې تاسو تختئ له هغې څخه، نو بیشکه هغه تاسو سره ملاقات کونکی دی، بیابه تاسو ور ستانه شئ، (هغه ذات) ته چې په پټو رازونو خبر دی او په ښکاره (هم خبردی)، نو هغه به تاسو خبرکړي، په هغه څه چې تاسو به کول.

**دویمه موضوع- د آیتونو مناسبت ماقبل او ما بعد او د سورة محور سره**

**لومړی فرعه: د دې مقطع مناسبت ماقبل آیتونوسره**

د دې سورة په دویم، دریم او څلورم آیت کې د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- توصیف، د مشرکینو یادونه او د الله تعالی فضل او کرم ذکر شوی، خو په پنځم آیت کې بیا د یهودو او نصارا وو د بد عملی

---

[1] - **سورة الجمعة**/۵-۸..

له کبله خره په شان ته مثال ورکړل شوی[1]، نو د دې آیت خپل مخکیني آیتونو سره ربط او مناسبت دا دی چې اې د مکې مشرکینو او د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- امتیانو! که یهود او نصاراوو د خپل په کتابونو باندې ځومره پوه هم ول خو ورباندې یې عمل ونه کړ د هغوی مثال د خره په شان دی، نو تاسو هم که د الله په کتاب باندې عمل ونه کړی او شاته یې وغرځوی نو تاسو له یهودو او نصاراوو ځخه څه زیات نه یاست نو تاسو به له هغوی ځخه هم بد تره شی، نو تاسو ته دا تحذیر او ویرونه ده چې د الله په کتاب باندې عمل وکړی او د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- تابعداري او د راوړل شوی کتاب احکام ومنی او د یهودانو په شان د بد عملی له کبله د خره په شان مه جوړیږي.

**دویمه فرعه: د دې مقطع مناسبت د سورة محور سره:**

پورته یاد شوی آیتونه د سورة محور سره ربط په دې توګه لری چې دسورت ادعا د الله تعالی توحید بیانول، د وحیې اثبات لپاره دلیل د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- ص داقت بنکاره کول مشرکانو ته زجر او اسلام ته ترغیب دی نو دا آیتونه هم همدې مسائلو ته شامل دي، ځکه چې رسول الله-صلی الله علیه وسلم- نالوستی وه خو د علم او حکمت خبرې یې کولې چې دا د دې دنبوت تصدیق کوی او د الله له خوا لیږل شوی چې توحید به منی مشرکینو ته زجر دی چې که یې ونه مني نو د دوی مثال د خرو ځخه به هم بد شی او په آخر کې اسلام دین ته ترغیب او تشویق کول دی[2].

همدارنګه لکه ځنګه چې د سورة یو مقصد او محور د یهودو دعوا دروا‌غ بیانول دی نو په دې مقطع کې د یهودانو ادعا چې هغوی له مرګ ځخه نه ویریږي دروا‌غ بیانبري، ځکه که رښتیاهم هغوی د الله تبارک او تعالی دوستان وی نو باید چې د مرګ غوښتنه یې کړې وای ځکه خلک خپل دوست او حبیب سره مینه لری[3].

**دریمه موضوع- اجمالی تفسیر**

اوس د سورة په دې برخه کې الله تعالی د یو مثال په بیانولو سره د یهودانو اخلاق او عملی بې هوده ګي بیانوي، لکه ځنګه چې الله متعال فرمایلی: ﴿ **مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا** ﴾[4]

---

[1] - **التناسق الموضوعی فی سورة الجمعة والمنافقون والتغابن**، ص١٠٠.
[2] - **ایقاد شمعة لفهم سورة الجمعة**، ص٧.
[3] - **المختصر فی تفسیر القرآن الکریم**، ص٥٥٣.
[4] -سورة الجمعة/٥.

ژباړه: مثال دهغو کسانو(یهودي علماؤو) چې په تورات مکلف وو، بیایې په هغې عمل ونه کړ، دوی د هغه خر غوندې دي چې کتابونه پرې باروي.
دا چې له علومو او معارفو څخه ګټه اخیستل انسانی کمال دی، نو د دې برعکس هغه څوک چې علم او هدایت ور سره وي او هغه ترې ګټه نه اخلي، لکه یهودي علماء او نور یهودیان، نو دوی باید پوه شي چې د هغو خلکو مثال چې تورات ورته ورکړل شوی او د تورات په احکامو مکلف شوي دي چې دوی به پرې عمل کوي، خو دوی په تورات د عمل کولو دغه پیتی پورته نه کړ، په تورات یې عمل ونه کړ، نو دوی د یو خر غوندې دي[1]، داسې خر چې په ملا یې دکتابونو وری بار کړی او روان وي، خو عمل پرې نه کوی، څرګنده ده چې خر په دې نه پوهېږي چې په ده د کوم شي پیتی بار دی، خر په دې نه پوهېږي چې په ده دعلومو او معارفو پیتی بار دی او که د خښتو یا ډبرو پیتی پرې بار دی؟
یهودان همداسې وو، هغوی د تورات مسؤولیت اخیستی وه، په تورات او د تورات په احکامو مکلف وو چې عمل پرې وکړي، خو هغوی یې هیڅ پروا ونه کړه، نه یې تورات او د تورات احکامو ته په زړه کې کوم ځای ورکړ، نه یې د هغې تلاوت وکړ او نه یې پرې عمل وکړ، نو هر کله چې داسې صورت وي، نو څرګنده دا ده چې په دوی آسمانی صحیفي بار دي، د علومو او معارفو خزانه یې په سر کړې ده، نو یقیناً دا داسې مثال لري، لکه دغه کتابونه، علوم او معارف چې په کوم خر بار وي[2].
شیخ الاسلام شبیر احمد عثمانی-رحمه الله- فرمایلی: که په یو خر دعلم ،فنون، هدایاتو او معارفو سلګونه کتابونه باروی، هغه ته یواځې پیتی دی، بله ګټه ورته نه کوي، هغه یواځې د وښو په لټه کې دی، هغه له دې سره هیڅ کار نه لري، چې په سر یې لعل او جواهر بار دي او که کاڼي او خښتې پرې بار دي، که یواځې په دې ویاړ او فخر کوي چې په ما څومره قیمتي او ارزښتناک کتابونه بار دي، نو زه ډېر لوی عالم یم، نو بیا خو غټ خر دی[3].
الله تعالی د دې مثال په بیانولو سره د یهودانو اخلاقی او عملي بې هوده ګي بیان کړه، له دې وروسته فرمایي: دا د هغو خلکو لپاره ډېر بد مثال دی، کومو چې د الله تعالی آیتونه دروغ وګڼل ، په نورو کتابونو کې چې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- کوم بشارتونه او صفتونه وو، له هغې څخه یې انکار وکړ، د تحریف په کولو سره یې هڅه وکړه چې دغه ټول بشارتونه او صفات ختم کړي، نو رښتیا هم چې

[1] - **القرآن الکریم وترجمة معانیه الی اللغة البشتو**، ج۲، ص۱۷۲۱.
[2] - المختصر فی تفسیر القرآن الکریم،ص۵۵۳.
[3] - **القرآن الکریم وترجمة معانیه الی اللغة البشتو،ج۲**، ص۱۷۲۱.

دغه خلک ډېر ظالمان دي، له دوی لوی ظالمان نشته دی او الله تعالی ظالمانو ته سمه او حقه لاره نه ښايي، نو له همدې امله اوس کوم امید نشته دی چې داسې بد بخت خلک به سمې لارې ته راشي[1].

يهودان له يو اړخ څخه د الله تعالی په کتاب کې تحريف کوی، له احکامو يې بغاوت کوی، انکار کوي او د رسول خبره يې نه مني او له بل اړخ څخه دعوه کوي چې مونږ د الله تعالی دوستان او هغه ته ګران يوو، نو له همدې امله د دوی په رد کې رسول الله-صلی الله عليه وسلم- ته فرمايي: ای د الله تعالی رسوله-صلی الله عليه وسلم-ته دوی ته وفرمايه: ای يهودانو! که تاسو دا دعوه لرئ چې بېشکه تاسو الله تعالی ته بې له نورو خلکو ګران او خوښ ياست او د هغه دوستان ياست، نو که په دې دعوه کې رښتيني ياست، تاسو د مرګ آرزو او تمنا وکړئ! ځکه تاسو دعوه لرئ چې الله تعالی در سره محبت لري، نو هغه ته د تګ خو يواځې همدغه يوه لاره ده چې تاسو مړه شئ، نو دمرګ آرزو وکړئ، نو څوک چې له الله تعالی سره محبت لري، هغه به خامخا الله تعالی سره دملاقات مينه او شوق لري او داشوق هغه وخت پوره کېږي، کله چې د دې دنيا ژوند سره مخه ښه وشي، نو که تاسو الله تعالی سره مينه لرئ، ژوند سره مخه ښه او مرګ به درته خوښ وی، نو له همدې امله د مرګ آرزو وکړئ[2].

يهودانو د کفر، شرک او نورو بد اخلاقيو سره سره دا دعوه هم کوله چې مونږ د الله تعالی زامن يو، لکه څنګه چې الله تعالی د دوی واقعه ياده کړې، الله تعالی فرمايي: ﴿ وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى نَحْنُ أَبْنَاء اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ ﴾[3]

ژباړه: مونږ د الله تعالی زامن يو او هغه ته ګران يوو.

همدارنګه ويل يې چې پرته له مونږ نور جنت ته نه داخله کېږی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلی: ﴿ وَقَالُواْ لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلاَّ مَن كَانَ هُوداً أَوْ نَصَارَى ﴾[4]

ژباړه: جنت ته به له يهودانو او نصرانيانو پرته بل څوک نه داخلېږی.

خو الله تعالی رسول الله-صلی الله عليه وسلم- ته فرمايي چې ته ورته وفرمايه: ﴿ قُلْ هَاتُواْ بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾[5]

ژباړه: که تاسو رښتيني ياست په دې اړه خپل دليل راوړئ.

---
[1] - **تفسير معارف القرآن،** ج۸، ص۲۰۹.
[2] - **القرآن الكريم وترجمة معانيه الى اللغة البشتو،ج۲**، ص۱۷۲۲.
[3] - **سورة المائده**/۱۸.
[4] - **سورة البقرة**/۱۱۱
[5] - **سورة البقرة**/111

په دې آیت کې الله تعالی د یهودیانو او نصرانیانو دا غرور بیانوی چې د هغوی هره یوه ډله دا دعوی کوی او په ډاګه وایي چې مونږ څخه پرته به بل هیڅوک جنت ته لاړ نه شي، خو الله تعالی د دوی د خبرې تکذیب په همدې آیت کې کړی دی او ورته فرمایلی یې دی چې که که ستاسو خبره رښتیا ده نو ځانته د اثبات لپاره دلیل راوړئ او دقیامت د عذاب څخه ځان خلاص کړئ[1].

او همدارنګه یې د دوی د رد لپاره دوی ته وفرمایل چې که تاسو دعوه کې رښتیني یاست نو د مرګ آرزو او غوښتنه وکړئ.

خو دوی ډېر دورغجن دي او دوی به هیڅکله د هغو عملونو له امله د مرګ آرزو او تمنا ونه کړي، کوم چې دوی په خپلو لاسونو له ځان څخه مخکې لېږلي دی ا الله تعلی ظالمان ډېر ښه پېژني او دغه ظالمان هیڅکله دخپل ظلم له سزاء څخه بچ کېدای نه شي.

دوی دروغ وایي چې مونږ الله تعالی سره مینه لرو او هغه مونږ سره محبت لري، ځکه کومو خلکو چې الله تعالی سره رښتیني مینه درلوده، نو هغوی د مرګ د وره په ټکولو سره دا ثابته کړه چې دوی الله تعالی سره مینه لري، د هغوی له خولو څخه بې اختیاره دا الفاظ ووتل: "واه واه! سبحان الله! ماته خو د احد له غره څخه د جنت بوی راځي".

دا غوښتنه د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- صحابه کرام-رضی الله عنهم- وو چې د جنګ میدان او شهادت یې ستره آرزو وه، لکه د احد په غزاکې چې انس-رضی الله عنه- پورتنۍ جمله ویلې وه چې ماته خو د احد غره څخه دجنت بوی راځي.

داچې د الله تعالی دغو اولیاوو یعنې صحابه کرامو داسې خبرې کولې، دا یې د کوم دنیاوي سختۍ او تکلیف له امله نه کولې، بلکې دوی دا خبرې الله تعالی سره د مینې، ملاقات او جنت ته د تللو له امله کولې، له همدې امله به یې دمرګ تمنا کوله، لکه په بدر غزا کې چې" عمیر-رضی الله عنه- د کجورو کڅوړه ګوزار کړه او ویې ویل: ترڅو چې دا کجورې خورم، ډېر وخت لګېږي، غواړم چې ډېر ژر جنت ته لاړ شم"[2].

د دوی له ژوند او د ژوند له حالاتو معلومېږی چې دوی ته له مرګ څخه زیات د دنیا بل شی خوښ نه و، مرګ یې خوښ وه، لکه پخپله رسول الله-صلی الله علیه وسلم- چې فرمایي: عن ابی هریرة –

[1] - **تفسیر القرآن العظیم** ،ج۱، ص۴۱۱.
[2] - **صحیح مسلم**، ج۲، ص۱۳۹.

رضی اللاه عنه- قال: قال رسول الله –صلی الله علیه وسلم- «والذی نفسی بیدِه لَودِدتُ أنْ أُقاتِلَ فی سبیلِ الله فأُقتَلَ ثمَّ أُحْیَا ثمَّ أُقتَلَ ثُمَّ أُحْیَا»[1]

ژباړه: زه غواړم چې د الله تعالی په لاره کې شهید شم، بیا ژوندی شم، بیا ووژل شم، بیا ژوندی شم اوبیا ووژل شم.

خو د یهودانو ژوند او کارونه، اعمال او افعال په دې دلالت کوي چې دوی له مرګ څخه ډېره ژوند سره مینه لري، دوی ته تر ټولو خوښ شی دنیا او دنیاوي ژوند دی، که د دوی په ژوند او حالاتو ژور نظر وشي، نو معلومېږی چې دوی تر ټولو زیات مرګ بد ګڼي او له دنیا سره ترټولو زیاته مینه لري.

دوی خو دنیا سره مینه او مرګ یې بد راځي، خو دوی په دې نه پوهېږی، چې مرګ به ورته خامخا راشی، څکه رسول الله-صلی الله علیه وسلم- ته فرمایي: ای زمونږ رسوله-صلی الله علیه وسلم- ته دوی ته وفرمایه: بیشکه هغه مرګ چې تاسو ورڅخه تختئ، هغه به خامخا او یقیناً تاسو سره ملاقات وکړي او تاسوبه ور سره مخامخ شئ، چاره موترې نشته دی، که تاسو د روح نیولو او بدن کې د حصارولو لپاره هر ډول عصری ماشینونه جوړ کړئ، روح نه شئ منع کولی، ستاسو له بدن څخه به خامخا وځي او تاسو به مړه شئ، بیا به تاسو د هغه ذات طرف ته ورستانه شئ او هغه ته به ور وګرځېږئ، چې په پټو او ښکاره یعنې په هرڅه خبر او پوه دی، بیابه هغه تاسو په هغه څه خبر کړي، کوم چې تاسو په دنیا کې کول او تاسو لپاره به دا امکان ونه لري چې یا له هغې څخه انکار وکړئ او یا پکې دلائل وړاندې کړئ[2].

مفسرین فرمایي چې: (**فتمنوا الموت ان کنتم صادقین**) د یهودانو د دورغجنوالي څرګند دلیل دی، څکه کله چې دا اعلان وشو، نو که دوی کې لږ غوندې صداقت هم وای، دوی به دمرګ تمنا کړې وای[3].

امام احمد بن حنبل-رحمه الله- له ابن عباس-رضی الله عنه- څخه یو روایت نقل کړی دی، چې ابن عباس –رضی الله عنهما- وفرمایل: « د مکې په ژوند کې یوه ورځ ابو جهل داسې وویل: که زه له دې وروسته وګورم چې محمد رسول الله- صلی الله علیه وسلم- کعبې سره خوا کې سجده کوی، نو زه به یې مرۍ(څمکې سره) و مروړم، رسول الله-صلی الله علیه وسلم- وفرمایل: قسم په الله-جل جلاله- ! که ده داسې کړی وای، نو ملائکو به ټوټه ټوټه کړی وای او که یهودانو د دې اعلان وروسته د مرګ

---

[1] - **المعجم الاوسط،** ج۲، ص۶۷، **بخاری،** رقم الحدیث(۲۷۹۷) **مسلم،** رقم الحدیث(۱۸۷۶)، حکم الحدیث: صحیح، المحدث: الالبانی، **صحیح الجامع،** الرقم(۷۰۷۵).

[2] - **تفسیر معارف القرآن،** ج۸، ص۲۱۰

[3] - **القرآن الکریم وترجمة معانیه الی اللغة البشتو،** ج۲، ص۱۷۲۲.

آرزو کړې وای، نو همدغه شېبه کې به ټول له مخې د مرګ کندې ته ګوزار شوي وای او په دوزخ کې چې د دوی کوم هستوګنځای دی، هغه به یې کتلی وای او ویې فرمایل: او که هغه نصرانیان چې د مباهلې دعوت ورکول شوی وه، که دوی د مباهلې لپاره را وتلي وای، نو د هغوئ د اهل او عیال، مال او متاع، نوم او نښه به هم پاتې نه وای» [1].

**څلورمه موضوع :- د الفاظو څېړنه**

په دې یاد شوی آیتونوکې د یهودو ځینې بد او مذمومه صفاتو په اړه خبره شوې، لکه څنګه چې الله متعال فرمایلی: ﴿ مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ﴾ [2]

ژباړه: مثال دهغو کسانو(یهودي علماؤو) چې په تورات مکلف وو، بیایې په هغې عمل ونه کړ، دوئ د هغه خر غوندې دي چې کتابونه پرې باروي.

(**مثل الذين**) یعنی د هغو یهودانو مثال چې (**حملوا**) پر تورات عمل کولو مکلف ول او هغه یې پرېښود، (**كمثل الحمار**) لکه هغه خرونو غوندې دي چې غټ غټ کتابونه وړي او نه پوهېږی چې څه ورباندې بار دي، (**اسفاراً**) د مخکینی قومونو کتابونه یا لیکل شوی قواعد او قوانین [3]. (**بئسَ**) بد دي د هغو قومونو مثال چې د الله آیتونه یې درواغ وګڼل(**والله لايهدى القوم الظالمين**) الله ظالم قوم ته د هدایت توفیق نه ورکوی چې حقیقت باندې پوه شي [4].

څوک چې په دې آیت کې ورته د تورات حملولو مثال ورکړل شوئ هغوي یهود دي چې الله متعال ورته تورات نازل کړ چې په هغه کې د دوئ هدایت او لارښونې لپاره ښکاره دلایل او هدایت کېدلو لپاره لارښود او رڼا وه خو دوئ ترې ګټه پورته نه کړه [5]، الله متعال فرمایي: ﴿إِنَّا أَنزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُواْ مِن كِتَابِ اللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيْهِ شُهَدَاء فَلاَ تَخْشَوُاْ النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلاَ تَشْتَرُواْ بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلاً وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ﴾ [6]

ژباړه: بیشکه موږ را نازل کړی دی تورات چه شته په هغه کښ لارښول حق ته او نور، حکم به کولو په هغې باندې پیغمبرانو هغه پیغمبرانو چه طاعت کونکی وو د الله تعالی هغه کسانوته چې یهودیان وو او حکم به کولو پر عارفانو دخدای او عالمانو په هغه احکامو چې طلب د یاد والی کړی شوی وو له دوئ نه له کتاب د الله نه او وو دوئ په هغه باندې شاهدان پس مه وېرېږئ تاسو له خلقونه او وېرېږئ له

---

[1] - **رواه البخارى، واالترمذى والنسايى**، الالبانى، سلسلة الاحاديث الصحيحة، برقم(۳۲۹۶).
[2] -سورة الجمعة/۵.
[3] - **الدر المنثور في التفسير بالماثور**، ج14، ص458.
[4] - **المختصر فى تفسير القرآن الكريم**، ص553.
[5] - **التناسق الموضوعى فى سورة الجمعة والمنافقون والتغابن**، ص۱۲۵.
[6] - سورة المائدة/۴۴

مانه او مه اخلئ په پټولو د آيتونو ځما باندې پيسې لږې، او هرچاچې حکم ونه کړو په هغې چه نازل کړې دی الله، نو دغه کسان هم دوی کافران دي.
تورات يې واخيست، پرې ښه ځانونه يې پوه کړل او پوه شول، په احکامو يې عمل کولو او په ژوند کې پلی کولو باندې مکلف شول؛ خو د تکبر او عناد له وجې ترې مخ يې واړاوه او ځانونه يې د عمل کولو څخه وساتل، له احکامو څخه يې مخ وګرځاوه او د خپلو زړونو څخه يې حسد او بد بينی ښکاره کړل چې څنګه به دوی ته داسې نبی رالېږل کېږی چې له بنی اسرائيلو څخه نه وی.
**(کمثل الحمار يحمل اسفارا)** دا د يهودو د کړنو او هدايت څخه مخ اړولو او تورات پر را لېږل شوی احکامو باندې د عمل نه کولو نتيجه ده، نو الله متعال د دوی مثال د هغه خرونو په شان مشابه کړل چې ورباندې علمی کتابونه بار وی او له يوځای څخه يې بل ځای ته انتقالوی خو نه پوهېږي چې څه شي ورباندې بار دي او حمل کوي يې[1].
دا آيت او مثال ورکول په دې دلالت کوی چې الله متعال په دې نه شرمېږي چې د لوړو علومو او معلوماتو په بيانولو کې ښايسته او اوچت شيان حقير او ټيټ شيانو سره مثال و رکړی ترڅو خلک پرې ښه پوه شي، ځکه دلته خطاب ټولو خلکو او انسانانو ته دی چې د هغوی له کړنو څخه ځان خبر او ترې وساتی نو غوره همدا ده چې داسې مثال او ضرب المثل ورکړل شی چې خلک حتی عوام الناس هم پرې په ډېرې آسانتيا او سادګی سره پوه شي، په دې دلالت باندې دالله تعالی دا بله وينا په صراحت سره دلالت کوی لکه څنګه چې الله متعال په بل ځای کې د ماشي مثال ورکړی[2]، الله متعال فرمايي: ﴿ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَسْتَحْيِى أن يَضْرِبَ مَثَلاً مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ﴾[3]
ژباړه: بيشکه چې الله شرم نه کوی له دې چې بيان کړی، يو مثل له مثلونو په ماشی سره يا چې زيات وی له دې څخه.
همدارنګه دا تشبيه هغه ضرب المثل او تشبيه ده چې رسول الله-صلی الله عليه وسلم- هم د هغه چا په اړه چې د جمعې په ورځ د امام د خطبی ويلو په وخت کې خبرې کوی استعماله کړې، روايت دی

---
[1] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية**، ص۲۷
[2] - الشنقيطی؛ محمد الأمين بن محمد المختار الجنکی، **أضواء البيان فی ايضاح القرآن بالقرآن** ، ج۲، ص۴۵، الطبعة الاولی(۱۴۱۵هـ ـ۱۹۹۵م)، الناشر: دارالفکر- بيروت.
[3] - سورة البقرة/۲۶.

چې: عن ابن عباس –ضى الله عنه- قال: قال رسول الله- صلى الله عليه وسلم- **«من تكلم يوم الجمعة والامام يخطب فهو(كمثل الحمار يحمل اسفارا) والذى يقول له انصت ليس له جمعة»**[1]

ژباړه: له ابن عباس –رضى الله عنه –څخه روايت دي چې رسول الله –صلى الله عليه وسلم- فرمايلي: چاچې د جمعې په ورځ د امام خطبې بيانولو پروخت خبرې وکړې (لکه د هغه خر دی چې پرې کتابونه بار وي) او هغه څوک چې بل يوه ته وايي خبرې مه کوه او خاموشه کښېنه هغه لپاره هم د جمعې لمونځ نشته( د جمعې ورځ د لمانځه اجر ورته نشته).

همدارنګه د يهودو د ګمراهی او په تورات باندې دعمل کول پرېښودلو په اړه په بل حديث کې راغلی چې هغوی آسماني کتابونه پرېښي وه او عمل يې پرې نه کاوه په حديث کې داسې راغلی: **(عَنْ عَوْف بْنِ مَالِک الأَشْجَعِىّ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ- صلى الله عليه وسلم – نَظَر اِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ: «هَذَا أَوَانُ يُرْفَعُ العِلْمُ» فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ-يُقَالُ لَهُ: زِيَادُبْنُ لَبِيْدِ- يَارَسُوْلَ اللهِ! وَكَيْفَ وَقَدْ أُثْبِتَ وَ وَعَتْهُ الْقُلُوْبُ وَقَدْ قَرَانَا القُرْآنَ؟ فَوَاللّهِ لَنَقْرَأَنَّهُ وَلَنَقْرَئَنَّهُ نِسَاءَنَا وَأَبْنَاءَنَا وَيَقْرِئُهُ أَبْنَاءُنَا أَبْنَاءَهُمْ اِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ، فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ-صلى الله عليه وسلم-« اِنْ كُنْتُ لَأَحْسَبُکَ مِنْ أَفْقَهِ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ» ثُمَّ ذَكَرَ ضَلَالَةَ الْيَهُوْدِ وَالنَّصَارَى عَلَى مَا فِىْ أَيْدِيْهِم مِنْ كِتَابِ اللهِ)**[2].

ژباړه: له عوف بن مالک اشجعی-رضى الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله-صلى الله عليه وسلم- آسمان ته وکتل او ويې ويل: «دا هغه وخت دی چې علم پورته کېږي»- علم له منځه ځي - يوسړی له انصارو څخه چې زياد بن لبيد ورته ويل کېده - وويل: ای د الله رسوله! څنګه به دا علم له منځه ځي چې ثابته شوی او مونږ او زمونږ زړونه پرې پوه شوی او مونږ قرآن تلاوت کړ؟ په الله مې قسم وی چې مونږ به يې قرائت کوو، زمونږ ښځې به يې هم قرائت کوی، زمونږ اولادونه به يې هم لولی، همدارنګه زمونږ اولادونه به دخپل اولادونو ته يې ور زده کوي آن تر قيامت ورځې پورې، نو رسول الله-صلى الله عليه وسلم- ورته وويل: «که څه ترهغه وخته پورې ژوندی اوسم نو تا به د مدينه له خلکو څخه فقيه او پوه سړی وبولم» له هغه څخه وروسته يې د يهودو اونصاراوو ضلالت او ګمراهی ګانې چې دخپل شته کتابونوکې يې کړي وې يادې کړې.

---

[1] - لشيبانی؛ ابی عبدالله أحمد ابن حنبل(ت: ۲۴۱هـ)، **المسند**، ج۱، ص۲۳۰، حديث رقم(۲۰۳۳)، تحقيق: شعيب الأرنؤوط وآخرون، الطبعة الثانية(۱۴۲۰هـ ـ۱۹۹۹م) الناشر: مؤسسة الرسالة – بيروت. رواه احمد باسناد لاباس به( أبو بكر عبد الرزاق بن همام بن نافع الحميري اليماني الصنعاني (المتوفى : 211هـ) **شرح البلوغ** ،ج1،ص334، )

[2] - رواه احمد وحسنه الارناووط. **سنن الترمذى**، ابواب العلم، باب ماجاء فى ذهاب العلم، حديث رقم(۲۶۵۳).

(**بئس مثل القوم الذين كذبوا بآيات الله**) ډېر بد مثال دی، د هغو خلکو مثال چې د الله تعالی واضحه او ښکاره دلایل درواغ ګڼي او د هغه خلکو مثال چې د الله متعال د را لېږل شوی احکامو څخه د تکبر او ځان اوچت ګڼلو له کبله مخ اړوی او عمل پرې نه کوي[1].

(**والله لا يهدي القوم الظالمين**) ترهغه وخته پورې چې ظلم د دوي وصف وي، عناد او استکبار د حقې لارې څخه د دوي لاره او عادت وی؛ نو الله دوی ته نه لاره شايي، نه يې لارښونه کوی او نه يې زړونه اصلاح کوي، ځکه دا د دوی شنيع او بدو کړنو سره ، د الله متعال اوامرو څخه سرغړونه چې ورته يې په رسول الله-صلی الله عليه وسلم –باندې د ايمان راوړلو امر کړي او د دوي نورو کړنو سره چې د الله تعالی له لورې را لېږل شوی احکا موته يې غاړه نه ده ايښې موافقه او سمه جزا ده، د دوی عناد او سرغړونه ډېره سخته او له ګمراهی څخه ډکه وه ځکه دوی دخپل نفسو پرحق ګڼل حال داچې دحق څخه ډېر لرې پاتې شوی ول، له همدې کبله د رسول الله –صلی الله عليه وسلم – څخه روايت دي چې فرمايي: «**لَوْكَانَ مُوْسَى حَيّاً مَاوَسَعَهُ اِلَّا اتِّبَاعِىْ**»[2]

ژباړه: که موسی ژوندی هم وی پرته زما د متابعت او پيروی څخه بله لاره يې نه درلوده(بل څه يې نه کول او پرما به يې ايمان راوړ).

خو يهودو د حقد، حسد او کينې له وجې ايمان را نه وړ، نو له دې کبله پرخپلو نفسونو باندې يې ظلم وکړ، لکه څنګه چې الله ترې يادونه کوی (**والله لايهدي القوم الظالمين**) نو الله متعال ظالم قوم ته هدايت او لارښوونه نه کوی[3].

﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ هَادُوا إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاء لِلَّهِ مِن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾[4]

ژباړه: ووايه: ای هغو کسانو! چې يهودان شوي ياست که تاسو ګومان کوئ، چې بېشکه تاسو، دوستان ياست الله لره، پرته له نورو خلکو، نو د مرګ آرزو وکړئ، که تاسو رښتيني ياست.

مباهله او داسې غبرګول د هغه چا په حق کښې استعمالېږی چې له صحيح او سمې لیارې او د رسول الله-صلی الله عليه وسلم- له دين څخه يې ځان بل خواته اړولی وی او سمه لاره يې پرېښې وي، همدارنګه هاد: په معنې د هغه چا هم راځي چې د بدې او خرابې لارې څخه بيرته سمې او حقې لارې ته راغلی وی، لکه څنګه چې الله متعال هم فرمايلی: ﴿**انا هدنا اليک**﴾، نو که تاسو ګمان کوی چې

---

[1] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية**،ص٢٨.
[2] - العسقلانی، أحمد بن علی ابن حجر، **فتح الباری فی شرح صحيح البخاری**، ج١٣، ص٥٢٥، بتصرف، الطبعة الثانی(١٣٧٩هـ)، الناشر: دارالمعرفة –بيروت.
[3] -**سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية**، ص٢٨.
[4] - سورة الجمعة/٦

تاسو د الله متعال اولياء او دوستان يئ پرته له نورو خلكو څخه نو د مرګ غوښتنه او د الله متعال سره د ملاقات او ليدو کتو په آخرت او له مړيني څخه وروسته وکړی او آيت يې په دې خبرې چې فرمايي(ان کنتم صادقين) باندې ختم کړ، که واقعاً د خپل په محبت او ويلو کې رښتيني يئ، همدارنګه دا ياد شوئ آيت په دې لاندې بل آيت هم تفسير کيدای شي، چې الله متعال فرمايي: ﴿ قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الآَخِرَةُ عِندَ اللّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾[1]

ژباړه: و وايه دوی ته که چېرې وی خاص تاسو لره هغه د آخرت كور په نزد د الله يوازې بې له نورو خلقونه پس آرزو وکړئ تاسې د مرګ که چېرې يی تاسو رښتينی.

نو الله متعال د هغوی په خبرو او د زړونو په نيتونو او ارادو باندې ښه پوه وه چې دوی دخپلو محبت او خبرو کې رښتيني نه دي، د پورتني آيت ځواب يې ورته ورکړ او ويې فرمايل: ﴿ وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴾[2]

ژباړه: (الله وايي) او دوی به د مرګ آرزو ونه کړی هيڅکله، دهغو عملونو له امله چې مخکې ليږلی دي د دوی لاسونو او الله تعالی ښه پوه دی په ظالمانو.

نو هيڅکله به هم د مړينې تمه ونه کړي د هغه کړنو له کبله چې دوی مخکې ترسره کړي دي، هغه ګناهونه او بدې کړنې چې د خلکو، پيغمبرانو او مسلمانانو په حق کې، يو د بل په حق کښې يې کړي دي؛ نو هيڅ کله به هم د مرګ او د آخرت ورځ غوښتنه ونه کړي، ځکه دوی د خپلو د کړنو جزا ګانو باندې پوه دي چې څومره نا خوالې او افترا ګانې يې کړي[3].

ځکه که دوی د مرګ غوښتنه کړی وای نو الله متعال به ورته مرګ ورکړي وی او دوي به د خپلو سزاګانې او په جهنم د خپل مناصب او مقاعد ليدلي وی، لکه څنګه چې رسول الله- صلى الله عليه وسلم- فرمايي: **عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ-رضى الله عنهما-قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ الله- صلى الله عليه وسلم-« لَوْ أَنَّ الْيَهُوْدَ تَمَنَّوْا الْمَوْتَ لَمَاتُوْا وَرَأَوْا مَقَاعِدَهُمْ فِيْ النَّارِ»**[4]

ژباړه: له ابن عباس-رضى الله عنهما-څخه روايت دی چې وايي: رسول الله-صلى الله عليه وسلم- وويل: «که يهودانو د مرګ غوښتنه يې کړې وئ، ټول به مړه شوی وی او دخپل ځايونه به يې په جهنم کې ليدلی وي».

---

[1] - سورة البقرة/٩٤.

[2] - سورة الجمعة/٧.

[3] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية**، ص٢٩

[4] - رواه احمد، **سلسلة الاحاديث الصحيحة**، برقم(٣٢٩٦).

**(والله عليم بالظالمين)** د دې سورة په دې ځائ کې الله متعال د هغوی بل صفت چې ظلم دی بیان کړ، همدارنګه د صفت په بیانولو سره دا یې هم هغوی ته خبرداری ورکړ چې الله متعال د هغوی په ظالمانه کړنو باندې پوه دی او دا چې د خپلو نفسونو او نورو خلکو سره یې ظلمونه کړی، د هغه ظلمونو څخه یو یې دا دی چې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- اوصاف چې د هغوئ په کتابونو کې ذکر شوي پټ کړي یې دي او خلکو ته یې نه وایي او نه یې ښکاره کوی، نو الله د دوی په حال او د دوی په کړنو باندې پوهېږي چې د دوی له ظلمونو او اعتدا ګانو له کبله پر دوی او پرنورو خلکو څه واقع کېږي او کومې سزا ګانې ورته ورکول کېږی[1].

بیا وروسته الله تبارک او تعالی دمنافقینو موضوع ختمه کړه او هغوی ته یې اعلان وکړ او په دې خبرې یې اقرار وکړ چې ای منافقینو تاسو چې له کوم مرګ او کوم د آخرت ورځ څخه ویره لرئ او ترې تېښته کوئ هغه حتمی را تلونکی دی او په هیڅ صورت تاسو او هیڅ څوک ترې خلاصېدای نه شی ، لکه څنګه چې الله متعال فرمایلی: ﴿ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾[2]

ژباړه: وفرمایه: بېشکه هغه مرګ چې تاسو تختی له هغې څخه، نو بیشکه هغه تاسو سره ملاقات کونکی دی، بیابه تاسو ور ستانه شئ، (هغه ذات) ته چې په پټو رازونو خبر دی او په ښکاره (هم خبردی)، نو هغه به تاسو خبرکړي، په هغه څه چې تاسو به کول.

نو هغه موت او مرګ چې تاسو ترې د حق او رڼا او هغه هدایت سره چې امی نبی رالېږل شوی د انکار او استکبار له وجې ډارېږي او په تیښته کې یې خامخا تاسو ته در رسېږي او خلاصون ترې نا ممکنه دی، ژر دی چې تاسو له هغه وخت څخه پیدا شوی یاست مرګ در پسې را شي چې پټېدل او تیښته کول ترې نشته لکه څنګه چې ستاسو پلرونو همدا خیال او ګمان کاوه خو هغوی هم مړه شول نو تاسو به هم لکه دخپل پلرونو په شان مړه شی، له مرګ څخه وروسته به تاسو بیا را وګرځوي او دقیامت په ورځ باندې به تاسو ژوندي کړای شي او الله سبحانه و تعالی به تاسو ته عالم الغیب والشهادة وښایي، په هغو کړنو او افترا ګانو چې تاسو په دې دنیا کې کړي وي په هغوی به تاسو خبر کړي او تاسو به د هغو کارونو په ترسره کولو اقرار او اعتراف وکړي او هیڅ شی به پټ پاتې نشي او په هیڅ انسان به ظلم ونه شي[3].

---

[1] - القرآن الکریم وترجمهٔ معانیه الی اللغهٔ البشتو، ج۲، ص۱۷۲۲.

[2] - **سورة الجمعة/۸.**

[3] - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية، ص۲۹**

**پنځمه موضوع - د مقطع مهم نکات**

د جمعې ورځې خطبه د رسول الله-صلى الله عليه وسلم- په وخت کې په خپل ذات د رسول الله-صلى الله عليه وسلم- د ډېرو جهودو او کوششونو ښکارندوی ده چې د اسلامی امت لومړنۍ او ښستيز خلکو په اړه يې کاللی، تر څو چې هغه زيارونه د امت د کاميابۍ لويې او پرمختک سره آن تر دې چې په خيرالقرون ونو مول شول پای ته ورسيد، چې دا ياد شوي زيارونو کالل مونږ ته د دې الهام را کوی چې د نفسونو په تربيه او پاللو کې که څه هم هر وخت د زمانو کې وی بايد چې په ستونزو او کړاوونو کې صبر ولرو، ترڅو اسلامی ټولنه په هغه څه سمبال شی چې زمونږ عقيده او دين يې غواړي، لکه څنګه چې د اسلام لومړنی خلکو د خپل ژوند کې په حقيقی توګه پلې او عملی کړې وه[1]، چې دا يا د شوی تربيوی ټکی دسورة الجمعة په پورته آيت کې په لاندې کرښنو کې په ګوته کولای شو:

**لومړی:** مربی او مرشد استاد ته اړينه ده چې خپل متعلمين او زده کړيالانوته په محاورې او شته شيانو کې عقلی دلايلو سره تمرين ورکړی، استناد کول دې په ګمانونو او تخمينی شيانو باندې پرېږدي، لکه څنګه چې الله متعال فرمايلی دی: ﴿ **قُلْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ هَادُوا إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاء لِلَّهِ مِن دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ** ﴾[2]

ژباړه: ووايه: ای هغو کسانو! چې يهودان شوي ياست که تاسو ګومان کوئ، چې بېشکه تاسو، دوستان ياست الله لره، پرته له نورو خلکو، نو د مرګ آرزو وکړئ، که تاسو رښتيني ياست.

په دې توګه مربی کولای شی چې له روغ او ښکلی منهج څخه په کار اخيستلو سره خپل زده کړيالان د حقيقتونو په ښکاره کولو کې مرسته او بريالی کړی، عقلونه ويښ او خبرې ورته په پلټنه کې واچوی او له دې څخه يې و ډار کړي چې په يواځې خبرو او ګمانونو مه تېر او ځه او خپله حقايق ځانته برملا کړه، نو ياد شوی آيت په يواځې ګمانونو او اميدونو باندې هيله لرو څخه په صراحت سره منع کړې يو[3].

**دويم:** د حقيقتونو اثبات او ښکاره کول: د اړينو او مهمو ښستيونو څخه چې د تعليم پروخت بايد وويل شی د حقيقتونو ښکاره کول او وربادې تاکيد کول دی، ځکه چې پريوشی باندې پوهېدل بايد پر يو ثابت بنسټ ولاړ وی، لکه څنګه چې په ساينسی علوموکې د هرې معادلې لپاره يو فورمول او اساس

---

[1] - **فی ظلال القرآن العظيم**، ج۶، ص۳۵۶۳.

[2] - **سورة الجمعة**/۶.

[3] - البکری؛ صلاح عبدالقادر، **القرآن وبناء الانسان**، ج۲، ص۱۳۲، الطبعة الثانية(۱۴۰۲هـ)، الناشر: دارالتهامة للنشر والتوزيع- جدة.

اېښودل شوی دی، همدارنګه د تعلیمي او پوهنیز برخې کې هم باید چې پوهه پر یو اصل او دلیل ولاړه وی، نو که محصل او متعلم ته یو ثابت او حقیقی مثال ورکړل شی نو دا به ورته ډېر د پام وړ او د قناعت سبب وګرځي، دا هغه بېلګه او لاربنوونه ده چې د دې سورة په دې آیت کې ورته اشاره شوې لکه څنګه چې الله متعال فرمایلی: ﴿ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ﴾[1]

ژباړه: وفرمایه: بېشکه هغه مرګ چې تاسو تښتی له هغې څخه، نو بیشکه هغه تاسو سره ملاقات کوونکی دی.

دمرګ حقیقت باید چې د الله تعالی د امانت اوچتونکو په زړونو کې ځائ پرځائ شی ترڅو چې د الله متعال د امانت تکالیفو او ستونزو کاللو ته آماده او غاړه ټېته کېږدی، ځکه چې مرګ د هر ژوندي لپاره یو حتمی چاره ده او هیڅ ډول تیښته ترې په کار نه ده او نه کېدای شی.[2]

نو د چا لپاره چې مرګ د هغه په کمین کې وی، خاوره د هغه بستر، چینجي د هغه ملګری، منکر او نکیر ورسره مجلس کوونکی، قبر یې کوټه او د ځمکې کېده یې ځای، قیامت یې وعده کړل شوې ورځ جنت یا دوزخ یې د ورتګ ځای وی نو باید چې پرته له مرګ څخه بل فکر ونه لری، دبل شی یاد او ذکر ونه کړی او بلې کومې بلنې ته آمادګی او تیاری ونه کړي، د مرګ څخه غفلت انسان د ایمان د کمزورتیا په توان سره دنیوی شهوتونو او غوښتو کې بوخت کوی، نو انسان چې د مړینې ذکر او یادونه وکړی انسان ته دا پیاوړ تیا ورکوی چې د الله تعالی حقوق ډېر پرځای کړي، په کړنو کې یې اخلاص په ډېره روښانه توګه په سترګو کېږي، څوک دې داسې ګمان ونه کړی چې مسلمان دنیا ته پاملرنه کوی، خو هغه څوک چې دنیا باندې امید نه لری خو آبادوی یې دا کار عبادت ته ډېر نږدې ګڼل کېږی،نو که داسې نه وی د هغه چا په اړه چې د نیا د الله تعالی د حقوقو پرځای کولو لپاره آبادوي او هغه څوک چې دنیا د خپلو د غوښتنو لاسته راوړلو لپاره آبادوی کوم توپیر نه شو کولای، نو له همدې کبله هغه الله ته نږدې دی چې دنیا د الله د قانون پلې کولو لپاره آماده کړي.[3]

**شپږمه موضوع - د آیتونو اړوند احکام او فواید**

**لومړی:** علم څخه د ګټې نه پورته کولو تحذیر- الله متعال فرمایلی: ﴿ مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴾[4]

---

[1] - **سورة الجمعة**/٨.
[2] - **فی ظلال القرآن العظیم**، ج٦، ص٣٥٦٣.
[3] - سعید ؛ حوی ، **المستخلص فی تزکیة الأنفس**، ج١٠، ص٤٣٢، الطبعة الثالثة عشر(١٤٢٨هـ)، الناشر: دارالسلام- القاهرة.
[4] - **سورة الجمعة**/٥.

ژباړه: مثال دهغو کسانو(یهودي علماؤو) چې په تورات مکلف وو، بیایې په هغې عمل ونه کړ، دوی د هغه خر غوندې دي چې کتابونه پرې باروي، ډېربد دی، د هغه قوم مثال، هغه کسان چې دروغ یې وګڼل، د الله آیتونه او الله تعالی سمه لاره نه ښایي، ظالم قوم ته.

الله متعال د یهودو مذمت او بدی بیانه کړه چې هغوی ته تورات د عمل کولو لپاره ورکړل شوی وه، خو هغوی پرې عمل ونه کړ،نو په دې صورت کې د هغوی مثال یې بیان کړ چې لکه د هغه خرونو په شان دي چې پرې کتابونه او د مخکینی قومونو قیصې بار وی، په دې توګه چې پرې ډېر با ارزښته شیان بار دي خو نه پوهېږي چې څه دي او څومره ارزښت لري، نو دا خره کتابونه یوائې په حسی بڼه انتقالوی خو په معنې او مفهوم باندې یې نه پوهېږي، همدارنګه دا یهودیان چې تورات ورته ورکړل شوی وه په لفظي بڼې یې وساته خو په مقتضایې چا عمل ونه کړ، او وروسته له اخیستلو یې د خپل په خوښې بدل، تحریف او تأویل او بدل کړ چې دا چاره د خرونو له عمل څخه هم دروند او بد عمل دی، ځکه خرونه په هغه څه چې پرې بار دي نه پوهېږي خو یهودیانو په هغه کتاب پوهېده خو عمل یې نه کاوه[1].

یاد شوی آیت صراحتاً په عام معنې او مفهوم باندې یې دلالت کوی چې علم باید له عمل سره موافق او سم وی ځکه هغه علم چې عمل سره موافق نه وی په هغه کښې ګټه نشته، همدارنګه هغه عمل چې د علم په رڼا کې نه وی هغه هم په لارې برابر نه وی. نو له همدې کبله پر مدرسینو او استادانو اړینه ده چې خپلو متعلمینو او شاګردانو ته دا وښایي هغه څه یې چې زده کړي هغه باید چې د خپل په ژوند کې تطبیق او عملي کړي.

د دې مقطع مهم ټکې په اوسني عصر کې چې ورته اړتیا ډېره ښکاري همدا ده چې نن که څومره اسلامی علومو پرمختګ کړی خو خلک شاته پاتې دي ځکه پر هغه څه یې چې زده کړي دی عمل نه کوی نو اړینه ده چې پرعملی جنبې باندې ډېر تاکید وشی، نو قرآن عظیم الشأن چې د الله تبارک او تعالی کلام دی او پر پیغمبر-صلی الله علیه وسلم- باندې نازل شوی ئ دې خبرې ته یې ډېره پاملرنه کړې ځکه الله علیم او قدیر ذات دی او د خلکو نواقصاتو باندې ښه پوهېږي او د دوی د نواقصاتو د اصلاح لپاره یې ښستیز کارونه کړي، چې که په څمکه کې پلې شو نو د خلکو خراب افکار او نظریات به سم شي او خلک به په سمې لارې برابر شی، نو په دې توګه د عصری علومو او د الله را لېږل شوی کلام ترمنځ به تو پیر او د الله کلام ارزښت خلکوته ښکاره شی ځکه د خلکو په جوړ کړي

[1] - **القرآن الکریم وترجمة معانیه الی اللغة البشتو**، ج۲، ص۱۷۲۱.

علومو او نصابونو کې تربیوی او عملی جنبه هغومره نشته خو الله تبارک او تعالی له لومړیو ورځو څخه دې برخې ته پاملرنه کړې ده چې څوک یې دخپل په خوښې تغیر، تبدیل او له منځه وړلی هم نشي[1].

**دويم:** د دروغو ويلو څخه تحذير- الله تبارک او تعالی فرمايلی: ﴿ **ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ** ﴾[2]

ژباړه: بیابه تاسو ور ستانه شئ، (هغه ذات) ته چې په پټو رازونو خبر دی او په ښکاره (هم خبردی)، نو هغه به تاسو خبرکړي، په هغه څه چې تاسو به کول.

نو الله متعال لکه څنګه چې عالم ذات دی د دوي په زړونو باندې علم لری او پوهیږی چې دوی درواغ وايي نو ځکه يې ورته وويل چې که واقعا تاسو په دې خبرې چې د الله دوستان ياست رښتيني يی نو د مرګ غوښتنه وکړی، ځکه دا يوه وره ويرونه ده چې که واقعاً دوی رښتيني وای نو د الله دا خبره به يې منلې وی او د مرګ غوښتنه به يې کړې وی ترڅو د دوی رښتينولی او صداقت چې الله ورته ټاکلی دی ښکاره کېده، نو که يې غوښتنه و نه کړه نو درواغ وايي، نو کله چې له دوی څخه کومه غوښتنه چې شوې وه ښکاره نه شوه نو دا د دوی د دعوی فساد او بطلان ښکاره دليل دی، الله تبارک او تعالی د دوی د خبرو د اثبات لپاره چې د الله د زمنو او د الله محبوبانو ادعايې کوله په ډېر صراحت سره اعلانه کړه چې که رښتيني وايي نو دا غوښتنه دې وکړي چې دا غوښتنه يې ونه کړه، نو دا د دې ادعا چې آخرت به يواځې د دوی وی او دهغوی د کذب اظهار او اعلان دی[3].

زما په نظر اسلام د انسانی ښېست په ابښودلو کې له ډېر متکامل او متوازن اسلوب څخه کار اخيستی دی، ځکه هغه مرحلې چې د هغه لپاره امی نبی-صلی الله عليه وسلم- ولېږل شو په ډېره ښکاره توګه بيان او څرګندې شوې په دې توګه چې په لومړی کې يې د انسانانو په زړونو کې توحيد او پر الله باندې يې ايمان و خښ او زرغون کړ، د الله پرته ټول شيان يې مخلوق او دهغوی مکانت يې روښانه کړ، له هغه څخه يې وروسته د نفس په تزکيه او د ښو اخلاقو په لاسته راوړلو کې يې لارښوني وکړې، اسلامی ټولنه يې د اخلاقو او وجدان پر ښېست باندې ولاړه کړه، نو دا ياد شوی زده کړې او

---

[1] - **القيم المتضمنة فی سورة الجمعة وانعکاساتها التربوية**، ص١٠١.

[2]- سورة الجمعة/٨.

[3] - السعدي؛ عبدالرحمن بن ناصر بن عبدالله، **تيسير الكريم الرحمن فی تفسير كلام المنان**، ج، ص، تحقيق: عبدالرحمن بن معلا اللويحق، الطبعة الاولی(١٤٠٢هـ)، الناشر: مؤسسة الرسالة- بيروت. القرآن الکريم وترجمة معانيه الی اللغة البشتو،ج٢، ص١٧٢٢.

صفتونه له انسان څخه د بدو او رذیله صفتونو څخه پاکوالی او په ښو اخلاقو او کړنو ښایسته کول او د ایمان ډېروالی غوښتنه کوی، له هغه څخه وروسته د علم زده کول او پرهغه عمل کولو لارښونه وشوه چې دا کړنه د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- په ژوند کې په ډېره ښکاره او ښه توګه د عمل جامې یې واغوستې او عملی بڼه یې خپل کړه، چې دا ټول د اسلام دین د تکامل توازن او شمولیت ښکارندوی دي.

په عین حال کې یې له هغو دوو سلبي اغېزو چې د اسلامی شخصیت جوړولو او انسان پالنې باندې منفی اغېزې لری هغه یې هم بیان کړې چې په هغوی کې له علم څخه ګټه نه اخیستل او درواغ ویل دی ځکه چې په یو سړي کې دوه داسې سلبی کړنې ځای نه نیسی چې هم درواغ ووایي او هم علم ولری، ځکه علم د جهل نقض دی همدارنګه کذب هم د علم ضد او دی، ځکه څوک چې په کذب متصف وی په هغه خبرې عالم نه وی نو باید چې درواغ ووایي، نو په دې سورة کې د هغوی د کذب او درواغ توصیف شوی چې دا سلوک او کړنه د آسمانی کتابونو باندې له عمل کولو مانع ګرځي[1].

**دریم:** د رسول الله –صلی الله علیه وسلم- صداقت او رښتینولی معلومیدل ځکه کوم لوست او زده کړه یې کړې نه وه چې له خپل ځان څخه کوم شی راوړي.

**څلورم:** د یهودو درواغ ثابتېدل ځکه که واقعاً هغوی ځانونه د نبوت مستحقین بولی نو باید چې پر تورات یې عمل کړي وی، چې پرتورات باندې عمل کولو یوه لاسته راوړنه به داوی چې د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- راتګ بشارت او زیری پکښې ورکړل شوي وه نو باید چې پرته له کوم دلیل یې ومنی او ترې انکار ونه کړي، خو هغوی له حسد او بغض څخه یې نه مني[2].

**پنځم:** یهودانو ویل چې مونږ خو تورات لوستلی خو پر هغه باندې نه پوهېږو نو له همدې کبله د هغوی مثال الله تبارک وتعالی په شان د خرونو ورکړ، ځکه حیوانات هم که پرې کتابونه هم بار وی نه پوهېږي چې پکښې څه دي او کوم معنی او مفهوم لری نو له دې څخه داسې ښکاري که څوک ځان په ناپوهی ووهي کولای شی چې په ظاهری بڼه ورته مثال ورکړل شی چې کوم شی سره مشابهت لری، او مثالونو کې واقعیتونو ته کتل اړین دي نه دا چې پټ و مجهوله مثالونه ورکړل شی[3].

---

[1] ـ لیکونکی

[2] ـ **المختصر فی التفسیر القرآن الکریم**، ص٥٥٣.

[3] ـ أبو الحسن مقاتل بن سليمان بن بشير الأزدي بالولاء البلخي ، **تفسير مقاتل بن سليمان**,ج٣،ص٣٦٠، الطبعة : الأولى(1424 هـ - 2003 م)، تحقيق : أحمد فريد,الناشر : دار الكتب العلمية - لبنان/ بيروت

**شپږم:** د دې آیتونو په اړه که څه هم د آیتونو ظاهر سره موافقه نه ښکارې خو داسې هم ویل شوی چې کله یهودانو موسی-علیه السلام- څخه وغوښتل چې الله ورته په ښکاره توګه وښايي خو په مقابل کې يې د غیرالله(غويي) عبادت کاوه نو الله تبارک او تعالی هغوی بیزوګان او خرونو وګرځول نو له همدې کبله الله تبارک او تعالی هم دهغوی مثال همداسې ورکړ[1].

## څلورم مقطع
## د جمعی لمونځ آداب او احکام ( ۹-۱۱آیات)

الله متعال فرمايلی: ﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِي لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ (9) فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (10) وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ** ﴾[2]

**لومړی موضوع - د آیتونو ترجمه**

[1] - **جامع البيان في تفسير القرآن للطبري**،ج۲،ص۶۵.

[2]- سورة الجمعة/۹-۱۱

ای هغو کسانو! چې ایمان مو راوړی، کله چې اوازوشي، لمونځ ته، دجمعې د ورځې، نو منډې کړئ (روان شئ) د الله ذکر (لمونځ) ته او پرېږدئ اخیستل او خرڅول، دا کار تاسو ته غوره دی، که چېرته تاسو پوهېږئ، نو کله چې لمونځ ادا شي، نو خواره شئ په ځمکه کې او ولټوئ د الله تعالی فضل او الله ډېر ډېر یادوئ ښايي چې تاسو بریاته ورسئ، او کله چې دوی وګوري سودا ګري یا کومه لوبه ننداره کړي، نو خوریږی هغې ته او تا پرېږدي ولاړ، ووایه: هغه څه چې الله سره دی ډېر غوره دي د لوبې نندارې نه او سودا ګری څخه او الله تعالی غوره رزق ورکوونکی دی.

**دوېمه موضوع - د آیتونو مناسبت د سورة ماقبل او ما بعد آیتونه او د سورة محور سره**

**لومړی فرعه : د دې مقطع مناسبت مخکینی آیتونوسره**

په تېرو آیتونو کې یهودیان په درې لاندې طریقو سره وګواښل شول:

- یهودیانو په دې فخر کاوه چې الله تبارک او تعالی هغوی ته یوم السبت( دشنبه ورځ) د ټولو ورځو څخه غوره ګرځولې چې نورو امتیانو ته دا ورځ نشته ، نو الله تبارک او تعالی د رسول الله-صلی الله علیه وسلم- امت لپاره د جمعې ورځ غوره کړه[1].
- کله چې هغوی په خپل علم او فضل فخر وکړ او عربانو ته یې جاهلان وویل، نو الله تعالی د دې برعکس دا ثابته کړه چې دوی خپله جاهلان بلکې خره دي.
- دوی داسې فخر وکړ چې مونږ د ابراهیم-علیه السلام- اولاد یو، له همدې امله مونږ الله تعالی ته ګران او نږدې یوو او د آخرت ټول نعمتونه یواځې مونږ لپاره دي، نو د دوی د دې باطلې او بې کاره عقیدې رد یې داسې وکړ چې که تاسو د الله تعالی دوستان یاست او د آخرت نعمتونه یواځې تاسو لپاره دي، نو تاسو د مرګ تمنا وکړئ، ځکه مرګ تاسې د آخرت له نعمتونو څخه منع کړي یئ او که مړه شی هغه ټول نعمتونه به تاسو ته ورسیږی، خو هغوی داسې ونه کړل.
- درییم دا چې هغوی په دې خبره فخر کوي چې زمونږ په دین کې په مونږ د شنبې ورځې تعظیم او حرمت واجب دی، دې ورځ کې ډېر برکتونه دي، خو مسلمانانو سره دا ورځ نشته دي، نو د دوی د همدې تفاخر د ماتولو لپاره الله تعالی دا آیتونه نازل کړل، چې دې کې مسلمانانو ته دجمعې د ورځې د فضائلو او برکاتو ذکر دی[2].

---

[1] - **التناسق الموضوعي فى سورة الجمعة والمنافقون والتغابن**، ص١٣٢.
[2] - **تفسير معارف القرآن** –ادريسى- ، ج٨، ص٢١١.

**دويمه فرعه :د دې مقطع مناسبت د سورة محور سره**

لکه څنګه چې مخکې وويل شول د دې سورة اصلی محور د الله تبارک وتعالی تسبيح ويل، د رسول الله-صلی الله عليه وسلم- او د امی امت فضيلت بيانول او د الله تبارک او تعالی منت پر دې امت باندې دي او همدارنګه لکه څنګه چې د دې سورة نوم سورة الجمعه ايښودل شوي نو د دې مقطع مناسبت د سورة محور سره دادی چې په دې مقطع کې د سورة نوم ذکر شوی، همدارنګه لکه څرنګه چې په دې مقطع کې د جمعې ورځې لمونځ فرضيت شته او همدې لپاره ټول سورة په سورة الجمعه و نومول شو نو د دې سورة مناسبت د سورة محور سره دا دی چې د سورة نومول کېدل په همدې مقطع کې ذکر شوی[1]، لکه څنګه چې د جمعې ورځې نومول کېدلو په اړه له رسول الله-صلی الله عليه وسلم- څخه پوښتنه وشوه هغه په ځواب کې وويل: **عن أبي هريرة قال : قلت يا نبي الله لأي شيء سمي يوم الجمعة قال :« لأن فيها جمعت طينة أبيكم آدم وفيها الصعقة والبعثة وفي آخر ثلاث ساعات منها ساعة من دعا فيها بدعوة استجاب له»**[2]

ژباړه: له ابو هريرة-رضی الله عنه- څخه روايت دي چې وايي: له رسول الله-صلی الله عليه وسلم-څخه مې وپوښتل چې ولی دا ورځ په جمعه ونومول شوه؟ ويې ويل: ځکه په دې ورځ کې ستاسو دپلار آدم-عليه السلام- خاوره راټوله شوې، په همدې ورځ کې به صاعقه(قيامت) راشی او په همدې ورځ کې به بيرته ژوندی کړل شی، د همدې ورځ په درې آخری ساعتونو کې داسې يو ساعت دی چې که څوک پکښې هره دعا وکړي منل کېږي.

نو په دې مقطع کې د الله تبارک او تعالی د حکم منلو ته امر شوی او د سورة محور سره يې مناسبت دا دی چې د سورة نوم له همدې مقطع څخه اخيستل شوی او په ټول سورة باندې ايښودل شوی نو د سورة اصلی مقصد له همدې مقطع څخه ښکاره کېږي[3].

**درېيمه فرعه: د دې مقطع مناسبت او ربط وروستنی آيتونه(سورة) سره**

- د سورة الجمعة په آخر کې غبږ پر مؤمنانو باندې شوی دی نو مناسبه دا وه چې له دې څخه وروسته په هغو خلکو آواز وشی چې مسلمانان نه او د مسلمانانو ضد دې تر څو چې د احکامو بيانولو ترمنځ عدالت وشی، نو له همدې کبله الله تعالی په وروستنۍ سورة کې پرمنافقينو غبږ وکړ، لکه څنګه چې رسول الله-صلی الله عليه وسلم- په دې ډېر حرص درلوده چې د جمعې ورځ

---

[1] - **الدر المنثور في التفسير بالماثور**،ج١٤،ص٤٥٨.

[2] - **مسند الإمام أحمد بن حنبل**،ج٢.ص٣١١، نمبر(٨٠٨٨)، وقال فی تعليقه شعيب الارنووط: اسناده شغيف.

[3] - **جامع البيان في تفسير القرآن للطبري**،ج22،ص627.

دسحار لمانځه کې لومړۍ سورة الجمعة او وروسته سورة النافقون تلاوت کړی، چې حدیث یې مخکې تېر شو.

- په سورة الجمعة او خاصتاً په دې مقطع کې مؤمنانو لپاره بشارت او لوړ والی ذکر شوی او ویل شوی چې الله تبارک او تعالی ډېر ښه روزی ورکونکی دی نو له هغه څخه وروسته د منافقانو ذکر او رټل یاد شوي، لکه څنګه چې په دې روایت کې راغلی: **عَنْ أُنَاسٍ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ ، أُرَى فِيهِمْ أَبَا جَعْفَرٍ ، قَالَ : «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقْرَأُ فِي الْجُمُعَةِ بِسُورَةِ الْجُمُعَةِ وَالْمُنَافِقِينَ ، فَأَمَّا سُورَةُ الْجُمُعَةِ فَيُبَشِّرُ بِهَا الْمُؤْمِنِينَ وَيُحَرِّضُهُمْ ، وَأَمَّا سُورَةُ الْمُنَافِقِينَ فَيُؤَيِّسُ بِهَا الْمُنَافِقِينَ وَيُوَبِّخُهُمْ بِهَا»**[1]

ژباړه: له ابی جعفر-رضی الله عنه-څخه روایت دی چې فرمايي: رسول الله- صلی الله علیه وسلم- د جمعې په لمانځه کې به سورة الجمعة او سورة المنافقون تلاوت کاوه، نو د جمعې په سورة کې مؤمنانو لپاره زېرۍ ،تشویق کول او پارول دي او سورة المنافقون کې د منافقانو مایوسه او نا امیده کېدل او د هغوی رټل دي.

- همدارنګه د سورة الجمعة آخرۍ آیت مناسبت له وروستنۍ سورة سره داهم دی[2] چې د سورة الجمعة په آخره کې دا آیت ذکر شوی چې الله تبارک او تعالی فرمایي: ﴿ **وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ** ﴾[3]

ژباړه: او کله چې دوی وګوري سودا ګري یا کومه لوبه ننداره کړي، نو خوربږۍ هغې ته او تا پرېږدي ولاړ، ووايه: هغه څه چې الله سره دی ډېر غوره دي د لوبې نندارې نه او سودا ګرۍ څخه او الله تعالی غوره رزق ورکونکی دی.

نو د آیت څخه داسې ښکاري چې بېړه کونکی د تجارت قافلې خواته منافقان وه او له هغوی څخه وروسته چې کوم خلک لاړل هغوی مسلمانان وه چې د خپلو اړتیاوو پوره کولو لپاره تلل،

---

[1] - عبدالله بن محمد؛ ابن أبی شیبه(ت: 235هـ)، **مصنف ابن أبی شیبه**، ج۷، ص۳۱۹، رقم(۳۶۴۷۲) الناشر: دارالفکر- بیروت. جلال الدین السیوطي ، **جامع الأحادیث** ، ویشتمل علی جمع الجوامع للإمام السیوطی، **مراسیل ابی جعفر بن محمد بن علی** ، ج40، ص387. همچنان این حدیث را در **کنزالعمال** نمبر(23342) ذکر نموده اند اما راجع به سند آن حرفی زده نشده است.

[2] - **أضواء البیان**، ج۸، ص۱۹۳.

[3] - **سورة الجمعة**/۱۱

نو مناسبه دا وه چې د دې آیت څخه وروسته د منافقانو یادونه په وروستنۍ سورة کې وشي، ترڅو د مسلمانانو سپیناوی او منافقان خپلو کړنو ته متوجه کړل شی[1].

**دریمه موضوع - د آیتونو اجمالی تفسیر**

ای مؤمنانو! کله چې د جمعې په ورځ لمونځ لپاره آذان او اعلان وشي، نو تاسو کاروبار پرېږدئ، اخیستل او خرڅول بند کړئ او د الله تعالی د ذکر او لمونځ لپاره جوماتونو ته روان شئ، که تاسو پوهېږئ، نو تاسو ته همدغه کار غوره دی، ځکه چې د دنیا ګټې د آخرت دګټو او نعمتونو په وړاندې هیڅ معنا او هیڅ حقیقت نه لري، نو اړتیا ده چې په دې ځانونه پوه کړئ.

په آیت کې د (فاسعوا) څخه مراد دا نه دی چې ور منډې کړئ، بلکې مراد دا دی چې تاسو د جوماتونو طرف ته روان شئ. له دې وروسته یوه بله عملی اړتیا هم شته او هغه دا چې تاسو په عملی توګه ادنا پرېږدئ او د ادنا په مقابله کې اعلی واخلئ، ادنا دنیا او اعلی آخرت دی.

بیا هر کله چې لمونځ پوره شي او ادا شي، نو له لمانځه وروسته په ځمکه کې خواره شئ، کاروبار او تجارت وکړئ او دهمدې کاروبار له امله د الله تعالی فضل یعنې حلال رزق ولټوئ، همدې وخت کې الله تعالی ډېر ډېر یادوئ، امید دی چې تاسو به هم په دنیا او هم په آخرت کې بریاته ورسېږئ.

خو د دې برعکس که چېرته تاسو دنیا سره مینه پیدا کړئ، د دنیا د مال اوشتمنیو، کار وبار او سوداګریو د ګټو او فوائدو په طمع او امید د جمعې لمونځ، خطبه او ذکر اذکار او دعا ګانې پرېږدئ، نو پوه شئ دا د دنیا او آخرت تا وان دی.

د جمعې د ورځ خطبه او لمونځ پرېښودل لوی تاوان دی، له همدې امله فرمایي: او کله چې دوی یوه سوداګري او یا کومه لوبه ننداره وکتله، نو ته یې دخطبې په حالت کې ولاړ پرېښودې او دوی ووتل[2].

**څلورمه موضوع- د الفاظو څېړنه**

**(يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا)** عبدالله ابن مسعود-رضی الله عنه- وایي: "که کولای شې نو ته خبرې کونکی او محدث اوسه، خو کله دې واورېدل چې الله تعالی غږ کوی او وایي چې ای هغو کسانو چې

---

1 - **سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية،** ص١٢

2 - **تفسير معارف القرآن- ادریسی-** ، ج٨، ص٢١١.

تاسو ایمان راوړی، نو خپل غوږونه ورته واړوه او اوربدلو ته یې چمتو شه، ځکه یا کومه د خیر خبره ده چې پرې امر کوی او یا کوم شر دی چې مونږ ترې منع کوی"[1].

**(اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلَاةِ مِنْ یَّوم الْجُمُعَةِ)** کله چې موذن د جمعې د لمانځه آذان لپاره ودرېږي او آذان وکړی، همدارنګه ویل شوی چې مراد ترې د جمعې ورځ د ماسپښین د وخت داخلېدو آذان دی[2]، ځینو نورو ویلی چې مراد ترې د جمعې ورځ هغه آذان دی چې د جمعې د لمانځه ادا کولو لپاره په هغه وخت کې ویل کېږي چې امام او خطیب پر منبر باندې د خطبې ویلو لپاره پورته کېږي، ځکه د رسول الله- صلی الله علیه وسلم- په زمانه کې پرته له همدې یو آذان څخه بل کوم آذان نه ویل کېده[3].

د جمعې ورځې د تسمیې سبب او وجه لکه څنګه چې مخکې یاده شوه همدا په دې آیت کې د جمعې کلمې راتګ دي، همدارنګه روایت دی چې: **عَنْ سلمان –رضی الله عنه- قَال: قال رسول الله –صلی الله علیه وسلم- «أَتَدْرِی مَا یومُ الجُمُعَةِ؟» قُلْتُ: الله وَرُسُوْلُهُ أَعْلَمُ! قَالَ: «لَکِنِّیْ أَنَا أُحَدِثُکَ عَنْ یَوْمِ الجُمُعَةِ- لَا یَتَطَهَّر رَجُلٌ ثُمَّ یَمْشِیْ اِلَی الْجُمُعَةِ ثُمَّ یَنْصِت حَتَّی یَقْضِیَّ الاِمَامُ صَلَاتَهُ اِلَّا کَانَتْ کَفَّارَةً لِّمَا بَیْنَهُمَا وَبَیْنَ الْجُمُعَةِ الَّتِی قَبْلَهَا مَا اجْتُنِبَتِ المَقْتَلَة»**[4]

ژباړه: له سلمان فارسی-رضی الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم- وویل: ته پوهېږې چې د جمعې ورځ څه شي دي؟ ما وویل: الله او رسول یې ښه پوهېږي، ویې ویل: زه دې د جمعې ورځ(فضیلت) څخه خبروم؛ هیڅ داسې لمونځ کونکی نه دی چې دجمعې په ورځ ځان ومینځي بیا ولاړ شی د جمعې لمانځه ته خاموشه کښېني ترڅو چې امام دخپله خطبه او لمونځ خلاص کړي، مګر داچې دغه دجمعې لمونځ دې سړی لپاره ترمخکینی جمعې لمانځه پورې د دې دګناهونو کفاره ګرځي، ترڅو چې وژونکي کبیره ګناهونوڅخه یې ځان ساتلی وی.

**(فَاسْعَوْا اِلَی ذِکْرِاللهِ وَ ذَرُوا البیع)** د الله ذکر یعني د جمعې لمانځه ادا کولو لپاره جومات ته ولاړ شی او خرڅلاو او پلورل پرېږدی، عمر ابن الخطاب او عبدالله ابن مسعود-رضی الله عنهم- دا آیت **(فامضو الی ذکرالله)** تلاوت کاوه او ویل یې: "که مې فاسعو تلاوت کړ نو د جمعې لمانځه ته به هغومره هڅه او کوشش سره منډه وکړو ترڅو چې څادرونه مو و غورځېږي"[5].

---

[1] - **حلیة الاولیاء**، ج۱، ص۱۳۰.

[2] - **الدر المنثور**، ج۸، ص۱۵۹.

[3] - **فتح القدیر** ، ج۵، ص۲۲۷.

[4] - **السنن الکبری**، ج۱، ص۵۳۳، برقم(۱۷۲۵)، **والامام احمدفی مسنده** برقم(۲۳۷۸۰).

[5] - **تفسیر الطبری**، ج۲۸، ص۱۰۰.

**(وَذَرُوْا الْبَيْعَ)** يواځې د لمانځه ترسره کولو پروخت پلورل او خرڅول پرېږدی نه پر ټولو وختونو کې، تاسو د دنیا هیڅ یوه چاره او مشروع بوختیا د لمانځه څخه مشغوله او بوخت نکړي.

دا آیت دلمانځه په عظمت دلالت کوی او دا مونږ ته شيي چې لمونځ دخپل پروخت پرېتولو کارونو غوره او مخکې دی، تاخیر او وروسته کول یې او په هغه کې سستی کول بل کوم دنیوی کار سره هیڅ کله هم جواز نه لری، نو کله چې د جمعې ورځ آذان وشی سعی کول د جمعې لمانځه تر سره کولو او بیع پرېښودل واجبه ده.[1]

**(ذَالِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ )**په ذالک کې اشاره سعی الی ذکر الله ته او دا مبتدا ده خبر یې: **(خَيْرٌ لَّكُمْ)** دي ځکه پکې داجر او پاداش لاسته راوړل دي او که څوک لمونځ ترسره نکړی نو اجر نشته، یعنی ستاسو مخ اړول د جمعې لمانځه او د الله ذکر ته د پلورلو او خرڅولو څخه غوره دی، چا چې دنیا په آخرت باندې غوره وګڼله په دنیا کې ګټه لاسته نه راوړي خو آخرت هم له لاسه ورکوی او پکښې تاوان کوی، له همدې کبله الله متعال هم آیت په دې خبرې پای ته ورساوه چې فرمایي: **( اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ)** یعنې په دې خبرې پوه شئ او ځان ترې خبرکړی، دا واضحه او معلومه خبره ده چې د جمعې لمانځه په ترسره کولو کې اجر شته که تاسو ځان په ناپوهۍ کې وانه چې.[2]

**(فَإِذَا قُضِيَّتِ الصَّلَاةُ)** کله چې د لمانځه له اداکولو څخه خلاص شوی او لمونځ ادا کړای شو،

**(فَانْتَشِرُوْا فِيْ الْأَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللهِ)** په دې آیت کې د الله تبارک او تعالی له خوا خپلو مومنو بندګانو ته چې د ایمان صفت سره یې ورته خطاب کړي اجازه او اعلان دی چې تاسو د لمانځه څخه وروسته کولای شی چې په ځمکه کې خپاره شئ او د الله متعال څخه در رزق او ژوند چارو برابرولو لپاره هڅه کوشش او غوښتنه وکړی، خو دا غوښتنه به د فرض لمانځه اداکولو څخه وروسته وي، دلته په دې آیت کې دې ته اشاره ده چې کله انسان په هغه احکامو او اموراتو چې الله فرض کړي پابندي وکړي او ادا یې کړي نو الله تبارک او تعالی به دې لره د رزق لاسته راوړلو اسباب برابر او مهیا کوی او په هغه شیانو کې چې لاسته یې راوړی برکت اچوی، خو په (فانتشروا) کې امر د اباحت لپاره دی نه د وجوب او فرضیت لپاره.[3]

---

[1] - عبد الكريم بن هوازن القشيرى ، **لطائف الإشارات**،ج٣،ص٥٨٥، تحقيق : إبراهيم بسيونى
الناشر : الهيئة المصرية العامة للكتاب،مصر

[2] - صديق حسن خان القنوجي البخاري ،**نيل المرام من تفسير آيات الأحكام**،ج١،ص٤٤٧، تحقيق : محمد حسن إسماعيل - أحمد فريد المزيدي، الطبعة(2003/01/30)،دار النشر : دار الكتب العلمية .

[3] - **تفسير القرطبى**، ج١٨، ص١٠٨.

همدارنګه ویل شوی چې: **(وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللهِ)** د دنیا د غوښتنې لپاره ویل شوي نه دي، بلکه د ناروغ پوښتنې لپاره، جنازې ته د حاضریدو لپاره او د الله –جل جلاله- په لاره کې د دوستانو او ملګرو د پوښتنې لپاره ویل شوي[1]. همدارنګه په بل ځای کې ویل شوی چې: پورتنی آیت د علم د غوښتلو په اړه او دعلم ترلاسه کولو لپارې هڅو ته شامل دی[2].

**(وَاذْكُرُوا اللهَ كَثِيْراً لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ)** په دې معنې چې تاسې د بیع پلورلو او پیرودلو پروخت باندې د الله متعال د یاد او ذکر څخه مه غافله کیږئ، لکه څنګه چې په حدیث کې راغلی دي: **عن النبی –صلی الله علیه وسلم- قال: «مَنْ دَخَلَ سُوْقاً مِنَ الأَسْوَاق فَقَالَ- لَا اِلَهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ-كَتَبَ اللهُ لَهُ اَلْفَ اَلْفَ حَسَنَةً وَ مَحَا عَنْهُ اَلْفَ اَلْفُ سِيِئَةً وَبُنِيَ لَهُ بَيْتاً فِيْ الْجَنَّةِ»**[3]

ژباړه: له نبی کریم-صلی الله علیه وسلم- څخه روایت دی چې فرمایلی یې دي: څوک چې له بازارونو یو بازار ته داخله شو او ویې ویل- نشته په حق معبود پرته له الله څخه بل څوک یواځې دی او شریک نه لری، د الله لپاره ټوله پادشاهی او ټولې ستاینې دي او الله په ټولو شیانو قادر او برلاسئ دی- الله تعالی ورته زر زر نیکی لیکي او زر زر ګناهونه ترې معاف کوي او په جنت کې ورته یو کور جوړیږي.

نو تاسو الله یاد کړی کله ولاړ یاست یا ناست یې په قیام او قعود دواړو کې او همدارنګه په ټولو وختونو او کارونو تر سره کولو پروخت، نو د الله متعال په یادولو او ذکر کې د نجات او کامیابی سر او راز پروت دی، ځکه آیت یې په**(لعلکم تفلحون)** کلمې باندې ختم کړ،په دې معنې چې تاسو د الله یاد وکړي ترڅو چې کامیابه شی.

**پنځمه موضوع- د مقطع مهم نکات**

**لومړی فرعه - د جمعې ورځې وجه تسمیه**

په دې پورته یاد شوي آیتونو کې د جمعې ورځې وجه تسمیه په اړه خبره شوې په دې توګه چې د اونی یوه ورځ ته یې د جمعې نوم کیښود.

---

[1] - **تفسیر الطبری**، ج۲۸، ص۱۰۳.

[2] - **تفسیر البغوي**، ج۴، ص۳۴۵.

[3] - البزار؛ احمد بن عمرو بن عبدالخالق عتکی بزار(ت: ۲۹۲ه ق) بحر الزخار ، معروف ب**مسند البزار**، ج۱، ص۲۳۸، برقم(۱۲۵) ، تحقیق: محفوظ الرحمن زین الله، الناشر: دارالکتب العلمیة ، بیروت- لبنان.
- سلیمان بن أحمد الطبرانی أبو القاسم(ت:۳۶۰هـ) ، **الدعاء للطبرانی** ، ج۱، ص۲۵۲، التحقیق: مصطفی عبدالقادر عطا، الطبعة الاولی(۱۴۱۳هـ)، الناشر: دارالکتب العلمیة- بیروت.

ابن کثیر –رحمه الله- وايي چې: "دې ورځ ته ځکه د جمعې ورځ ويل شوي چې د جمع څخه مشتق او اخيستل شوی، ځکه مسلمانان په اونۍ کې يوه ورځ په همدې ورځ کې په غټو او لويو معابدو کې راټوليږي، په دې ورځ کې ټول مخلوقات کامله شوي، دا هغه شپږمه ورځ ده چې الله متعال په دې ورځ کې د ټولو خلائقو آسمانونو او ځمکو پيداکول تکميل کړي".

همدارنګه په دې سورة کې دجمعې ورځې فضيلت هم بيان شوی، په دې توګه چې لومړی د جمعې لمانځه ته د ورتګ امر شوی او وروسته ويل شوي چې دا چاره تاسو ته غوره دی لکه څنګه چې فرمايي: ﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِي لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ** ﴾[1]

ژباړه: ای هغو کسانو! چې ايمان مو راوړی، کله چې اوازوشي، لمونځ ته، دجمعې د ورځې، نو منډې کړئ (روان شئ) د الله ذکر (لمونځ) ته او پريږدئ اخيستل او خرڅول، دا کار تاسو ته غوره دی، که چېرته تاسو پوهېږئ.

همدارنګه په يوه روايت کې راغلي چې: **عَنْ أَبِي هُرَيرة –رضی الله عنه – قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ-صلی الله عليه وسلم-فرمايي: «خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ فِيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيْهِ أُدْخِلَ الْجَنَّةَ، وَفِيْهِ أُخْرِجَ مِنْهَا وَفِيْهِ تِيْبَ عَلَيْهِ وَفِيْهِ مَاتَ وَلَا تَقُوْمُ السَّاعَةَ اِلَّا فِيْ يَوْمِ الجُمُعَةِ وَمَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ دَابَةٍ اِلَّا وَهِيَّ تُصْبِحُ يَوْمَ الجُمُعَةِ مُصْيْخَةً حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ شَفَقاً مِنَ السَّاعَةِ اِلَّا الجِنَّ وَالْاِنْسَ»**[2]

ژباړه: له ابو هريرة-رضی الله عنه- څخه روايت دی چې رسول الله- صلی الله عليه وسلم- فرمايي: غوره ورځ چې په هغه کې لمر راخيږي د جمعې ورځ ده، په همدې ورځ کې آدم-عليه السلام- پيداشوی، په همدې ورځ کې جنت ته داخل شوی، په همدې ورځ کې له جنت څخه ويستل شوی، په همدې ورځ کې يې توبه قبوله شوې، په همدې ورځ کې وفات شوی، قيامت به نه قايم کيږي مګر د جمعې په ورځ، همدارنګه هيڅ داسې ژاروی د ځمکې په مخ نشته مګر داچې د جمعې ورځ ترڅو چې لمر را خيږي د قيامت د را منځ ته کيدو څخه له ډاره چيغې او آوازونه کوي مګر انسانان او پيريان چې د قيامت د راتګ څخه بې خبره دي.

**دوېمه فرعه- په تعليم او تربيه کې د لومړی توبونو په پام کې نيول( دترتيب الاولويات يعنی سړی په خپل ژوند کې اهم او مهم وپيژنی او مرتب يې کړي)**

---

[1]-**سورة الجمعة**/٩.

[2] - **صحيح مسلم**، کتاب الجمعة، باب فضل يوم الجمعة، رقم(٢٠١٣و٢٠١٤).

د سورة جمعې د دې آيتونو مهمو ټکو څخه په تعليم او تربيه کې لومړی توبونو ته پام اړونه ده، لکه څنګه چې په تربيه او پالنه کې بايد چې د اهدافو لاسته راوړنه په ډېره ښه توګه په پام کې ونيول شي، د وخت بڅت کولوته په دې توګه چې د تعليم ټولو برخو باندې ايجابي او مثبت اغېزه ولری او د پام وړ اړتياوې لاسته راشی او د تعليم ټولې خواوې ترې خوښې وی پام لرنه وشی، همدارنګه د لومړيتوبو ترتيبول په دې توګه کېږی چې لومړی بايد مهم ته پاملرنه او پرې ځان بوخت کړی او ور پسې کوم چې ارزښت يې له مخکښنی څخه کم وه ورته پاملرنه وشی، لکه څنګه چې دا ترتيب د الله تبارک او تعالی په دې سپېڅلي کلام کې په پام کې نيول شوی؛ الله متعال فرمايي: ﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِي لِلصَّلاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ** ﴾[1]

ژباړه: ای هغو کسانو! چې ايمان مو راوړی، کله چې اوازوشي، لمونځ ته، دجمعې د ورځې، نو منډې کړئ (روان شئ) د الله ذکر (لمونځ) ته او پرېږدئ اخيستل او خرڅول، دا کار تاسو ته غوره دی، که چېرته تاسو پوهېږئ.

نو مسلمان په دې توګه تربيه شوی چې په لومړی قدم کې د الله تبارک او تعالی د اطاعت ترسره کولو ته هڅه کوی چې په اوني کې لوی او عظيم عبادت او د الله تعالی اطاعت د جمعې لمونځ ادا کول، د الله يادولو ته هڅه کول او نور ټول دنيوی چارې د لمانځه اداکولو لپاره پرېښودل د ټولو مؤمنانو لپاره غوره او له دنيوی ګټو څخه ګټور دئ، نو که څوک پوه او له اهل علمو څخه وی په دې پوهېږی چې د الله تعالی اطاعت کول دجمعې لمونځ ته په تګ او ادا کولو سره او د جمعې ورځې وعظ او نصيحت اورېدل څومره ورته په دنيا او آخرت کې غوره او با ارزښته دی؟ په دې توګه چې په دنياکې يې امام په هغه شيانو خبروی چې په هغه کې خير او د هلاکت څخه نجات لاره او کړنه ده. او په آخرت کې يې ګټه داده چې د الله تعالی د اوامرو پر ځاي او اداکولو سره يې خپل رب راضی کړی او ځانونه يې کامياب کړي[2].

نو هغه څه چې الله سره د لمانځه ثواب په بدل کې شته هغه د دنيوی لهوې لذت او د تجارت له ګټې څخه غوره دی، همدارنګه هغه روزی چې الله تعالی انسان ته تقسيم او په برخه کړې له هغه ګټې

---

[1]-سورة الجمعة/۹.
[2] - **الرسول المعلم واساليبه فی التعليم**، ص۶۳.

شخه چې د تجارت او لهویاتو له لارې لاسته راځي له هغه شخه غوره او ګټوره ده، نو د انسان لپاره نه ښايي چې د الله عبادت د دنيوی ګټې لاسته راوړلو لپاره پرېږدی، په ځانګړي توګه هغه وخت کې چې هغه دنيوی ګټه لږه او بې ارزښته وی، ځکه که يې په قسمت کې وی د هغه په لاسته راوړلو کې که څومره اهمال وکړي بيا هم الله يې ورکوی، او که په برخه کې يې نه وی او د بل چا قسمت پکښې وی نو که څومره له خپل قوت او ډېرې شخه کار واخلی بياهم لاسته به يې را نه وړی، نو انسان ته اړينه ده چې د خپل رزق له الله تبارک او تعالی شخه وغواړي او د الله د اطاعت کولو توفيق غوښتنه وکړي ترڅو هغه ښېګڼې چې په دنيا او آخرت کې الله سره دی انسان ته يې ور په برخه کړي.[1]

**درېيمه فرعه- په تربيه کې د متعلم په شخصيت کې توازن راوستل:**

له هغو مبادی او ښستيونو شخه چې په اوسنی عصری ښوونه او روزنه کې ارزښت لری او ورته پاملرنه شوې او د اوسنی عصر د روزنې غوښتنو شخه ګڼل کېږی دا ده چې د متعلم او زده کړيال ټولو اړخونوته پاملرنه او د شخصيت غوښتنو ترمنځ يې توازن مراعات کړای شی، لکه د متعلم علمی سويه، وجدانی برخه او د هغه مهارتونه، دې برخو کې توازن راوستل په ټولنه کې د متعلم متکامله شخصيت په جوړلو کې ډېره مرسته کوی، نو په آيت کې همدې جزئی برخې ته پاملرنه شوې، لکه څنګه چې الله تبارک او تعالی فرمايلی: ﴿ **فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ** ﴾[2]

ژباړه: نو کله چې لمونځ ادا شي، نو خواره شئ په ځمکه کې او ولټوئ د الله تعالی فضل او الله ډېر ډېر يادوئ ښايي چې تاسو برياته ورسئ.

نو په دې توګه مسلمان ته ښوونه کېږی چې د ژوند دنيوی غوښتنې په ځمکه کې، او د روح ګوښه کېدل د يو څو لحظو لپاره له دې دنيوی کړنو او غوښتنو شخه د الله تعالی ياد او ذکر ته، په دې توګه چې د روح او مادې ترمنځ توازن او توافق منځ ته راشی، عبادت او معامله دواړه په يوې اندازې چې جسم او روح يې برداشت کړی ترسره شی.

---

[1] - **التفسير المنير فی العقيده والشريعة والمنهج**، ج، ص۳۲۴. نوفل؛ أحمد، **التفسير المنهجی**،ج،ص۶۷ ، الطبعة الاولی(۲۰۰۴م)، الناشر: دارالمنهل.

[2]-سورة الجمعة/۱۰.

نو دا هغه توازن دی چې اسلامی منهج ورته پاملرنه کړې چې دا د اسلام دین وسطیت او اعتدال ښکارندوی دی، ځکه هر د حق غوښتونکی ته خپله حق ورکوی[1]. نو قرآن عظیم الشأن انسان ته دا غږ کوی چې د دنیا او آخرت غوښتنو ترمنځ توازن او عدالت مراعت کړي، لکه څنګه چې الله متعال فرمايلی: ﴿وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الآخِرَةَ وَلا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِن كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ﴾[2]

ژباړه: او ولټوه په هغه څه کې چې تاته الله درکړي دي د آخرت کور او مه هېروه خپله برخه له دنيا څخه او احسان کوه لکه څنګه چې الله په تا احسان کړی او مه غواړه فساد په ځمکه کې بيشکه الله نه خوښوي فسادکونکی.

نو دغه توازن انسان ته پرخپل نفس اعتماد او انسان ته استقامت او ټينګښت ورکوی، انسان ته دا ور په يادوی چې له آخرت څخه مه غافله کېږه او آخرت مه هيروه خو د دنيا لاسته راوړلو پسې هم ورځه او دنيا هم مه هيروه، ځکه رهبانيت او دنيا څخه بيزاری په اسلام کې الله تعالی نه ده جايز کړې[3].

## شپږمه موضوع- د مقطع اړوند احکام

### لومړی فرعه : د جمعې ورځې احکام

#### أ- د (إِذَانُوْدِيَ لِلصَّلَاةِ) مقصد څه دی؟

د ( **اذا نودی للصلاة من يوم الجمعة فاسعوا الی ذکرالله**) تفسير په اړه امام زهری –رحمه الله-فرمايلي چې: سائب بن يزيد-رضی الله عنه- وفرمايل: د جمعې په ورځ به اول اذان هغه وخت کېده ، کله به چې رسول الله –صلی الله عليه وسلم- منبرته پورته کېده،يعني کله به چې امام خطبې لپاره منبرته پورته شو، د ابوبکر الصديق او عمر فاروق-رضی الله عنهم- په وخت کې هم په همدې عمل وه، خو کله چې دعثمان-رضی الله عنه- په وخت کې دفتوحاتو لمن پراخه شوه او کَنه کوڼه ډېره شوه، نو عثمان-رضی الله عنه- د زوراء په مقام کې يو بل آذان يعني دوهم اذان زيات کړ(دا هغه اذان دئ چې د خطبې آذان څخه مخکې کېږی) د ټولو فقهاؤو په دې اتفاق دی چې د بيعې د حرمت کوم حکم چې د جمعې د ورځې د اذان له امله نازل شوی دی (کوم چې د خطبې څخه مخکې کېږی) هغه به اوس په

[1] - الزحيلی، وهبة بن مصطفی، **التفسير الوسيط**، ج، ص، الطبعة الاولی(۱۴۲۲هـ)، الناشر: دارالفکر- بيروت. **فی ظلال القرآن**، ج، ص.

[2] -سورة القصص/۷۷.

[3] - **القيم المتضمنة فی سورة الجمعة وانعكاساتها التربوية**، ص۱۰۳.

همدې آذان وی، يعنې اول آذان. ځکه چې د ( اِذَا نُوْدِیَ) عموم او اطلاق دا غواړی چې د جمعې د ورځې په نفس نداء يعنې اذان باندې د بيعې د حرمت حکم مرتب شی[1].

صحابه کرامو-رضی الله عنهم- به اوله کې دومره په وخت راتلل، چې د خطبې اذان به د دوی په مخکې کېده، خو کله چې مسلمانان ډېر شول او کنه کوڼه ډېره شوه، تجارتونه زيات شول او د خلکو اړتياوې بازارونوته ډېرې شوې، نو دا وېره پيدا شوه چې کله د خطبې آذان وشي او له کورونو وځو يا دوکانونه بندوو او جوماتونو ته رسېږو، نو ښايي چې خطبه مو هم له لاسه ورکړې وي او خطبه وانه ورو، په داسې حال کې چې د خطبې اورېدل اړين دي، نو له همدې امله يو آذان زيات شو، ترڅو د خطبې شروع کېدو مخکې خلک جومات کې را ټول وي[2].

او په (**فَاسْعَوْا اِلی ذِکْرِ اللّٰهِ**) کې د (الی) لفظ چې د غايت په معنا دلالت کوی، دا په خپله دا خبره تعينوی چې هڅې او هلې ځلې بايد د الله تعالی ذکر پورې پوره شوې وي، دا هغه وخت امکان لري، ترڅو له خطبې څخه مخکې په يو بل اذان سره خلک جومات ته را وبلل شي، دا وايه: داسې چې عثمان-رضی الله عنه- دوهم اذان زيات کړی دی، ښايي چې دا مسأله يې د قرآنکريم د همدې آيت څخه ويستلې وي، بله دا چې عثمان –رضی الله عنه- دخلفاء راشدينو څخه دی او دهغوی څخه د هريو حکم اوسنت د شريعت قانون دی، له دې پرته نورو ټولو صحابه کرامو –رضی الله عنهم- په همدې عمل کړی دی، نو دصحابه کرامو –رضی الله عنهم- اجماع هم د شريعت قانون دی او داهم د جمعې دويم آذان لپاره يو دليل دی.

د ټولو فقهاؤو په دې اتفاق دی چې د بيعې د حرمت کوم حکم چې د جمعې د ورځې د آذان له امله نازل شوی دی (کوم چې د خطبې څخه مخکې کېږی) هغه به اوس په همدې آذان وی، کوم چې مخکې وي، يعنې اول آذان سره به کاروبار پرېښودل کېږي او د جمعې د ورځې تياری به کېږي، نو خلاصه دا شوه چې د ټولو فقهاؤو په دې اتفاق دی چې د اول آذان څخه وروسته به هرډول بيع او شراء حرامه وی[3].

### ب- د جمعې ورځې مستحبات

---

[1] - **القرآن الکريم وترجمة معانيه الی اللغة البشتو**، ج۲، ص۱۷۲۳.

[2] - **المختصر فی تفسير القرآن الکريم**، ص۵۵۴.

[3] - **تفسير معارف القرآن**،ج۸، ص۲۱۳.

1- د جمعې لمانځه لپاره آمادګی نیول او دجمعې په ورځ د **دعا** د قبولیت وخت لټول او په هغه ساعت او لحظه کې دعا کول[1].

2- د جمعې په ورځ د جمعې لمانځه لپاره **غسل** کول، لکه څنګه چې په حدیث کې راغلی دي: عن عبدالله ابن عمر-رضى الله عنه- قال: سمعت رسول الله-صلى الله عليه وسلم- يقول: **«إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْتِيَ الجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ»**[2]

ژباړه: له ابن عمر-رضى الله عنه-څخه روایت دی چې وایي، ماله رسول الله-صلى الله عليه وسلم څخه واورېده چې ویل یې: کوم یو ستاسوڅخه چې د جمعې لمونځ اداکولو اراده یې وکړه نو غسل دې وکړي.

3- **خوشبويي** وښل: د جمعې ورځې له مستحبو چاروڅخه یو یې پرخپل ځان خوشبويي لګول دي، لکه څنګه چې په حدیث کې راغلي، عن عبدالرحمن بن أبى سعيد الخدرى-رضى الله عنه- أن رسول الله- صلى الله عليه وسلم- قال: «**ان الغسل يوم الجمعة على كل محتلم والسواك وأن يمس من الطيب ما يقدر عليه**»[3].

ژباړه: له عبدالرحمن بن أبى سعيد الخدرى-رضى الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله-صلى الله عليه وسلم- فرمایلی: د جمعې ورځې غسل کول پر ټولو هغو کسانو چې احتلام کېږي(ځوان شوی وی) او مسواک استعمالول او همدارنګه د خپل دوسې په اندازه خوشبويي او عطر استعمالول مستحب دي.

4- دجمعې لمانځه ته **بیړه** کول: لکه څنګه چې لمانځه ته د خپل پروخت تلل له اجره ډکه ده خو لومړی صف او په لومړی وخت کې لمانځه ته تلل خپل اجر او ثواب لري، لکه څنګه چې په حدیث کې راغلی: **عن أبى هريرة-رضى الله عنه- قال : قال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- « اذا كان يوم الجمعة وقفت الملائكة على أبواب المسجد فيكتبون الأول فالأول فمثل المهجر الى الجمعة كمثل الذى يهدى بدنة ثم كالذى يهدى بقرة ثم كالذى يهدى كبشا ثم كالذى يهدى دجاجة ثم كالذى يهدى بيضة فاذا خرج الامام وقعد على المنبر طووا صحفهم وجلسوا يستمعون الذكر»**[4].

---

[1] - **الدر المنثور فى التفسير بالماثور**،ج۱۴،ص۴۵۸.

[2] - **صحيح مسلم**، ج۲، ص۵۷۹، رقم(۸۴۴).

[3] -**صحيح ابن خزيمة**، ج۳، ص۱۲۳، رقم(۱۷۴۳).

[4] - **مسند الامام أحمد بن حنبل**، ج۲، ص۵۰۵، رقم(۱۰۵۷۵)

ژباړه: له ابی هريرة- رضی الله عنه- څخه روايت دی چې وايي: رسول الله-صلی الله عليه وسلم- وويل: کله چې دجمعې ورځ وی؛ د مسجدونو په دروازو ملائکې اودريږی او څوک چې لومړی راځي دهغه نوم ليکی او ور پسې د بل نوم ليکی( همداسې ترآخری شخص پورې)، نو د هغه چا اجر او پاداش چې لومړی راغلی وه لکه د هغه چا دئ چې اوښ يې د الله لپاره ذبح کړی وی، او ورپسې لکه دهغه چا چې غويي يې ذبح کړی وی،بيا لکه دهغه چا چې پسه يې ذبح کړی وی، بيا لکه دهغه چا چې چرګ يې ذبحه کړی وی او ورپسې کس لکه دهغه چا چې هګۍ يې صدقه کړې وی، خو کله چې امام خطبې ته پاسيږده او پرمنبر ودريږده ملائکې خپلو صفونوته راځي او کښيني او د امام خطبه اوري(هغه کس چې د امام له اودريدلو څخه وروسته راځي دهغه نوم نه ليکی او هغوی لپاره کوم خاص اجر نشته).

5- پر رسول الله-صلی الله عليه وسلم- ډېر **درود** ويل: د جمعې په ورځ ډېر ډېر درود ويل،

6- د **سورة الکهف** تلاوت کول، د جمعې لمانځه ته پلې( په پښو تلل) او داسې نور مستحبات شته چې په نورو ورځو کې هغومره ډېر ثواب نه لري او مستحب هم نه دي.

7- **نوې جامې اغوستل**

8- **مسواک وهل:** د جمعې ورځې مسنونو عملونو څخه يو مسواک وهل دي، لکه څنګه چې جمعې لمونځ د مسلمانانو اونيزه غنډه ګڼل کيږي او ګڼ شمېر خلک ورته حاضريږی نو لکه څنګه چې د جمعې ورځ خوشبويي وهل د دې لپاره مسنونه طريقه ده چې خلک اذيت نه شی نو همدارنګه مسواک هم يوه مسنونه طريقه ګڼل کيږي، ترڅو خلک د خپرو کولو او روغېړ پروخت اذيت نشی.

**ج- دجمعې لمانځه وجوب، وخت ، شرطونه او اوصاف يې**

1- د جمعې لمونځ پرمقيم فرض دی نه پر مسافر: د جمعې لمونځ يوازې پر مقيم باندې واجب او اړين دی،لکه څنګه چې مسافرو لپاره نور لمونځونه هم قصر شوي نو همدارنګه دجمعې لمونځ هم پرې واجب نه دی خو که يې ادا کولی وشو غوره ده. خو د هغه مقيم لپاره چې د سفر قصد او اراده لری مکروه ده چې د جمعې لمانځه ادا کولو څخه مخکې سفر وکړي، چې دا ټول د جمعې لمانځه په فضيلت او برکت باندې دلالت کوي[1].

2- **د جمعې لمانځه ادا کولو وخت:** د جمعې لمانځه ادا کولو وخت د لمر له زوال څخه شروع کيږي او د مازديګر لمانځه وخت دا خليدو سره ختم کيږي، کله چې امام د خطبې پرويلو بوخت

[1] - سورة الجمعة دراسة تحليلية موضوعية، ص۴۴.

وي خبرې کول حرام دي لکه څنګه چې په حديث کې راځي: عن ابی هريرة-رضی الله عنه-
قال: قال رسول الله- صلى الله عليه وسلم- «من توضأ فأحسن الوضوء ثم أتى الجمعة فدنا وأنصت واستمع غفر له ما بينه وبين الجمعة الأخرى و زيادة ثلاثة أيام ومن مس الحصى فقد لغى»[1].

ژباړه: له ابی هريرة-رضی الله عنه-څخه روايت دی چې رسول الله-صلى الله عليه وسلم- فرمايلی: چاچې اودس وکړ او خپل په اودس کې يې ښه کوښښ وکړ او بيا د جمعې لمانځه ته لاړه او امام ته ښه نږدې او خاموشه کښيناست او غوږ يې ونيوه، د دې جمعې لمانځه څخه تر راتلونکې جمعې لمانځه او درې ورځې نورو پورې ټولې ګناهونه يې ښنل کيږي، خو که چا تيږو ته لاس وواهه او ځان يې بوخت کړ، دجمعې ورځې فضيلت يې لغوه شو.

3- **دجمعې لمانځه شرطونه:** د جمعې لمانځه لپاره دوه ډوله شرطونه دي چې ځينې يې د لمانځه شرطونه او ځينې يې د جمعې لمانځه د صحت شرطونه دي.

- د لمانځه شرطونه: اسلام لرل، عقل لرل، بلوغ او ناريتوب.
- د جمعې لمانځه د صحت شرطونه: ۱- د وخت داخليدل ۲- او د خطبې مخکې کول پرلمانځه.

1- دجمعې لمانځه اوصاف:

د جمعې لمانځه له شروطو څخه خطبه ويل دی، نو اړينه ده چې امام دوه خطبې ووايي او دواړو خطبو ترمنځ کښېني او دا چې خطبه بايد د الحمد لله په ويلو پيل کړي، ځکه رسول الله- صلى الله عليه وسلم- به هيڅ وخت خپله خطبه پرته له الحمد لله څخه نه ده شروع کړې، همدارنګه پرنبی کريم- صلى الله عليه وسلم- درود و ويل شی[2].

همدارنګه په خطبه کې شهادتينو ويل اړين دی، ځکه د شهادتينو په ويلو سره د عقيدې يادونه او د توحيد تجديد کيږی نو بايد چې وويل شي.

